# هوریال

۱۴م کال، دویمه، پرلپسې ۱۳۸مه گڼه،
جمادي الثانية ۱۴۴۱هـ ق فبروري ۲۰۲۰م

## مونږ چې څه وکړل، دخپلې خاورې او خپلو خلکو لپاره مو وکړل

## پر اشرف غني ساختګي بريد !!

## دکب دلسمې یادښت !

## افغانستان کې به جګړه کله ختمیږي...!؟

## داشغال دخاتمې تاریخي ترڼون دافغان ملت ستره فتحه

## د کب لسمې

### ټول امت ته روحیه ورکړه

# مورچل

## علمي، سیاسي
## او جهادي میاشتنۍ خپرونه

څوارلسم کال دویمه، پرلپسې ۱۳۸مه ګڼه،
جمادی الثانیة ۱۴۴۱هق فروري ۲۰۲۰م

## لړلیک


| ګڼه | مطلب | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | سرمقاله | ۱ |
| ۲ | داسلامي امارت زعیم شیخ الحدیث مولوي هبة الله پیغام | ۲ |
| ۳ | د دعوت ارشاد کمیسیون اعلامیه | ۵ |
| ۴ | د کب د لسمه یادانیت ! | ۷ |
| ۵ | افغانستان کې به جګړه کله ختمیږي؟ | ۱۰ |
| ۶ | سولې ته د رسیدو په لار کې ! | ۱۳ |
| ۷ | د کب لسمې ټول امت ته روحیه ورکړه | ۱۵ |
| ۸ | د کب لسمه او راتلونکی افغانستان! | ۱۷ |
| ۹ | تر شپراتون سخته لاره | ۲۲ |
| ۱۰ | د دوحې تړون او دښه انجام لوی امیدونه | ۲۵ |
| ۱۱ | اشرف غني دې دبندیانو دبښې فرمان په جیب کې وساتي | ۲۹ |
| ۱۲ | د فتحې پرمهال دمجاهدینو مسئولیتونه! | ۲۹ |
| ۱۳ | پر اشرف غني ساختګي برید!! | ۳۵ |
| ۱۴ | د الله تعالی که دولس ملاتړ، څرنګه باید وویل شي! | ۳۶ |
| ۱۵ | له امریکایي اشغال وروسته دهیواد د سیاسي نظام استحکام | ۳۹ |
| ۱۶ | دکب لسمه زموږ یوه بله تاریخي ورځ | ۴۰ |
| ۱۷ | دکابل اداري سره به تعامل دعفوې وي که د انتقام | ۴۱ |
| ۱۹ | دحدیبې صلح، او د دوحې معاهده! | ۴۵ |
| ۲۰ | اخلاقي جوړښت دبري راز دی | ۴۸ |
| ۲۱ | د اشغال د خاتمې ستراتیژیک تړون | ۵۲ |
| ۲۲ | داشغال دخاتمې تاریخي تړون دافغان ملت فتحه | ۵۵ |
| ۲۳ | په جهاد کې زموږ اخلاق (دویمه برخه) | ۵۸ |
| ۲۴ | د اسلام غزوات او سرایا | ۶۱ |
| ۲۵ | جنګي جنایتونه (فروري) | ۶۱ |
| ۲۶ | دمورچل وړمې | ۶۶ |
| ۲۷ | د۲۰۲۰م کال د فروري میاشتې جهادي خبرونه | ۶۸ |



**د امتیاز خاوند**

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

**مسؤل مدیر**

صلاح الدین "صارم"

**کتنپلاوی**

ایوب صافی | حکمت
معین احمد | حافظ سعید
حسن زوی | موسی فرهاد

**تخنیکي چارې**

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

**مکاتباتي ادرس**



پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحيم

# مونږ چې څه وکړل

## دخپلې خاورې او خپلو خلکو لپاره مو وکړل!

دروانې (حوت) دمیاشتې په لسمه نېټه دقطر په پلازمېنه (دَوحه) کې دافغانستان داسلامي امارت او امریکا ترمنځ د موافقتنامې لاسلیک لکه څنګه چې ټولو نړیوالو په واضح ډول وویل دنړۍ په تاریخ کې بې ساري تعامل و، په حقیقت کې له اشغال نه دافغانستان آزادي اوخپلواکي ده چې د تېرو نږدې دوو لسیزو په موده کې مودسختو کړاوونو له ګاللو وروسته ترلاسه کړه .

په افغانستان کې دناټو او امریکایي اشغال پـه وړانـدې دخپلـو قربـانیو او کړاوونـو بدلـه یـواځې او یواځې له الله تعالی څخه غواړو له شک پرته چې هغه ښه بدله ورکوونکی دی، په هیڅ افغان یې احسان نه بارووِ، که دنن ځینې افغانان راسره په مخالفت کې دي او دګټلې خپلواکۍ افغـاني ملکیـت نـه شي درک کولای، سبابه یې سرخلاص شي اوخپله پښېمانتیابه ښکاره کړي .

سبا به مونږ نه یو خو زمونږ راتلونکي نسلونه بـه دیـوه خپلـواک او آزاد افغانسـتان پـه آزاده اسـلامي فضاکې دپرمختګ په لوري ګامونه اخلي او افغانان به دیوه هوساژوند څښتنان وي .

د دین اودهیواد دعلیا مصالحو لپاره مو په وسیع فکر بعیدې ګټې او راتلـونکې ښـېګڼې پـه نظرکـې ونیولې اودهغو دیقیني کولو لپاره مو ډېر څه ومنل، نن چـې کومـه بریـا اوخپلـواکي لاسـته راغلـې او ورځ تربلې لا ورنږدې کیږي ، نسبت یې هم یواځې ځانته نه کوو، بلکې هغوقربانیو، ایثار او کړاوونو ته پـه پـام چې ولس راسره وګاللې دانسبت نن هغوی ته کیږي اود یویشتمې پېړۍ له اسـتعمارګرو (نـاټو او امریکـا) څخه دهیواد استقلال او خپلواکي نن افغان مجاهد ولس اخیستې.

هو! خو دغه ولس په افغانستان کې له اسلامي نظام پرته په بل هـیڅ اسـاس راضي نـه دي، دهمـدې هدف لپاره یې دومره سترې قربانۍ ومنلې، که د دومره سترې آزموینې وروسته بیاهم څوک په دې ملـت له اسلام پرته د بل نظام دتپلو کوښښ کوي؛ نو د یوې ناکامې تجربې له تکرار پرته به بل څه نه وي .

دمتحده ایالاتو سره داشغال دخاتمې دتوافق په اړه دافغانستان اسلامي امارت دزعیم امیرالمؤمنین

# شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده (حفظه الله) پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم

اللَّهُ أَكْبَرُ كَبِيراً وَالْحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيراً وَسُبْحَانَ اللَّهِ بُكْرَةً وَأَصِيلاً.

الحمد لله الذي صدق وعده ونصر عبده و اعز جنده وهزم الأحزاب وحده والصلوة والسلام على من لانبي بعده وعلى اله واصحابه الذين نشروا دينه، امابعد:

د ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر په ۷ مه نیټه چي زموږ په خاوره د امریکا په مشرۍ ائتلاف تجاوز کړی وو، اسلامي امارت د الله تعالی په نصرت، د افغان میړني ولس په استازولۍ په دې وتوانید چې له شا او خوا نولسو کلونو جهاد او مبارزې وروسته بالآخره د افغانستان څخه داشغال د خاتمې لپاره توافق ته ورسیږي.

دا بریا د ټول مسلمان او مجاهد ولس، وروڼو او خویندو مشترکه بریا ده چې نیږدې دوه لسیزې یې په سر او مال خورا درنې او تاریخي قربانۍ ورکړې دي.

له افغانستان څخه د ټولو بهرنیو ځواکونو د بشپړ وتلو او په راتلونکي کې د هیڅ ډول مداخلې د نه کولو توافق یوه لویه بریا ده.

اسلامي امارت د دغې سترې کامیابۍ په مناسبت د ولس بیلابیلو اقشارو، په خاص ډول مجاهدینو، د شهیدانو کورنیو، زندانیانو، ټپیانو، معیوبینو، مهاجرینو او ټول ولس ته د زړه له کومې مبارکي وایي او دا خورا لویه فتحه د الله تعالی د نصرت او د مجاهدینو د سرښندنو، د خپل ملت د اخلاص، هلو ځلو، ستړیاوو او قربانیو نتیجه بولي.

غواړم د دغې ستړې بريا څخه د را وروسته حالاتو په اړه د مجاهدينو او ټول ملت توجه لانـدې ټکـو ته راواړوم:

ـ له امريکا يې جهت سره د اشغال د پای ته رسيدو په سر توافق چې په نتيجه کې يې زمونږ ولس له اشغال څخه نجات پيدا کوي، خورا مهمه بريا او د الله تعالی څانګړی احسان، نصرت او لـوی انعـام دی، مونږ بايد دا کاميابي د چا کمال ونه بولو بلکې د الله تعالي انعام او د ټول مجاهد ولس د قربانيو محصـول يې وګڼو.

ـ د اسلامي امارت لخوا له امريکايي جهت سره شوي توافقات چې د شرعي اصولو په پام کـې نيولـو سره ترسره شوي او د نړيوالو معيارونو سره هم برابر دي، د ټولو مجاهـدينو او افغـان ولـس لخـوا عهـد او وعده شوه چې په ټولو باندې يې عملي کول لازم دي، د اسلامي امارت هيڅ يو مسئول او فرد او په مجموع کې هيڅ هيوادوال بايد د دغو توافقاتو نقض ونه کړي او په دې اړه ټول څانونه مکلف وبولي، څکه په اسلام کې غدر او فريب څای نه لري او لويه ګنـاه بلـل کيـږي، البتـه کـه د مقابـل لـوري لـه خـوا د توافقنـامې مخالفت او نقض وشي نو ټول ولس به بيا هم د تير په څير کلکې دفاع ته آماده وي.

ـ د افغانستان مسلمان ملت خصوصا مجاهدين به د تر لاسه شوو برياوو په اړه د الله تعالی شکر ادا کوي، څانونه به لا ډيرې تقوا، امانتداری او ديانت ته متعهد بولي، له تکبر، غرور، په نورو څان برتره ګڼلو او څان مستحق يا ممتاز بللو څخه به په کلکه څان ساتي، څکه دا د جهاد او فتحې لـه روح سره پـه تضـاد کې دي.

ـ له امريکايي جهت سره بريالیو مذاکراتو ثابته کړه چې هر وړ پيچلو موضوعاتو ته حل لاره مونـدل کيدای شي، د دې مذاکراتو بريا د اسلامي امارت له اړخه ټولو داخلي اړخونو ته دا پيغام ليږدوي چې مونږ د يوه معقول او عادلانه حل لپاره چمتو يو، را څئ د خپل ولس د ديني او ملي معيارونو په رڼا کې د مسائلو د حل لپاره تلاش وکړو، د کابل اداره دې هم د ولس له مخالفته لاس واخلي.

ـ اسلامي امارت د ټولې نړۍ او په تيره بيا د سيمې له هيوادونو سره په دوه اړخيـزو مثبتـو اړيکـو باور لري او له ګاونډيانو سره د ښه ګاونډيتوب اصولو ته ژمن دی.

ـ مونږ خپل ځوريدلي ولس ته ډاډ ورکوو چې د عادلانه او واقعي اسلامي نظام په سيوري کـې بـه د هيواد ټولو نارينه او ښځينه وو ته د هغوی حقه حقوق ورکول کيږي.

ـــ د اسلامي امارت په مخالفت کې چې چا برخه اخيستې وي او په عموم کې هرهغه ځوک چې د اسلامي امارت ځخه تشويش لري، زمونږ له طرفه په تيرو ټولو اعمالو ورته عفوه او بخښش دی، د راتلونکي لپاره ورته د اسلامي اخوت، ملي وحدت او سه ژوند غوښتنکي يو.

ـــ اسلامي امارت به د معياري (ديني او عصري) تعليم، کار، تجارت، ترقي ، آبادی او په ټولو اجتماعي برخو کې د پرمختګ زمينه سازي کوي، ځکه دا د افغانانو بنيادي حق او زمونږ د هيواد د پرمختګ او د ولس د ښيرازي او هوسايي لپاره حياتي او لازمي اړتيا ده.

ـــ د اسلامي امارت مجاهدين دي خپل صفونه نور هم منظم، فعال او پياوړي کړي ترڅو خپل لوی هدف ته چې د اشغال د بشپړې خاتمې وروسته د اسلامي نظام قيام او د ولس سوکالي ده ورسيږي او په راتلونکي کې د هر ډول بدو پېښو مخنيوی، د اسلامي نظام حفاظت او د سرتاسري سولې او امن د ټينګښدو په لاره کې له احتمالي خطرونو سره مقابلې او د ولس خدمت ته چمتو وي.

ـــ اسلامي امارت د مؤمن ولس له بيلابيلو اقشارو علماء کرامو، قومي مخورو، منورينو، پوهانو، استادانو، شاګردانو او عام ولس ځخه غوښتنه کوي، لکه څنګه چې د اشغال د خاتمې په کار کې په پوره اخلاص د خپلو مجاهدينو وروڼو سره ودريدل، دغه راز د داخلي موضوعاتو د حل په برخه کې هم خپل اتحاد او همکاري جاري وساتي تر څو دغه پراو هم د بريا منزل ته ورسيږي او افغانستان له عادلانه اسلامي نظام او سولې ځخه برخمن شي.

ـــ په اخر کې د قطر هيواد او د هغه له محترم امير شيخ تميم بن حمد آل ثاني ځخه مننه کوم چې د مذاکراتو لپاره يې سهولتونه برابر کړي او په اخلاص سره يې له دې پروسې سره مرسته کړې ده. همدارنګه، د پاکستان، ازبکستان، چين، ايران، روسې، اندونيزيا، ترکمنستان، کرغيزستان، عربي متحده امارات او نورو ټولو هيوادونو ځخه چې د مذاکراتو په بهير کې يې مرسته کړې مننه کوم او کور ودانۍ ورته وايم.

والسلام

د افغانستان اسلامي امارت زعيم

اميرالمؤمنين شيخ الحديث مولوي هبة الله اخند زاده

۱۴۴۱/۷/۵هـ ق ـــ ۱۳۹۸/۱۲/۱۰هـ ش ـــ 29/2/2020م

لا إله إلا الله محمد رسول الله

# د افغانستان اسلامی امارت
# د دعوت و ارشاد جلب، جذب کمیسون اعلامیه

بسم الله الرحمن الرحیم

قال الله تعالی: ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ...﴾ و قال تعالی: ﴿وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾ وقال تعالی: ﴿وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ﴾

ترهرڅه وړاندې تولو ځوريدلو هيوادوالو ته د اشغال د خاتمې د تاريخي ټرون مبارکې وړاندې کوو.

الله تعالی دې وکړي چې د دغه ويارلي تاريخي ټرون راتلونکي پراؤونه په خير سره انجام او په پايله کې يې د يو خپلواک، غښتلي اسلامي نظام په نفاذ سره د افغان ولس ارمانونه په ريښتيني توګه پوره شي، او نور مو ګران هيواد له دې دردوونکې اوږدې غميزې د نجات لاره وموميِ.

د افغانستان د اسلامي امارت په استاځيتوب د دعوت او ارشاد کميسون مسئولين غواړي، چې د دې لپاره وسيله، تولو هغو مخالفينو ته چې تراوسه يې متاسفانه د اشغال په تداووم کې د اشغالګرو دفاع ته ملاتړلې وه؛ يوځل بيا د ښه نيت او خواخوږۍ پيغام ورسوي. اميد دی چې د زړونو مالک الله جل جلاله به همدا ليک د شرح الصدر وسيله وګرځوي ـــــ!

تاسو ته بهتره معلومه ده چې د افغانستان دا اوږده ځلوبښت کلنه غميزه، له کومې نقطې، په څنګه شکل، د کومو بهرنيو او کورنيو دښمنانو لخوا راپيل شوه، او په څنګه ښه يې تر ننه پورې را وغځوله او لا هم لګيا دي چې نوره يې هم اوږده کړي.

خو زمونږ او ستاسو مسلمان ملت د خپلو نيکو مشرانو په قومنده لومړی د شوروي برغلګرو او د هغوی د لاسپوڅي کمونيستي رژيم په وړاندې په دې خاطر د قربانۍ ميدان ته په تش لاس را ودانګل چې خپل دين، خپل ناموس او خپل هيواد له تيري کوونکي دښمنه وژغوري.

په دې لاره کې زمونږ او ستاسو مسلمان ملت ډېرې سترې وګالې ترڅو دا سپيڅلی ارمان يې ترسره شي، مګر متاسفانه چې له فتحې او آزادۍ ترلاسه کولو وروسته، بيا هم د مؤمن ولس دا ارمان پوره نشو چې پخپل هيواد کې يې د يو خپلواک، مستحکم اسلامي نظام نعمت په برخه شي.

بلکې مجاهدين پخپلو کې سره لاس او ګريوان شول، آنارشيزم چې يوه لويه فتنه ده؛ رامنځ ته شو، د ګټلې جهاد هغه اصلي هدف چې اعلاء کلمة الله وه؛ له منځه ولاړ، د ميليونونو افغانانو شهادتونه، زخمونه، مهاجرتونه او نورې بې شمېره قربانۍ بې ثمره پاتې شوې، د هغو ناخوالو په مقابل کې د طالبانو اسلامي تحريک د عام ولس په غوښتنه راپاڅيد ترڅو د روان انارشيزم، ملوک الطوايفي، ظلم او ګډوډي مخه ونيسي، او پرځای يې يو واحد اسلامي حکومت قايم کړي.

مګر متاسفانه چې زمونږ د دين او وطن دښمنانو بيا هم پر افغانستان دا د امن ځادر ونه لوريده او ډېر وخت يې ورنکړ.

په ۲۰۰۱ کې د امریکا په مشرۍ د نړۍ زبرځواک (ناټو) یرغل وکړ، زمونږ خاوره یې اشغال کړه، مونږ یې پخپل کور کې محکوم او مغلوب کړو، زمونږ د ځمکې او فضا واک یې په لاس کې واخیست، په لسګونه زره بیوزله افغانان یې شهیدان، ژوبل او په زرګونو نور یې په ګوانتنامو، بګرام او نورو پټو او ښکاره زندانونو کې واچول، او له هغوی سره یې داسې ناوړه چلند وکړ چې بشریت نړۍ شرمیږي.

له دې نه علاوه، زمونږ په خاوره کې یې د خپلو نړیوالو نقشو د پلي کولو په مقصد لوی لوی هوایي ډګرونه او پوځي اډې جوړې کړې، زمونږ د سرلوړي، عزتمند او مجاهد ولس د تذلیل لپاره یې زمونږ له ټولنې تښتیدلي ځینې وګړي را وستل او دلته یې واکمن کړل. کټ مټ لکه د وخت شوروي یرغلګرو چې خپل لاسپوڅي کمونستان دلته مسلط کړل.

یو لاسپوڅی نظام یې پر افغانانو په ویښ زور تپلی چې په لاقانونیت، ګډوډي او فساد کې په نړیواله کچه فاسد ترین، د بشري حقونو ناقض، د ځمکو غاصب، د مخدره موادو په قاچاق کې ککړ او د خپل ملت لومړی نمبر قاتل رژیم بلل کیږي.

خو اوس چې الحمدلله، پس له دوه لسیزو بهرني تیري کوونکو هم حقایق درک کړل، او دې ته یې غاړه کیښوده چې د یو تفاهم له لارې زمونږ هیواد ترک کړي، او خپلې قواوې وباسي؛ نو دا د افغان ولس لپاره یو ستر زیری دی---! نو په دې اړه مختصرًا پیغام دا دی چې: پورتنیو واقعیتونو ته په کتو سره دا د هر هغه افغان چې تراوسه د اشغالګرو په ځنګ کې ولاړ و؛ دا یې ایماني، شرعي، ملي، فطري او بشري مکلفیت جوړیږي چې نور نو د اشغال د خاتمې له دې تاریخي ټرون نه وروسته، باید د ولس په وړاندې له مقاومتـه لاس واخلي، او پرځای یې د خپل هیواد په ننګه ودریږو.

تاسو ته معلومه ده چې اسلامي امارت د هیواد د بشپړې آزادۍ لپاره تنها پر جګړه ټینګار نلري بلکې د تفاهم په برخه کې یې هم نړۍ ته وښودله چې مونږ تفاهم ته ترجیح ورکوو خو جګړه پر مونږ تپل شوې، جګړه زمونږ د خوښي نه، بلکې د مجبوریت انتخاب و. نو په دغسې یو حالت کې افغانستان د ټولو بادرده افغانانو اتحاد او اتفاق ته اړتیا لري، دا یووالی مو هم الهي مسئولیت دی او هم ملي. دا یو حقیقت دی، چې هیڅکله یې باید صرف نظر نکړو، که چیرې اوس هم دا درک ونلرو نو افغانستان او افغانان به ټول یو وخت د دې اور خوراک ګرځي.

په همدې خاطر د دعوت او ارشاد اداره د افغانستان د اسلامي امارت په استاځیتوب، پر ټولو مخالفینو باندې غږ کوي چې د أمیرالمؤمنین شیخ هبة الله حفظه الله د عمومي عفوې له فرمان نه په استفادې، نور له بې ګټې مخالفته لاس پرسر شي.

او د یو خپلواک اسلامي نظام ترسیوري لاندې د افغان ولس د خپلواکۍ او سولې پیغام ته لبیک ووایی. پرته له دې مونږ او تاسو ټول افغانان بل هیڅ انتخاب او لاره نلرو.

الله تعالی دې وکړي چې مونږ تاسو ته خپل درد او پیغام رسولی وي، ترڅو په آخرت کې د یوبل د حقوقو د نه مراعات کولو له امله د عذاب او عقوبت سره مخ نه شو. « وما علینا الا البلاغ، حسبنا الله ونعم الوکیل نعم المولی ونعم النصیر »

**د افغانستان اسلامي امارت د دعوت و ارشاد، جلب و جذب کمیسون**

**حوت/ ، ۱۳۹۸هـ ل**

# دکب د لسمې یادانښت !

بشیر ارمان

دروان ۱۳۹۸ ل کال دکب میاشتې په ۱۰مه چې د۲۰۲۰ز دفبروري ۲۹ مې اود۱۴۴۱ هق رجب المرجب ۴مې نیټې سره سمون خورې دنړۍ په تاریخ کې دافغانستان اوافغانانو دریمه لویه ویاړنه او کارنامه ثبت شوه.

یادې نیټې له راتګ وړاندې په کورنیواو نړیوالو رسنیوکې په دې اړه په ښه زوراوشورسره بحثونه، شننې اوتبصرې روانې وې، چاپې رسنیو کې هم په دې اړه مضامین،مقالې او تبصرې چاپیدې او دلیکوالو او مبصرینو لخوا یې په باب د مختلفو زوایونه تبصرې او وړاندوینې کېدې، له ځینو سره داباور هیڅ نه وو،چې اسلامي امارت دي دکړو ژمنو سره سم په دې وتوانیږي چې دیادې نیټې له راتلو وړاندې دي دبااعتماده چاپیریال برابرولوپه ترڅ کې « ټول هیواد کې اورکم پلي کړی شي»

لکن ډیر ژر د هغوی دغه ناباورې ناسمه او خطا ثابته شوه، نړیوالو او افغانانو جوته شوه چې د خوست،ننګرهار اوکندهارنه نیولې د هرات، مزاراوکندزپورې په ټول هیواد کې دتوپانچې ډزهم ونشو ،دافغانستان داسلامي امارت دحکم نه په دې ټوله امتحاني اوونۍ کې یوه وړه سرغړونه هم ثبت نشوه دنظامي چارو کمیسیون دهیواد په ۳۴ولایتونو او(۳۶۴ ) ولسوالیو کلیوکې پشپړ اورکم عملی کړ.

دافغانستان داسلامي امارت په دومره پراخ تسلط، عملي نفوذ اوبشپړ حاکمیت دوستان او دوښمنان دواړه حیران ګوته په غاښ پاته وو، هغوی په لومړي خل ومنله چې دامارت رهبري یاقیادت پخپلوجهادي اوسیاسي صفونواولیکو بشپړکنترول اوپوره واک لري .

ځومره چې دکب لسمه مه را نږدې کیده، ورسره دنړیوالو دحیرانتیاوو ترڅنګ په امارت دهغوی دباورسلنه هم ډیریده؛ ددزیاترو سیاسي کارپوهانو خیالي اندیښنې، بې بصیرته وړاندوینې اوخطا انګیرنې ناسمې خټې،خو بیا هم ددیرو مغرضو اشخاصو، شیطاني کړیو او دهوسونو مجنونانو پر افغان ولس ددغې سترې بریا لیدل پیرزو نه و، هغوی پخپل ټول وس هڅه وکړه څو افغانان له دغه تاریخي شیبو لیدلو محروم کړي.

خو داچې دافغان ولس دنیکمرغیو دډک سپین سبا راختل حتمي اویقیني وو،هیڅوک یې دراختوپه وړاندې مانع کیدای نشول، امریکا دخپل ټول معاصر ځواک کارولو باوجود جګړه بایللې وه، نوهغه وه چې دخپلو ځواکونو ویستلوته په غاړه ایښودو یې داسلامي امارت سره دیو هوکړه لیک امضاء کولو اراده څرګنده کړه ،

ددې لپاره کوربه هیواد قطر، دمراسمو جوړولوپه مقدماتي کارونو لاس پورې کړ، دکب په۲۷ مه نیټه دقطربهرنیوچارو وزارت لخوا دځینو بهرنیو هیوادونوخارجه وزیرانواواستازوته رسماً بلن لیکونه واستول شول، د اسلامي امارت دقطرسیاسي دفتر لخوا هم دنړۍ له مختلفو هبر خو څخه دیوشمیرمسؤلینو وربللو لپاره رابطې اوهڅې پیل شوې

دکب په ۸مه نیټه دقطر دولت لخوا دهغه هوټل په تجلیل اوښایسته کولو هم لاس پورې شو او انخورونه یې په رسنیوکې خپاره شول، په کوم کې چې دکب په۱۰مه له افغانستانه دبهرنیوخواکونو دوتلوپه اړه دهوکړه لیک لاسلیکیدومراسم جوړ شوي وو.

دکب په ۹مه نیټه دنړۍ دمختلفو هیوادونه دنړیوالورسنیو په لوی شمیر ژورنالستان اوسیاسي مبصرین هم دقطرپلازمینې (دوحې) ته ورسیدل، هغوی کې هریودا هڅه کوله څو ترټولو دمخه ځان ترشیراتې هوټل ورسوي اوله هغه خایه په ژوندۍ بڼه دراپورنشرولوکړیدت دځان کړي، دهغوی له ډلې یو دبې بې سې پښتوځانګې مشهورژورنالست دواود اعظمي هم وچاچې دکب ۹مې په مابنام له شیراټن هوټل نه په ژوندۍ بڼه درسنیو غړیده اوهلته یې د روان و ضعیت په اړه معلومات ورکول او هم یې په بڼه توګه دسبا ورځې لپاره په پام کې نیول شوي ترتیبات تشریح کړل، دنوموړي یوبله ځانګړتیا چې دغه مهال ولیدل شوه هغه په خبرو او توضیحاتوکې ترڅه بریده خپله بیطرفي ښودل اودحقایقو پټولو هڅه نه کول و،اولهجه یې هم په لومړي ځل مغرضانه اوکاواکه نه وه .

دکب د۹ مې په مابنام قطرکې میشت داسلامي امارت له دیپلوماتانو به هم کله نه کله یو نیم دشیراټن هوټل درنا ګانو په ځلاکې وخلید اوبیا ددې لپاره چې ژورنالستان یې ونه ځوروي دسترګوپه رپ کې دلیدونکو له سترګوپناه شو

په یوه لنډ ویډیو کلیپ کې مولوي عبد السلام حنفي اوانس حقاني دواړه دیوموټرنه دبنکته کیدواوشیراټن هوټل ته دننوتوپه حال کې ځرګند شول، له انس حقاني نه ژورنالستانو پوښتنې پیل کړې، یوژورنالیست ترې غالباً په اردو ژبه پوښتنه وکړه خو انس حقاني ورته ځواب په پښتو ورکړ!

یوه نیمګړتیا یا کمی چې د یادونې وړدی او ما درزګونه کیلومترلرې ځخه محسوس کړ داو چې د دغه شاندارې تاریخي ورځې مطبوعاتي او رسنیز کوریج لپاره پخپله د افغانستان اسلامي امارت فرهنګي چارو کمیسیون لخوا کومه تابیا ترسترګوکیده نه؛ او دلاسلیک مراسمو ترپایه کوم منظم ټیم دامارت دفرهنګي کمیسیون لخواونه لیدل شو! چې هغه ددغه تاریخي ورځې شاندارې سحنې دخپلې لارې په ژوندۍ بڼه نشرکړې وای، خو داچې دنه موجودیت علت اوسبب به یې څه و؟ ممکن ترقطرپورې دتګ راتګ کولو لپاره دویزو او پاسپورټونو مشکل به یې په وړاندې مانع شوي وي،کنه ضروروه چې داسلامي امارت د فرهنګي چارو کمیسیون د مستقیمو نشراتو او مراسمو دټولو سحنو دکوریج لپاره خپل یوفعال اومجهز ټیم له وړاندې نه هلته رسولی وای

خو بنا په هرصورت ډیره اتکا په خارجي مغرضو نشراتو وه، هغوی دخپلې خوښې برنامې اوسحنې نشرولې اوهغه چې د دوی پکې د زیان شایبه قدروه هغه یې سانسوراودنشرځخه راګرځوله.

د کب په لسمه رسنیو ولیکل چې یو شمیر هیوادو دبهرنیو چارو

وزیران (لکه ترکیه، اندونیزیا، پاکستان، ازبکستان، ناوري) دوحې ته رسیدلې او دخینو نوروهیوادونو لکه دامریکا دمتحده ایالاتو دبهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو اونور په لاردي، هم دا راز دروسیې لخوا دافغانستان لپاره خاص استازی ضمیر کابلوف دوحې ته رسیدلی، پرهغه سربیره دبرتانیې، جرمنې، اودافغانستان لپاره دناټواستازی اودملګرو ملتونو استازي هم دوحې ته رسیدلي وو چې په دې موګه ټول د ۲۶ شاوخواکې دبهرنیو چارو وزیرانو اودمستقلوسازمانونو استازوته په مراسموکې دګډون لپاره بلنې ورکړل شوې وې، دافغانستان اسلامي امارت په استازیتوب شاوخوا پنځوسو تنو دګډون لپاره چمتوالی نیولی و، دامریکا له لوري هم یولوی شمیراستازي راغلي وو او دټولو ګډون کوونکو میلمنو شمیر له۲۰۰ ډیر اټکل کیده

تر دغو شیبو لا هم دا معلومه نه وه چې دامریکا متحده ایالاتو په استازیتوب به هوکړه لیک څوک لاسلیکوي؟ خینو رسنیو دامریکا دبهرنیو چارو وزیرمایک پمپو یاداوه، چې هغه به یې لاسلیکوي اوخینو نورو بیادزلي خلیل زاد نوم اخیسته؛ د اسلامي امارت په استازیتوب هم ددوه تنو نومونه رسنیو یادول لومړی نوم داسلامي امارت دمرستیال ملا عبد الغني برادر اخند چې هغه به یې پخپله لاسلیکوي او ترڅنګ یې د شیرمحمد عباس ستانکزي نوم یادیده چې ممکن هغه به یې لاسلیک کړي، لږ وخت وروسته دامریکا د ولسمشر- ټرمپ له خولې خبرخپورشو چې هغه دامریکا دبهرنیو چارو وزیرته حکم کړی دی چې په دوحه کې دي دامریکا او طالبانو ترمنځ دهوکړه لاسلیکولو په غونډه کې ګډون کولو ته ورشي.

ماسپښین وروسته دطالبانو استازي په اجتماعي او ډلیزشکل دغونډې دتالار په لور په داسې حال کې روان شول چې خینویې له خانو سره په لاسونوکې دامارت سپین بیرغونه نیولي وو، له روانیدووړاندې شیرمحمد عباس ستانکزي لنډې خبرې وکړې اوداوخ یې تاریخي بریاووبلله ورپسې درهبري شوري غړي مولوي امیرخان متقي وویل: ورونو! څوک دي په فیسبوک اورسنیوکې چاته پیغورونه نه ورکوي افغانستان دټولو ګډ افغانستان دی اسلام دټولو شریک دین دی باید یوبل ته دوروری. لاسونه ورکړو بیا ملاعبد الغني برادر اخند شیخ سید رسول حلیم ته د دعاکولو ووېل، دشیخ صیب له لورې ددعاء وروسته ټول په ګډه دغونډې دتالار په خوا روان شول.

هلته په رسیدو هر سړی پخپله معلومه څوکی کیناسته، انتظار کیده چې دامریکا دبهرنیو چارو وزیر اودطالبانو مرستیال ملا عبد الغني برادارکله دغونډې تالارته ور رسي؟ په دې څندکې دنن ټکي اسیا مسؤل بشاغلي فدا صیب په ژوندۍ بڼه دامارت له خینو استازو څخه دهغوی داحساساتو اوجذباتو په اړه پوښتنې کولې او په نړۍ کې افغانان دهغوی له احساساتوڅخه پهڅوندۍ بڼه خبرول لږه شیبه پس مراسم پیل شول، دریڅوال یا انانسرپورته شو دحمد وصلاة وروسته یې د قطر د بهرنیو چارو وزیر محمد بن عبد الرحمان بن جاسم آل ثاني ته بلنه ورکړه، هغه پخپله ویناکې دا غونډه تاریخي وبلله او په افغانستان کې دامن راتلو پر لوریې یومهم ګام یاد کړ ورپسې دامریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو ته بلنه ورکړل شوه، هغه هم پخپله ویناکې داغونډه تاریخي او مهمه وبلله هغه داورکم اوونۍ ته په اشاره وویل طالبانو ثابته کړه چې دوی ربنتیا هم وضعیت کنترولولی شي.

# افغانستان کې به جګړه کله ختمیږي...!؟

لیکنه: موسی فرهاد

د دوحې له تړون سره هم مهاله په افغانستان کې د اورکم اونۍ هم پای ته ورسیده او طالبانو یوځل بیا خپل بریدونه له سره پیل کړل. په یو شمېر ولایاتو کې یې د دولتي ځواکونو پر مراکزو حملې وکړې.

له دې سره د کابل حکومت ځینو لوړ پورو چارواکو او پرسوشل میډیا د ډوی د پلویانو لخوا اعتراضونه شروع شول چې اوس نو د جهاد لپاره کومه توجیه نسته، باید چې طالبان له جګړې لاس ونیسي.

ظاهراً دا خبره سمه ښکاري چې ګویا بهرنیان خو هسې هم د معاهدې له مخې نور دا وطن پرېږدي؛ نو افغانان له افغانانو سره، چې دواړه لوري مسلمانان دي؛ ولې له یو وبل سره جنګیږي؟ د دې لپاره خو به اسلامي امارت، چې یو سوچه دیني قشر دی او رهبري یې هم د هیواد دجیدو دیني علماؤ په لاس کې ده؛ قضا او افتا یې هم مکمله د قرآن اوسنت له مخې وي؛ هغوی به یقیناً چې مکمله شرعي تګلاره اوشرعي توجیه ورته لري، ځکه چې د اسلامي امارت عملي او فکري سیاست ټول د ديني آساساتو پر بنا دی، هیڅکله یې داسې اقدام نه کړی اونه به یې وکړي چې شرعي اړخ یې ناقص وي. دا خو بیله مسئله شوه.

مګر زه غواړم چې په دې لنډکۍ مقاله کې د خپل اند له مخې ځو وجوهات په ګوته کړم چې د دې جګړې د دوام لامل ګڼل کیدای شي، او د حل لاره یې هم له خپله انده وړاندې کوم.

## د جګړې لامل:

--- لومړی، تر ۲۰۰۱م کال وړاندې د طالبانو جهاد د شروفساد، انارشیزم، هرج ومرج، ملوک الطوایفي او ګډوډي پرضد پیل شوی و، چې فتوا یې متفقه د علماؤ لخوا ورکول شوي وه. خو تر ۲۰۰۱ کال وروسته د بهرنیو کفارو د یرغل له امله د دې جهاد شرعي صبغه نوره هم غښتلې شوه او حتی د فرض عین درجې ته ورسید.

خو دلته یو ضعیف دلیل د کورنیو همکارانو په اړه موجود و چې ګویا دوی پخپله خوښه نه، بلکې د مجبوریت له مخې د کفارو مرستې ته اړکېل شوي، مګر کله چې د اشرفغني په مشرۍ په ۲۰۱۴ کال کې د

امنيتي تړون کوم سند له امريکا او ناټو سره لاسليک شو، دلته نو د علماؤ په قول د جهاد په حکم کې کورنيو او بهرنيو عسکرو بلکل يو شان حکم پيدا کړ. هيڅ چا په کې شک او تردد نه درلود.

دا چې اوس بهرنيانو له طالبانو سره ومنله چې په يوکال دننه کې به وزي؛ خو کورني عسکر او د هغوی مشران ټينګار کوي، چې د امريکا او ناټو همغه شوی تړون اوس هم پرځای پاتې دی، حتی چې په قطر کې د معاهدې د لاسليک پرمهال د ناټو مشر او د امريکا دفاع وزير کابل ته راغلل، د کابل حکومت اعلان وکړ چې له موږ سره يې کړې ژمنه تازه کړه. چې ګواکې کورنی حکومت به مکمل د بهرنيو پرغلګرو په همغږي کې پاتې وي، هغوی به ورته تسليحاتي او مالي مرستې ورکوي، دوی به يې هغه ورکړل شوې برنامې په افغانستان کې عملي کوي، او د طالبانو په وړاندې به جګيږي.

نو دا ډول اعلان بيرته د حکومتي چارواکو هغه ادعا باطلوي چې وايي نور د دوی په وړاندې د جهاد لپاره توجيه نشته، بلکې طبعي خبره ده چې په مقابل کې به يې د جهاد همغه مخکنی حکم ژوندی پاتې وي.

ګورئ کـه لـه يـوې خـوا بهرنيـان لـه طالبـانو سره د افغانسـتان پريښودلو تړون امضا کوي، خو له بلې خوا د کابل حکومت اعلان کوي چې له طالبانو سره په دې شرط خبرو تـه تيـار دی چې د ارګ شرايـط ومني او اتلس کلنو لاس ته راوړنې تسليم کړي. مطلب دا چې اشـغالګر که څه هم تلې وي، خو برنامه به يې بيا هم طالبان په پټو سترګو مني، له هغه وروسته به ارګ ورسره خبرې کوي.

چارواکي دې ته تيار نه دي چې د افغانـانو پـه حيثيـت لـه نـورو افغانانو سره يوځای له طالبانو سره خبرو ته کښيني، دې ته حاضر نـه دی چې د طالبانو اسيران لـه زندانـه پريـږدي، دې تـه حـاضر نـه دی چـې د امريکايي اشغال په سيوري کې جوړ سوی نامشروع قانون دې تبديل شي، دې ته اماده نه دی چې د بهرنيانو لخوا را وړل شـوی بربنـد غـربي کلچـر (چې دوی يې د ارزښتونو او ۱۸ کلن دست اورد په نامه يادوي؛) هغـه تـه تغيـر ورکـړل شي، دې تـه جـوړ نـه دی، چـې د خـودسره قطعـاتو ( ۰۱۰۲۰۳۰۴) قومنـده بيـا هـم د سي آی اې له مستقيمې قومندانۍ رابښلـه شي، ځکه چې بيـا يـې تسـليحاتي او مـالي اکمالات قطع کيږي، او داسي نور ډېر موارد....

نـو کلـه چـې د کابـل اداره د دوحې له تړون وروسته بيا هـم ځـان هيڅکله له اشغالګرو څخه جـدا نـه ګڼي؛ علی الاعلان برائت نه ورڅخـه اعلانوي، خپل سيستم او خپل عسکر په کامله توګـه پـه افغـان ټولنـه کـې منحل کول نه غواړي، لـه اشـغالګرو سره بيا هم پـه هـره برخـه کـې ځـان ترلی ګڼي، (حتی دا وړمـه ورځ چې ځينو سيمو کې د طالبـانو د بريـدونو راپورونه ورکول شول، په کابـل کـې جنرال سـکاټ ميلـر وويـل چې کـه طالبانو بريدونه ونه دروي مـوږ بـه د افغان ځواکونو ترڅنـګ ولاړ يـو او بمبارونه به مو ادامه پيـدا کـوي.) نـو په داسي ضـدونقيض موقـف خپلولـو سره د کابل چارواکي پخپله هغه ادعا باطله ګرځوي چې وايـي اوس د دوی پرضد جهاد شرعي دليل نلري.

### حـلـاره

خو که چيري داسي وشي، چې د کابـل حکومـت چـارواکي لـږ سنجيده فکر وکړي، او د سولې لپاره

دا رامنځ ته شوی فرصت ضایع نکړي، بلکي له امریکا او ناټو سره شوی ترون له خپله طرفه لغوه اعلان کړی، افغان ځواکونـو تـه د افغانـانو پـه وړاندي د جګړې نه کولو امر وکړي، زرګونه بندیان چې بهرنیان بـه یـې هسې هم آزادوي؛ دوی یې له خپله طرفه د ښه نیت له مخـې آزاد کـړي، د ملي امنیت په چوکاټ کې د سي آی ایې لخوا د کنټرولیدونکو ملیشـه یـی قطعاتو (صفر 1،2،3، پلان او پلان... د دې ټولو) کنیکشن لـه بهرنیانو را پرې کړي، موجوده سیستم پرخپل ځای، خو چارواکي لـه خـپلې ځـوکې ځخه د لرې کیدلو هوډ ځرګند کړي، او د ټولو افغان جهتونو پـه ګـډون په مخلصانه ډول، پرته له قیـد وشرط لـه طالبـانو سره هـر اړخیـزې مـلي مصالحې ته غاړه کیږدي؛ د دې سل سلنه ناکام جمهوری سیستم پرځای پر یو خپلواک اسلامي نظام راضي شي؛ زه باور لرم چې په همغه شیبه به پـه افغانستان کې د جګړې اور مړ شي او بیا به طالبان هیڅکلـه زړه ښـه نـه کړي چې پر افغان عسکر ډز وکړي. او نه به یې بیا ځوک دا کار توجیـه کړي او نه به یې ملاتړ وکړي.

او دا هیڅ ګران کار نه دی چې د کابل چـارواکي دي شي تـه غـاړه کیږدي، ځکه چې د موجوده رژیم چارواکو کې هم ډېـر محـدود شـمیر خلک دي، چې د افغانستان د مکملې خپلواکۍ د ترلاسه کولو، د جګړې د پای ته رسولو، د سولې او ثبات د تلپاتې راتګ په لاره کې دي خند وي؛ نو هغوی باید پوه شي چې دا د ټول ولس ارمان دی، نه باید چې یـوه وړه ډله یې په وړاندي خند وګرځي.

ځکه افغانستان اوس په داسې یوه تاریخي شیبه کې قرار لري چې د طالبانو په رهبرۍ افغان ولس په ډېر معجزانـه ډول، پـه انتهـایی شـدیدو قربانیو د نړۍ له زبرځواک امریکا او ۴۸ نظامي ائتلافیـانو نـه د مکمـلې خپلواکۍ اخیستلو په درشل کې دی. او د یو همه شـمولـه جـامع اسـلامي نظام د انتظار شیبې شمیري.

نـو زه فکـر نـه کـوم چـې د موجوده رژیم چارواکو ته دې شـونې وي چې له همـدې ناسـم موقـف سره سره دې د ټـول ملـت د ارمـان پـه وړاندي ودریږي.

دغـه چـارواکي کـه څـه هـم ظـاهراً د جمهوریـت، دمکراسـۍ او ۱۸کلنو لاس ته راوړنو د دفـاع خـبره کوي، خو حقیقـت دا دی، هغـه څـه چې دوی یې دفـاع کـوي؛ ترهـر چـا زیات نقصان همـدوی ورتـه رسـولی. جمهوریت که رښتیا همدغه شی وي؛ چـې پـه یـوه کابـل کـې دې دوه حکومتونه وي او یا یو حکومت خو دوه سره دې ولري؛ دا شی خو واقعاً یـوه منحوسـه پدیـده او بـد تـرین انارشیزم دی، نـه پـه نړۍ کـې کـوم بـازار لـري او نـه یـې افغـان ولس خریدار دی. بلکي دا ۱۸کالـه خـو د دمکراسۍ له همدغې بدې نسخې نـه دا ولس کړیږي. لنډه دا چې جګړه به هله ختمیږي چې د موجوده رژیـم چارواکي له خپل ضدي دریځه تیر او پریږ خپلواک سپیڅلي اسـلامي نظـام باور ځرګند کړي.

پای...!

# سولې ته د رسیدو په لارکې !

عبدالرحیم ( ثاقب)
لیکوال او سیاسي شنونکی

د افغانستان د ځلویښت کلنې لانجې اساسي لامل بهرني مداخله ده چې افغان ولس یې له سختو ستونزو سره مخ کړی دی.

سره له دې چې د دغې بهرنۍ مداخلې د ختمولو په پلمه دوه ځلې د نړیوالې ټولنې په تیره د ملګرو ملتونو لخوا هڅه شوی خو دا چې داهڅه له یوه صحیح مسار څخه نه وه پیل شوې د افغانستان لانجه یې نوره هم ستونزمنه کړه.

لومړی ځل په ۱۹۹۲م کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د خانګړي استازي بنان سیوان د سولې طرحه وه چې کابل ته د جهادي تنظیمونو په رسیدو سره ناکامه او افغانستان د کورنۍ جګړې ښکار شو.

دوهم ځل په ۲۰۰۱ م کې په بن کې د اخضر ابراهیمي په استازیتوب د ملګرو ملتونو له لورې د حامد کرزي په مشرۍ د لنډمهالې اداري ایجادول و چې افغانستان او افغانان یې تر کورنۍ جګړې هم له سختو ستونزو سره مخ او تر اوسه هم دا ستونزه دوام لري.

اوس چې له هغه وخته راهیسې ۱۹ کاله تیرشوي او په افغانستان کې د امنیت راوستلو په پلمه د امریکا او ناټو له ټول پوځي زور آزمایني سره امنیتي وضعیت تر بد بتر شوی ، د امریکایانو په اعتراف افغانستان د نړۍ په کچه د ترټولو نا امنه هیوادونو په کتار کې راځي باید نور د واقعیتونو په درک کولو سره داسې لارې چارې غوره شي چې نه نور زور کارونې ته

ضرورت پیدا شي او نه هم مزید د افغانانو ویني وبهول شي.

څه باید وشي؟

د اسلامي امارت او امریکایانو ترمنځ د لاسلیک شوې تفاهمنامې له مخې تر هرڅه وړاندې باید بهرنۍ مداخله د هغې په ټولو انواعو سره ختمه شي؛ ځکه مونږ مخکې وویل چې د افغانستان د لانجې اساسي لامل همدا بهرني مداخله ده چې څلویښت کاله وړاندې د شوروي په پوځي یرغل سره پیل او ناوړه اغیزې تر اوسه افغانان خوروي.

د امریکا اوناټو ټول ځواکونه باید له افغانستانه ووځي، افغانان پریښودل شي چې له هرډول بهرني وصایت پرته د خپل برخلیک او راتلونکي نظام په اړه تصمیم ونیسي.

د راتلونکي نظام نوعیت

داچې د افغانستان ولس ۹۹٫۷سلنه وګړي مسلمانان دي نو طبعا یې باید د واکمنۍ سیاسي نظام داسې نظام وي چې د هرافغان ټول فردي او ټولنیزحقوق ورکې خوندي وي، د نظام د نوعیت انتخاب یې هم د یوې خالصې افغاني اجماع په توافق ترسره شي.

د نړیوالو ډاډمن کول

کـه د بهرنیـانو لـه هـرډول وصایت (بالادستي) پرته افغانان پـه خپـل هیـواد کـې پـه یـوه خالصـه افغـاني روحیـه د یـوه اسـلامي نظـام پـه قـائمولو و توانیږي دلته به نور د جګړې او صف بنـدي هـرډول امکانـات لـه منځه ولاړشي، نه به بل چاتـه دا زمینـه مسـاعده کیـږي چـې افغانستان خاوره د بل چا خلاف وکاروي او نه به افغان لوري دیته مجبـوریږي چـې د خپـل منځـي سـیاسي سـیالیو د بریـالیتوب لپاره د کوم بهرني لوري حمایت تـر لاسـه او پـه دې سره بهـرني نفوذ ته زمینه مساعده شي.

# د کب لسمې ټول امت ته روحیه ورکړه

خالد افغان زوی

مسلمان امت د خپل تاریخ تر ټولو له سخت پراوه تیریږي. د استعماري دسیسو او مزدورو حاکمانو له سببه د نړۍ په لراوبر کې مسلمانان د مغلوبیت او محکومیت ژوند تیروي. د شام ولس د مظلومیت سمبول ګرځیدلی دی. د فلسطین د اشغال لپاره د سیسي په شان مزدور حاکمان له یهودو سره قراردادونو تړي. همدا راز په هند، برما او د نړۍ په هر ځای کې چې ټکه رالویږي نو د مسلمان په تندي لګیږي او د امت دردونه زیاتوي. مسلمانان د غم او ماتم خبرونه ډیر اوري او د بریا او خوښۍ خبر یې نه اوریدل کیږي.

د مظلومیت او درد و حزن په داسې تورتم کې له افغانستان څخه د اشغالګرو د وتلو فیصله او د کب په لسمه د اشغال د خاتمې د تړون امضاء کیدل د مسلمان امت لپاره یو داسې د خوښۍ زیری و چې ډیره موده یې نه و اوریدلی. دې زیري مظلومو مسلمانانو ته یو نوې روحیه او مورال ورکړ او د غم، درد او محکومیت په ځای یې د خوښۍ، بریا او فتح احساس ور تلقین کړ.

په هغه ورځ چې په قطر کې د اشغال د خاتمې تړون امضاء کیده، ما اجتماعي رسنۍ په خاص ډول ( ټویټر) ځاره او په دې هڅه کې وم چې د دې تړون په اړه د نړۍ د مسلمانانو نظر او غبرګون معلوم کړم. د اسلامي نړۍ یوه لویه کتله عربي دنیا ده، د تړون د امضاء په ورځ عربي ټویټر همدې موضوع په سر اخیستی و او له هرې خوا وربانديې تبصرې کیدلې.

عرب فعالینو د اشغال د خاتمې تړون د ټول مسلمان امت لپاره د سرلوړی او افتخار موضوع ګڼله. دوی افغان ولس د واقعي اسلام، شرف، عزت، استقلال او میرانې سمبول ګانه، چې په خپل نه تسلیمیدونکي خاصیت سره یې د امریکا په شان یو عالمګیر زبرځواک د غرور له مسند څخه را نسکور او د اشغالګرو قواوو د خروج خبره یې وربانديې ومنله. هغه ورځ عرب فعالینو پرلپسې د مرحوم ملا صاحب دا خبره نشروله چې په ۲۰۰۱ م کال کې یې د امریکایي یرغل د پیل په وخت ویلې و: لقد وعدنا الله بالنصر.. ووعدنا بوش بالهزیمة ... وسنرى أي الوعدين أصدق. . . موږ ته الله تعالی د بریا او بوش د شکست وعده راکړې، موږ به ووینو چې کومه وعده رښتینې ده.

عرب رسنيزو فعالينو د اسلامي امارت د مشرانو سوچه اسلامي لباس، درنې پګړۍ، مسنونې ډيرې او نوراني قيافې د هغوی مضبوط ايمان او مروت هغه نښې ګڼلې چې بايد نور د سرلوړۍ ارمانجن مسلمانان يې هم تقليد وکړي تر څو د محکوميت او مغلوبيت له زندان څخه آزاد شي.

د الجزيرې نړيوالې خبرې شبکې يوه سروې اعلان کړه تر څو په همدې اونۍ کې تر ټولو مطرحه رسنيزه څيره معلومه کړي، په دې سروې کې په ټويټر باندې څلورو کسانو ته رايې ورکول کيدې چې ملا برادر آخند، د امريکا دموکرات کانديد جوبايدن، وفات شوی عالم محمد عماره او د مصر د روغتيا وزيره هاله الزايد يې برخوال وو. د رايو په ترڅ کې ملا برادر آخند له څلوېښت فيصده د زياتو رايو په ګټلو سره د تر ټولو مطرحې خبرې څيرې موقف وګاټه او د الجزيره شبکې لخوا ورته "النجم الساطع في سماء السياسة الأفغانية" لقب ورکړل شو.

له دې څخه معلومه شوه چې د نړۍ مسلمانانو په خاص دول عرب ولسونو د کب د لسمې مراسم په دقت سره څارل او هغه يې د مسلمانانو لپاره مهم او د فخر وړ پرمختګ باله.

له عربي دنيا پرته په نورو اسلامي هيوادونو کې هم اسلامي مجامعو، مخکښو مشرانو او ټولنو په دې اړه مثبتې څرګندونې وکړې. د ايران د اهل السنة والجماعه مشر مولانا عبدالحميد او د پاکستان لوی مفتي او ستر عالم مولانا مفتي محمد تقي عثماني صاحب د دې بريا په اړه نه يوازې د افغانستان مجاهد ولس ته مبارکي ورکړه. بلکې دا يې د اسلامي امت يو مشترکه بريا او خوښي وګڼله.

لکه څنګه چې سل کاله پخوا له برتانوي ښکيلاک څخه د افغانستان استقلال د ډيرو محکومو ولسونو په رګونو کې د حريت جذبه پوکلې وه او اسلامي نړۍ ته يې د خپلواکۍ روحيه ورکړې وه. د اشغال د خاتمې د ټرون امضاء کيدلو هم يو ځل بيا محکومو مسلمانانو ته په ځان د بسايني مورال ورکړ او دا خبره يې ور تلقين کړه چې که حوصله ماته نه کړي او په خپلو مبادئو محکم او پابند پاته شي هغه ورځ لرې نه ده چې خپل بايللی مجد او عظمت ترلاسه او د نړۍ په کېږجنو استعمارګرو خپل ځان ومني.




تېره ورځ د کب لسمه پاو کم پنځه بجې مازیګر د افغانستان په تاریخ کې د یو بل باب پرانیسته او د نړۍ دوو لسیزو خونړي اور د بندېدو ابتدایي ګام و، چې په اړه یې په ټوله کې خوشبیني موجوده ده مګر خال خال اندېښنې هم ورسره ملې دي؛ خو که د توافقنامې پر متن غور وشي او همدا توافقنامه په صداقت تطبیق شي نو د یوې ښې راتلونکي اته نوي سلنه تضمین پکې نغښتی دی.

**د طالب د ټینګار پایله!**

د طالبانو د نظامي کمیسیون اعلامیو کې به دا خبره تکرار راتلله، چې د دوی مبارزه به تر هغو روانه وي، تر څو دلته حتی یو بهرنی هم موجود وي، دا خبره یوازې ځلور کاله وړاندې لا خوب بلل کېدله، دا چې امریکا دې له دومره کړیو مصارفو او تلفاتو سره سره دا شرط ومنې، ناممکنه ځکه بربېښېدله چې طالبانو پر امریکایانو یوازې د جګړې فشار درلود چې هغه هم د ګډ حکومت په راتګ سره یو څه کم شو، ځکه د غبرګو ټرونونو پر اساس بهرنیان په پنډغالو کې خوندي او افغان عسکر یې د دفاع لپاره د جګړو پر کرښو وګمارل؛ خو کله چې د خبرو اترو لړۍ پیل شوه طالبانو د سیمې په سطحه یوه اجماع رامنځته کړه او په دې ډول وتوانېدل چې پر امریکا د سیاسي فشار لار هم پیدا کړي!

تېره ورځ چې د نړۍ د لسګونو هېوادونو د استازیو او چارواکو پر وړاندې دا نړیوال سند لاسلیکېده کابل کې هم د امریکا دفاع وزیر او د ناټو سرمنشي چې دواړه د سیاست پر ځای یوازې نظامي چارواکي تصوربدلی شي پر یوې ګډې اعلامیې بوخت و، چې پکې خپلو داخلي همسنګرو ته یوازې ډاډ نغښتی و او دا هم لرې نه ده چې دا دواړه چارواکي دلته د چارواکو د ذهنیت سازۍ او غلي کولو لپاره راغلي وي، چې په دې تاریخي پراو کې له اصولو د باندې خوله چوله نه کړي، خو بیا هم محمد اشرف غني د خپل واک په اتلسم ساعت لاسلیک کړی ټرون له امریکایي لوري سره یوازینی ټرون یاد کړ او په وینا یې «بل ټرون ته اړتیا نشته!»

په توافقنامه کې امریکا پر دې ژمنه کړې چې په ۱۳۵ ورځو «ځلور نیمو میاشتو» کې به له محمد اشرف غني سره ګړی ټرون عملاً لغوه کوي او له پنځو نظامي اډو به خپل ټو ځواکونه باسي او په ۱۴ میاشتو کې به خپل ټول پرسونل «نظامي،

قراردادي، غير ډيپلوماټيک...» ور ټولوي او پښې به سپکوي، خو دا ټبښته به د خپګان په معنی هم نه وي بلکې ببرته د نړۍ د ملک په حيث مرستې کوي او ډيپلوماټيکي اړيکې به پالي، خو له چا سره؟ د توافقنامې د متن له مخې له «نوي افغان اسلامي حکومت» سره!

توافقنامه کې د بريا نقطه په دې کې ده چې متحده ايالتونو يوازې د خپل ځان خوندیتوب پلمه کړی او تضمين کړی، نور يې نو د طالبانو نړدې ټول شرايط ورسره منلي دي، خو د دې تر څنګ مجبوره او مسؤله کړی شوي چې د دوی تر وتلو پورې بايد خبره بلکل نهايي شي، مثلاً د زندانيانو په برخه کې ژمنه شوې چې لسو ورځو کې به پنځه زره او په دريو مياشتو کې به ټول زندانيان خوشي کېږي.

**د توافقنامې له اصطلاحاتو څه جوتېږي؟**

کله چې هم د «د افغانستان اسلامي امارت» ياد شوی مسلسل ورپسې زياته شوې «متحده ايالتونه يې دو دولت په توګه نه پېژني او د طالبانو په نوم يې پېژني» دا يادونه څکه کېږي چې امريکا خپل جوړ کړي دولت ته ډاډ ورکوي چې بل دولت نه پېژني، خو کله چې د توافقنامې تشريحاتو ته کوزېږئ، ليدل کېږي چې دا توافق د دوو دولتونو تر منځ شوی، مثلاً امريکا پر طالبانو منلې چې له افغان خاورې به د امريکا پر ضد بل څوک اقدامات نه کوي، بهرنيو جنګيالیو ته به ويزه، پاسپورت، تابعيت، چنده او کوربه توب نه ورکوي، د دې تر څنګ به طالبان خپلو افرادو ته «لارښوونه» کوي چې له بهرنيو جنګيالیو سره اړيکه ونه لري، دا د ډول اقدامات او د دې اقداماتو تطبيق او عملي کول له دولت پرته امکان نه لري، دا غير مستقيم پر دې اعتراف دی چې امريکا طالبان د «اسلامي امارت دولت» په حيث نه پېژني، خو د طالبانو دولت پېژني، ځکه خو يې پخپله يادونه کې طالبانو ته د «ډلې» خطاب نه دی کړی، دا دليل د توافقنامې په يوه بله ماده لا غښتلی کېږي، چې امريکا دا مسؤليت پر غاړه اخيستی چې «نوی افغان اسلامي حکومت» رامنځته کړل شي او دا حکومت به د بين الافغاني مذاکراتو په پايله کې رامنځته کېږي، د درېيمې برخې په دويمه ماده کې راځي:

«متحده ايالتونه او د افغانستان اسلامي امارت، چې متحده ايالتونه يې د دولت په توګه نه پېژني او د طالبانو په نوم يې پېژني، يو له بل سره مثبتې اړيکې غواړي او هيله لري چې د متحده ايالتونو او د بين الافغاني ډيالوګ او مذاکراتو له لارې تر جوړ جاړي وروسته د نوي افغان اسلامي حکومت تر منځ اړيکې مثبتې وي.»

**له دې اصطلاح څو مفهومه اخيستل کېدای شي:**

الف: اوسنی حکومت نه افغان دی او نه هم اسلامي، ځکه خو يو بل بديل ته اړتيا ليدل کېږي.

ب: اوسنی حکومت افغان هم دی او اسلامي هم، خو «نوي» افغانيت او اسلاميت ته يې اړتيا ده.

ج: دا حکومت «امارت» نه دی، ځکه امارت په محدوده جغرافيه کې نه شي را ايسارېدلی،

څکه خو ورسره د «افغان» مختارۍ حتمي شوی دی.

د: دا اصطلاح د امریکا او طالبانو تر منځ د دې هوکړې اظهار کوي چې اوسنی حکومت باید له منځه یووړل شي، خو د نظام د نوعیت بحث بین الافغاني خبرو ته پاتې شوی ښکاري، څکه دلته ورته اشاره شوې نه ده.

ه: امریکا د دې حکومت په جوړولو کې همکار او مسؤله ده او ان ژمنه یې کړې چې طالبان او دوی دواړه هیله لري چې له نوي افغان اسلامي حکومت سره به یې اړیکې مثبتې وي.

و: له نوي افغان حکومت سره د اړیکو د مثبتوالي هیله کې اړخونه «طالبان او امریکا» یاد شوي، چې دلته هم دې ته اشاره ده چې طالب به حاکم وي!

ز: سره له دې چې امریکا پرلپسې د حکومت او نظام نوعیت داخلي موضوع بللې، خو دلته یې له طالبانو سره روښانه کړې او مستقیماً یې دا ټټر ورته وهلی چې اوسنی حکومت د دوی جز او په بدلولو کې یې ستونزه نه لري.

**پر خپلواکۍ او بلواکۍ اعتراف!**

د توافقنامې د لومړۍ برخې د درېیمې حصې په پنځم جز کې راغلي:

«متحده ایالتونه او متحدین به یې د افغانستان د څکمنۍ بشپړتیا او سیاسي خپلواکۍ پر ضد له خواک او ګواښ څخه کار نه اخلي او نه به یې په کورنیو چارو کې لاسوهنه کوي.»

**له دې جملې څو پایلې را ایستل کېدای شي:**

الف: متحده ایالتونه او متحدینو یې ټولس کاله د افغانستان څکمنۍ بشپړتیا او سیاسي خپلواکي په واک کې اخیستې وه.

ب: د څمکنۍ بشپړتیا او سیاسي خپلواکۍ پر ضد یې له خواک او ګواښ څخه کار اخیستی.

ج: په کورنیو چارو کې یې لاسوهنه کوله.

د: اعتراف شوی چې دا ټول موارد د خپلواکۍ ضد دي او معنی یې دا راوخي چې افغانستان تر اوسه خپلواک نه و، خو اوس یې خپلواکۍ ته ژمن کېږو.

ه: دا ژمنه دا ثابتوي چې مقابل لوری چې همدا توافقنامه ورسره کېږي، د څمکنۍ بشپړتیا، سیاسي خپلواکي او په کورنیو چارو کې پوره واکدار او حاکم اړخ دی یا هم کېدونکی دی.

د خپلواکۍ همدا ټینګار د درېیمې برخې په درېیمه ماده کې هم شوی دی چې متحده ایالتونه به له نوي افغان اسلامي حکومت سره اقتصادي مرستې کوي خو په کورنیو چارو کې به یې لاسوهنه نه کوي.

**د دې توافقنامې د تطبیق لپاره ضمین شته؟**

دا توافقنامه چې له لویه سره د امریکا پر ماتې اعتراف او پخپلو ټولو تېرو ټولسو کلونو د چلیپا ایستل دي، د تطبیق لپاره ځینې اندېښنې را پیدا کېدلی شي، خو دا اندېښنې یوازې لسو ورځو کې یا په واقعیتونو بدلېدلی شي یا هم ورکېږي، څکه په روانو لسو ورځو کې د ژندانیانو ازادي او د بین الافغاني خبرو اترو پیل د دې توافقنامې د

لومړی برخې لومړني اقدامات دي، د دې تر څنګ د توافقنامې د پوره تطبیق یو ازمایښتي دور هم بلل کېدای شي، دا چې وخت لږ اېښودل شوی نو باور لا پخېږي چې ښایي د توافقنامې په تطبیق کې بدعهدي ونه شي.

د دې تر څنګ د توافقنامې د لاسلیک پر مهال د شاوخوا دېرشو هېوادونو د چارواکو او استازیو ګډون د یو ډول تضمین یا حد اقل شهادت علت کېدلی شي چې له توافقنامې سرغړوونکي اړخ ته د ملامتۍ ګوته نیولی شي، پر دې سربېره طالبانو د دې توافقنامې د تایید او رسمیت مسؤلیت هم پر امریکا ور اچولی، د درېیمې برخې په لومړۍ ماده کې راځي:

«متحده ایالتونه به د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوا د دې توافقنامې په رسمیت پېژندلو او تایید غوښتنه کوي.»

**دا جمله له ځان سره خو اندېښنې هم لرلی شي:**

الف: په ماده کې د امنیت شورا له خوا د تایید او رسمیت دقیق وخت نه دی په ډاګه شوی!

ب: د تایید او رسمیت حد یوازې د غوښتنې تر بریده دی، چې ردېدلی او تایدېدلی شي.

ج: که دا تایید او رسمیت وځنډول شي، د توافقنامې پر نورو مادو مستقیم اغېز لري او ښایي د امریکا لپاره د بدعهدۍ زمینه برابره کړي.

د: یوه خوشبیني هم ورته کېدلی شي، دا چې پخپله امریکا په امنیت شورا کې د ویټو حق هم لري او که یوازې د وروستۍ لسیزې ځینو پېښو ته وګورو، نو امنیت شورا د امریکا د غوښتنې خلاف کار نه شي کولی؛ نو خبره د امریکا تر صداقت او ټګۍ پورې محدودېدلی شي.

**اوسنی حکومت په کومه خوا؟**

کله چې په کابل کې د ټاکنو پایلې څرګندې شوې دا باور غښتلی شو چې د پردې تر شا د طالبانو او امریکا خبرې اترې بریالۍ روانې دي او یوې پایلې ته رسېدلې دي، دې پایلو دا پیغام له ځان سره درلود چې اوسنی حکومت له منځه تلونکی دی، خو نابېره د ټاکنو یو اړخیزې پایلې اعلان شوې، چې له ځان سره یې د حکومت په داخل کې توند غبرګونونه درلودل، مګر محمد اشرف غني ولې دا بېړه وکړه؟

تېره پنجشنبه د کب اتمه د لوړې مراسمو ورځ ټاکل شوې وه، خو امریکا خبره تر پردې را ښکاره او مستقیماً یې رسنیز غږ پرې وکړه چې دا مراسم وځنډوه، خو د کب تر نولسمې؛ زما پر باور دا دی امریکا او پخپله محمد اشرف غني غواړي په روانه پروسه کې د پوره ګوښه توب غچ واخلي او یو امتیاز په ګوتو ورشي، چې دا امتیاز به یوازې د تبلیغاتو تر حده محدود وي، پر دې معنی چې پلویان به یې د لوړې مراسمو څنډول هم د «سولې» لپاره قرباني وبولي او کله چې «نوی افغان سلامي حکومت» رامنځته کېږي دی به تر چوکۍ ورته تېر کړل شي، چې پلویان به یې شور ګډ کړي چې دا دی چوکۍ یې هم د سولې او هېواد لپاره قربان کړه!

خو د کب نولسمه؛ ښايي يو بل بدلون وي، خکه د کب تر نولسمې بايد له دواړو خواوو شپږ زره زنـدانيان ازاد او پـه شـلمه بـين الافغـاني مذاکرات پيل شي، ښايي پـر همدې ورځ محمد اشرف غني لوړه هـم وکـړي او عبدالله عبدالله بـه جبراً لکـه تېره ورځ؛ د هغـه مراسـمو تـه راوسـتل شي، خو دا هـم لـرې نـه ده چې امريکا دا امتيـاز پرې زيات وبولي او غږ پرې وکړي چې اوس يې وخـت نـه دی خکـه دا دي بـين الافغـاني خـبرې رواني دي او د دې خبرو په پايله کې لـه توافقنامې سره سم «نوی افغان اسلامي حکومت» رامنځتـه کېږي.

**له بهرنيانو وروسته افغانستان!**

طالبانو د اخترونـو، د عمليـاتو د پيـل او ځينـو نورو ځانګړو ورځـو او مناسـبتونو اړوند خپـرو کـړو اعلاميـو کـې پرلپسـې ټينګـار کـړی چـې د واک انحصـار نـه غـواړي او يـو «ټول‌شـموله حکومـت» غـواړي، همـدا اصـطلاح څـو ورځـې وړانـدې زلمـي خليلزاد هـم وکارولـه او ښکاري چـې دواړه اړخونـه سره پرې توافق ته رسېدلي دي او نښه خـبره هـم همدا ده چې پـه راتلونکي نظام کـې د هېواد ټول قشرونه د اهليت پر اساس ونـډه ولـري، د داسـې عـدل پـر وړانـدې بـه يـوازې ظـالم د مخالفـت غـږ پورته کوي، ځکه ناممکنه ده چـې د مخالفـت لپـاره دې معقول دليل ولري.

تـر ټولـو حساسـه موضـوع پـه هېـواد کـې د افغـان کلتـور پـر وړانـدې روان مخالفتونـه او د ښځينه‌و د کار او فعاليت موضوعګاني دي، ښـايي طالبان د رسنيو په خپرونو د سمون او د ښځينه‌و د کـار لپـاره مناسـب چاپيريـال برابرولـو کـې هڅـه وکړي خو مخالفت يې تر اوسه په هيڅ وينا کې نـه دی لېدل شوی.

تېره ورځ مې د طالب ويانـد ذبيح الله مجاهـد صاحب يـوه مرکـه واوربـده چې مهمـه نقطـه پکـې همدا وه، چې د عادلې محکمې پـه شـتون کـې بـه هر څوک دا حق ولري چې پـه روانـو نولسـو کلونـو کـې د دواړو لوريـو لـه خـوا د ورسره شـوي کـوم وحشت غږ پورته کړي، خو د دوی له اړخه عمـومي ښښنه ده!

هغـوی چـې د جګړې د يـو بـل اړخ خـونړی پېښې په خواله رسنيو کـې خپـروي پـه لـوی لاس غواړي دا جګړه په عقده بدله کړي چې جوړ جـاړي تـه لار جـوړه نـه شي، کـورنۍ جګـړه ونښـلي او د دوی چـې پـه جګـړه کـې ګټې نغښـتې جېبونـه لـه تشېدو وساتل شي، دوی محدود، لږ او پـردي دي خکه خو لومړی بايد قناعت ورکړل شي، کنـه پـرې چوپتيا يې لوی ځواب دی.

**پايله!**

که همدا موافقتنامه په بريا سره تطبيقېږي نو د يو عادل نظام او اباد افغانستان توقع ترې کېدلی شي، خو د هغوی چې په لاس کې يې د جومات منبر، د راډيو مايک او يا هم قلم دی دا مسؤليت جوړېږي چې د ذهنيت سازۍ لپاره کار وکړي، دا هېواد د څو افرادو نه دی، دا ملت يو خل بيا د دې جوګه کېدای شي چې د امت رهبري وکړي! ان شاءالله

۱۱/۱۲/۱۳۹۸



# تر شیراټون سخته لاره

قاري سعید زرمتی

شیراټون هوټل چې څومره مجلل دی، د دیپلوماسۍ ورغلې لاره دغومره پسته او آسانه نه وه. واقعیت دا دی چې طالب مشرانو د پوځي جهاد د کراوجنې لارې په شان د سیاست اغزنه دښته هم په خورا ستر همت او پرتمین عزم ګز و ګام کړه.

۲۰۱۰م کال د امریکا ضد جهاد په تاریخ کې ټاکونکی نقش لري، په دې کال چې د اوباما د ستراتیژۍ له مخې په افغانستان کې د امریکایي اشغالګرو شمیر تر ټولو لوړ حد ته پورته شوی و، په وړاندې یې جهادي خوځښت هم اوج ته رسیدلی و، په دې کال تر ټولو زیات امریکایي عسکر ووژل شول او د هرکله په نسبت د امریکا ډیرې پیسې په افغانستان کې لوګې شوې. د کال په اوږدو کې د طالبانو بریالي مقاومت د سپینې مانۍ له مغزو څخه د پوځي بریا فکر ویوست. ملا محمد عمر مجاهد چې په زابل کې یې د یوه خر کلي له ختین اطاق څخه د جهاد ډګر څاره، ښایي دا یې درک کړي وو چې نور امریکا له جوش څخه د هوش پورې ته راغورځیدلي او که خبرې ورسره وشي شاید سر یې پې خلاص شي. په همدې کال د ملا محمد عمر مجاهد په مستقیم هدایت دطالبانو سیاسي استازو په لومړي ځل له امریکایي ډیپلومانو سره مخفي لیده کاته او خبرې وکړې. چې همدا پروسه وروسته د تفاهم د لس کلنې لړۍ لومړنی ګام شو.

د طالبانو او امریکا د مذاکراتو څه باندې لس کلن مزل له اوږدو کږلیچونو، پیچومو او لوړو ژورو راتېر شو. لومړني تماسونه، مخفي لیده کاته، د قطر کوربه توب او د سیاسي استازو ورتګ، د دفتر افتتاح او د بیرغ لانجه، د بندیانو خبرسازه تبادله او بالاخره یوه اوږده موده سردرګمي او سیاسي خاموشي چې حتی له ډیرو یې د قطر پروسه هیره کړې وه. په دې منځ کې کرزی لاړ او اشرف غني راغی او هلته امریکا کې هم د اوباما ګوند ټرمپ ته وبایللـه. ټرمپ هم د بوش او اوباما په خیر تر هر څه مخکې په افغانستان خپله پوځي ستراتیژي تجربه کړه، چې په شکست محکومه شوه. د ټرمپ د ستراتیژۍ او ورسره د پوځي، سیاسي او د نیکولسن په خبره مذهبي فشارونو ناکامۍ بالاخره سپینه مانۍ دې ته راوسته چې له مذاکراتو پرته بله لار نشته. نو ځکه خو د ۲۰۰۸ م په جولای کې امریکایي پلاوی په قطر کې د طالبانو دفتر ته له یوه نوي او متمایز پیغام سره ورغی. امریکایانو طالبانو ته وویل: مور او تاسو ۱۷ کاله سره وجنګېدو، امریکا په خپل تاریخ کې دومره اوږده جګړه نه لري، په اتلس کاله کې مور ته معلومه شوه چې که همدومره نور هم وجنګیږو یو بل نه شو ماتولای، نو د دواړو خواوو لپاره ښه دا ده چې معضله په خبرو خلاصه کړو.

په دې ډول د طالبانو او امریکایانو تر منځ د مخامخ مذاکراتو پروسه په جدي ډول پیل شوه. درې پراوه خبرې او لیده کاته په ۲۰۱۸ کال کې وشوې او شپږ پراوه په ۲۰۱۹ م کال کې. دا مذاکرات آسانه نه ول، په پیل کې امریکا د نړیوال زبرځواک له دریځه

ځان پر طالبانو برلاس ګانې، خو وروسته يې کرار کرار د پوځي ډګر غوندې په مذاکراتي میز هم چلند بدل شو. د طالبانو لپاره د مذاکراتو دا پراوونه خورا ستره ابتلا وه. امریکا د فشار پریمانه وسائل په لاس کې لرل. د دمذاکراتو دریم پراو چې په ابوظبي کې ترسره شو. یوه ګډونوال یې راته وویل چې امریکا، سعودي، امارت، پاکستان او ورسره ټولو ګډونوالو طالب دیپلوماتانو ته ایتلاف کړی و او پر طالبانو یې کله د زور او کله د زاریو په ژبه ټینګار کاوه چې هلته بهر په ټمه ناست د اشرف غني استازي حمد الله محب سره فقط یو نمایشي ملاقات وکړي. خو طالبانو په خفره ژبه ټولو ته د رد ځواب ورکړ.

ورپسې په خو پراوو اوږدو مذاکراتو کې طالبانو له امریکایي ارخ سره تر اټکل پورته چنه بازي وکړه. امریکایان چې د مذاکراتو پروسه یې یو طرفه جاده ګڼله، په خپله محاسبه کې خطاوتلي ول. طالبان د پوځي ډګر غوندې د میز پر سر هم سرسخت او نه ماتیدونکي ول، د سپینې مانې، پینټګان، سي آي اې او د امریکا د وزارت خارجه مذاکراتي استازي یې تر ورځو ورځو بوخت وساتل او د توافق نامې په یوه یوه تکي یې ورسره اوږده دلائل وویل. خو کله چې له نهه پراوه مذاکراتو بعد د امریکا ولسمشر ټرمپ د مذاکراتو پروسه لغو اعلان کړ، ځینو د سطحي فکر خاوندانو د ټرمپ ټویټ د طالبانو د سیاسي زوال پیلامه ګڼله. اما طالبانو حواس ونه بایلل. ملا برادر آخند د ټرمپ له ټویټ وروسته خپل ملګري راټول کړل او هماغه د ملا محمد عمر مجاهد خبره یې ورته وکړه چې: دوی به خپل کار کوي او موږ خپل . . . باید خپل کار ته متوجه شو او سر له اوسه د سیمې او نړۍ تأثیر ګذارو هیوادونو ته سفرونه ولړو تر څو نړۍ ته تفهیم کړو چې د مذاکراتو پروسه موږ نه ده ناکامه کړې. له دې وروسته طالبانو ګڼو هیوادونو ته دیپلوماتیک سفرونه وکړل.

د ټرمپ له انکار وروسته تر درې میاشتو پورې د مذاکراتو پروسه په تپه ودریده، په دې موده کې بنکیلو ارخونو یوازې د بندیانو تبادلې پر سر مذاکرات وکړل چې دغه تبادله په نومبر کې ترسره شوه. بالاخره د ۲۰۱۹ م کال د دسمبر په شپږمه د امریکایي پلاوي مشر خلیلزاد یو ځل بیا قطر ته لاړ او له طالبانو سره یې د مذاکراتي پروسې له سره دپیلولو خبر ورکړ.

د دسمبر له شپږمې بیا د فبروري تر ۲۹مې موده هم د پخوا په شان کراوجنه وه. ټرمپ په اوربند ټینګار درلود، خو طالبانو ورسره نه منله، تر دې چې د (اورکم) اصطلاح رامنځته شوه او د یوې اونۍ لپاره د پوځي عملیاتو په کمښت توافق وشو. د فبروري په ۲۱ د امریکا خارجه مایک پمپیو اعلان وکړ چې د جنوري په ۲۹ به د طالبانو او امریکا تر منځ توافقنامه امضاء شي او له هغه وړاندې به نظامي عملیات د یوې اونۍ لپاره راکمیږي. په دې ډول هغه موافقه حتمي شوه چې تر دې وړاندې ډیرو ته یوازې بوختوونکې افسانه بنکارېده.

لکه څنګه چې د فبروري ۲۹ (دحوت لسمه) یوه استثنائي نیټه ده( څکه په اکثرو کلونو کې دغه میاشت ۲۸ ورځې وې) همداسې د کب د لسمې توافقنامه له سره ترپایه استثنائي او فوق العاده ده. طالبان په استثنائي شرایطو او غیر نورمال وضعیت کې، د نړۍ له هغه څواک څخه د پوځي انخلاء وثیقه ترلاسه کوي چې بنایي د انساني نړۍ متفکر ماغزه او د ( ټینک ټانکز) مراکز ورته توجیه پیدا نکړای شي. خو تر شیراټون هوټل رسیدلی دا تر اټکل پورته مزل د ملا محمد عمر مجاهد له هغې خبرې سرچینې اخلي چې ویلي یې و: موږ ته الله تعالی د بریا او جورج بوش د ناکامۍ وعده راکړې، موږ به وګورو چې د چا وعده ریښتینې ده.

رحمه الله

دهغه وروسته داسلامي امارت مرستيال ملا برادر اخند ته بلنه ورکړل شوه ، نوموړي دحمد و صلاة وروسته دافغانستان او افغانانو لپاره دتاريخي شيبو يادولوترڅنګ دهغو هيوادونوڅخه منه وکړه کومو چې دامريکا اواسلامي امارت ترمنځ دمخامخ خبروپه نتيجه کې همکاری کړې وې په خاصه توګه دقطر، هيواد دامير،او دهغه دحکومت څخه يې منه وکړه په ورته توګه يې له پاکستان، اندونيزيا، مالیزيا، روسيې، چين، ازبکستان جرمني او ناروي له حکومتونوهم منه وکړه او اپه افغان ولس يې غږ وکړ چې پخپلو دينې او ملي ارزښتونو دي را ټول شي اودبهرنيوقواوود وتلو فرصت نه دي مثبته کتپه پورته کړي

بيا انانسر دامريکا متحده ايالاتو په استازيتوب زلمي خليل زاد او داسلامي امارت په استازولی ملا عبد الغني برادر ته بلنه ورکړه چې هغوی دلاسليک لپاره له وړاندې ايښودل شوي ميزته ورشي او هلته دتوافق نامې متن لاسلک کړي، په دې سره اول خليل زاد لاړ د هغه ميزترشاپخپله څوکۍ کيناست ، ورپسې ملا برادر اخند پورته شو اولاړ پخپله څوکۍ کيناست دقطري حکومت دوه تنو مامورانو ددې تاريخي لاسليک په لړکې د دواړو ملتيا يا همکاری کوله يوتن ملابرادراخندته ځيرمه ولاړو اوبل خليل زاد ته، ملا برادراخند دکيناستو وروسته په نيمه خوا ګرځولود خليل زاد په لور وروکتل... څو هغه د هوکړه ليک متن ترده لومړی لاسليک کړي، خليل زاد هم پرته له ځنډ خپل قلم ته په حرکت ورکولولاسليک پيل کړ، ورپسې ملاصاحب هم دکاغذ متن ته په کتلو دلاسليک لپاره خپل قلم وخوخاوه، په لړه شيبه کې دلاسليک متن په دری ژبو( پښتو، فارسي، او انګريزې) ددواړو لخوا لاسليک شو، بيا خليل زاد پورته شو اوودريد اولړه دمه وروسته ملاصاحب هم پورته شو اودواړو يوبل ته لاسونه ورکړل په دې سره دتلار له منخه په چکچک او دتکبيرپه نارو دغه تاريخي سحنه بدرګه شوه، دلاسليک ځای نه په ښکته کيدو ملابرداراخندته ته دقطردبهرنيو چارو وزير ورغاړيوت اومبارکې يې ورته وويله بياهم داسې دنورو هيوادو استازي لکه دروسيې ضمير کابلوف او دپاکستان دبهرنيو چارو وزير، ورغاړيوتل او مبارکې يې ورته ويله، دې سره خلک دتالارنه په وتوسول په همدې وتلو کې دنړی دمهمو خبرې چينلونو ځينو ژورنالستانو پوښتنې درهبرې شوری غړې مولوي اميرخام متقي په ښه بصيرت او هوښياری سره ځوابولې او نړيوالو او افغانانوته دښه پيغام ورکولو معنی درلوده

مورچل ځوملګرو چې له تيرو۱۸ کلو په ګډه فرهنګي خدمت کړی وو، له وړاندې مو ضروری ګڼلې وه چې دهوکړه ليک دلاسليک شانداره مراسم به په ګډه او يوځای ګورو، اوددې لپاره مو دزيارت دفترغوره کړی و، چې هلته به راځو، هغه وو چې ټولو ملګرو سره په ګډه مو د اشغال پای ته رسيدوپه اړه دهوکړه ليک متن د لاسليک مراسم د سکرين به پرده وليدل اوبيا دهغه وروسته مو دهوکړه ليک دمتن هره هره ماده اوفقره په غور اودقت سره ولوسته او د اسلامي امارت د مذاکراتي ټيم په ډهانت او ذکاوت باندې د اعتراف ترڅنګ دخپل متان خدای تعالی شکراداء کړ چې زموږ په ژوندکې يې داشغال پای ته رسيدوخوب مو رښتيا کړ .

د۱۳۹۸ ل دکب ۱۹مه

# د دوحې ټرون

## او د ښه انجام لوی امېدونه

مفتی حسن زوی

غلو يانې دفطري اصولو او حدودو نه وتل دشخص، کورنۍ، قبيلې ،ولس او نظام ټولو لپاره ډېره مهلکه اوبربادونکې پديده ده .

که دچا په شخصي ژوند او چارو کې اعتدال نه وي هغه دکامياب ژوند خښتن کېدای نه شي ، که په کوم حرکت او نهضت کې بې اعتدالي وي هغه حرکت او نهضت دناکامۍ سره مخامخ کېږي او که کوم نظام د بې اعتدالۍ پر بنسټونو ولاړوي هغه نظام دزور يا چل او فريب له لارې دلږ يا زيات وخت لپاره چلېدای شي خو کامیابېدای نه شي ، انجام به يې خامخا ناکامي وي .

اسلام په عقيدې اوټول عملي ژوند کې داعتدال لارښونه کوي

داجتهاد پر عالي درجې فايز ددين سادات امامان دراپېښوشويو غيرمنصوصي مسايلو احکام دقرآن او سنتو نه راوباسي او په منصوصي احکامو نور قياس کوي چې دا هيڅکله هم درايې داتباع په معنی نه بلکې داجتهاد او استنباط يوعالي منصب دی چې الله تعالی يې خپلو مقربو بندګانوته ورکوي اوددوئ پرلوی علم ، فقاهت ، ورع او تقوی داعتماد له امله مسلمان امت ددوئ دې خواری، ته قدر په نظر ګوري او دنصوصونه راويستل شوي او په منصوصي احکامو قياس کړای شوي احکام يې په سرسترګو مني.

اسلام عامو خلکوته ددې اجازه نه ورکوي چې په خپلې رايې يوڅه ددين برخه وګرځوي يايې ترې وباسي.

زمونږ شریعت خپلوپیروانو ته د الله تعالی داحکاموا و درسول الله صلی الله علیه وسلم دسنتو دپیروی حکم کوي او داعتدال لارې ته یې رابولي.

په قرآن عظیم الشان کې الله تعالی د اهل کتابو دپرمذمت ددوئ دبې اعتدالۍ له امله کړیدی او په دې صراحت یې ورته د (یااهل الکتاب لا تغلوا فی دینکم) حکم کړیدی.

اهل کتاب دپرلوی غالیان وو؛ یو لورته یې حضرت عزیراو عیسی علیهما السلام نعوذبالله من ذلک د الله تعالی زامن بلل اوبل لورته یې ګڼ پېغمبران وژل .

ګڼ حلال ځیزونه یې پر ځان حرام کړي وو خو دې حرام به یې ځان ته حلال ګڼل اوبیابه یې ددې هر څه نسبتونه هم الله تعالی ته کول چې دا ددوئ ستره بې اعتدالي اولویه اعتقادي اوعملي غلو وه .

اسلام دفطرت دین دی ؛ افراط اوتفریط دواړه یې سخت رد کړیدي او خپلو پیروانو ته یې په عمل او اعتقاد دواړو کې د اعتدال درس ورکړیدی.

الله تعالی دخپل اطاعت سره یوځای درسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت ذکر کړیدی.

دا هم دهرمسلمان عقیده ده چې د محبت په باب کې دالله تعالی د ذات نه پس درسول الله صلی الله علیه وسلم دذات مقام دی او دا هم دهر مؤمن ایمان دی چې په ټول مخلوق کې درسول الله صلی الله علیه وسلم مقام او مرتبه ترټولولوړه ده.

درسول الله صلی الله علیه وسلم مرتبه له نورو ټولوپېغمبرانو لوړه ده پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم هم فرمایلي دي چې اناسیدولد آدم ولا فخر خو بیا هم رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې چې (لاتفضلونی علی یونس بن متی) ما دیونس بن متی نه لوړ مه ګڼئ !

داحادیثو شارحین فرمایې چې (انا سید ولد آدم) د رسول الله صلی الله علیه وسلم دمقام او مرتبې نه د امت خبرول او د نفس الامر بیان دی اوپه لاتفضلونی علی یونس بن متی سره غرض دغلو مخنیوی اوپه شرعي حدودوکې دامت سائل دي ؛یاني دداسې تفضیل نه منع ده چې پکې دحضرت یونس علیه السلام تنقیص راشي.

په کلمو، احادیثو او آیاتونو کې چې درسول الله صلی الله علیه وسلم درسالت وصف ذکر کېږي نوپه اکثروځایونوکې ورسره دعبدیت ذکر هم وي او دعبدیت ذکر پرې وړاندې وي چې علماء ددې مهمه نکته دغلو مخنیوی ګڼي یاني هدف دا وي چې پدې امت کې ځوک رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه مرتبې ته ونه رسوي لکه مسیحیانو چې حضرت عیسی علیه السلام کومې مرتبې ته رسولی و ؛ دحضرت عیسی علیه السلام

دخارق العادة ولادت له امله مسيحيانو هغه دعبديت اوبندګي نه لوړ وګڼلو او دالوهيت مرتبه يې ورکړله چې الله ددوئ رد وکړ چې لن يستنکف المسيح ان يکون عبدا لله ولا الملئکة المقربون

لنډه داچې اسلام غلو په هر څه کې رد کړيده؛ دشرعي احکامو په مقابل کې يې هيڅاته په خپلې رايې دتللواجازه نده ورکړې اوپه خپلو ټولو منونکو يې دشريعت اتباع لازمه کړيده ؛ همدې ته انقياد ويل کېږي او ايمان او اسلام دهمدې باطني اوظاهري انقياد نه عبارت دی.

دټبر يونيم کال راهيسې چې دقطر مرکز دوحه کې داسلامي امارت اوامريکا ترمنځ خبرې روانې وې ؛له ټبکه مرغه چې ښه نتيجه يې رامخې ته شوه اودفروري په ۲۹مې ټبټې داسلامي امارت او امريکا ترمنځ داشغال دپای ته رسېدو ټرون رامنځته شو خبرې او ټرون دواړه دشريعت اتباع او شرعي لارښوونو ته په خپل خواهش اوخپلې رايې دترجيح ورکولو روښانه دليل دی.

ددې لپاره د ډېرو فلسفو وړاندې کولو اړتيا نشته بس همدومره کافي ده چې ووايو الله تعالى فرمايلي دي : وان جنحوا للسلم فاجنح لها وتوکل علی الله . همدا راز دمکې د مشرکانو سره د حديبې سوله هم زمونږ لپاره ډېر لوی دليل دی.

زه د حديبې دسولې تفصيل ته نه ځم ځکه چې دمورچل ځودرنو ليکوالو ملګروددوحې د ټرون په پلمه دحديبې دسولې دضرورت وړ تفصيل اوټول غټ جزئيات ذکر کړيدي نومحترم لوستوال په تکرار نه ستړي کوم خو همدومره وايم چې هغه شرطونه چې دکفارو له لورې وړاندې شوي ووهغه درسول الله صلى الله عليه وسلم او ابوبکر صديق رضى الله تعالى عنه په څېر له صحابه وو پرته کابو ټولو مسلمانانو په خپلوګومانونو کې داسې ګڼل لکه چې دمسلمانانولپاره پکې ډېر ذلت وي .

امام بخاري رحمه الله په کتاب الجهاد کې دباب اثم من عاهد ثم غدر ترعنوان لاندې يو اوړد حديث راوړيدی چې پکې دحضرت سهل بن حنيف رضى الله تعالى عنه دا قول دی چې : رأيتني يوم ابی جندل ولو استطيع ان ارد امر رسول الله صلى الله عليه وسلم لرددته .

دنورو صحابه و په څېر سهل بن حنيف رضى الله تعالى عنه هم دکفارو له لورې لګول شويو شرطونو او بياخصوصاً کفارو ته د ابو جندل رضى الله تعالى عنه ورسپارلو خفه کېږی او خواهش يې هم همدا و چې دمکې دکفارو سره پرېکنده جنګ وشي نوځکه يې وويل که چرته موږ ته درسول الله صلى الله عليه وسلم دمخالفت اجازه وای خامخا به مې پدې ځای کې کړی وای يانې ددې ټرون لحاظ به مې نه وای کړی او پر کفارو به مې حمله کړی وای .

فاروق اعظم رضی الله تعالی عنه خو پېغمبر صلی الله علیه وسلم ته ورغلو او ورته یې وویل آیا موږ په حق او دوئ په باطل ندي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ولې نه ! بیا یې عرض وکړ زموږ مقتولین په جنت کې او ددوئ په جهنم کې ندي ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ولې نه ! بیاعمر رضی الله تعالی عنه عرض وکړ: نو ولې موږ خپل دین کې ذلت زغمو ؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : ځه دالله رسول یم او الله تعالی به ما هیڅکله برباد نکړي ( یاني څه چې کوم دمصلحت پر بنسټ او دالله په حکم یې کوم ) رسول الله صلی الله علیه وسلم چې څه کول دالله تعالی په حکم یې کول او ورته دالله تعالی له لوري وحی کېدله نو دسولې مصلحتونه ورته ډېر روښانه وو ځکه خو یې سوله ژر وکړه او هغه شرطونه یې ومنل چې په ښکاره دمنلو نه وو.

په قطر کې د امریکایانو سره داسلامي امارت مذاکراتي ټیم کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم وارثانو علماءو ته خو وحی نه کېدله نو د اسبابو پدې نړۍ کې یې دخپل شرعي نظام ،خپل ملت اوهېواد دګټولپاره ترهغه حده احتیاط اوکوښښ وکړ چې څومره یې توان و ؛ دې ټیم کې دحدیثو اوقرآن شیوخ وو ، خورانېکان مشران مجاهدین وو؛ ډېرې استخارې او دعاګانې یې کړېدي ؛ ښه مؤمنان دې قلوبو ته به یې الهامات هم کېدل او ښه فراست هم الله تعالی ورکړی نور خو په انجام او نتیجه نه بندګان مکلف وي او نه ترې خبرچې وتوکل علی الله کې هم همدې ته اشاره ده.

توکل وایې دې ته چې دشریعت داصولو سره سم اسباب په کار واچول شي اونتایج الله تعالی ته وسپارل شي چې همدا کار داسلامي امارت مشرانو کړی نودګوتو په شمار هغه تنان چې څانونه علم یاجهاد ته منسوبوي او دا وایې چې ددې سولې نتایج به بد اوامریکا طالبان وغولول دوئ ته فکر پکار دی چې ددوئ دا خبره دشریعت داصولو سره برابره ده اوکه غلو او طالبانو ته دغلو ددرس ورکولو معنی لري ؟ دوئ دې نران شي په سولې کې دمنل شوې کومې مادې په اړه دې دشرعي اصولو له مخې اعتراض راپورته کړي یادې پکې کومه داسې خبره په ګوته کړي چې دذلت بوی پکې وي .

الحمد لله ددین ، ولس ، مسلمان ملت دعزت او د عالي اهدافو دحصول لپاره ډېره هڅه شویده او پکې اسلامي امارت کامیاب شوی نو ځکه ولس او ټول مسلمان ملت سخت خوښ دی دخپل غیرتي رب نه مو امید دی چې له تمو پورته ښه نتایج به پرې مرتب اوټول مسلمان ملت به لا سرلوړی شي.

# اشرف غني دې د بندیانو د ببنې فرمان جیب کې کیږدي!

عبید تنویر

اوس به له دې اصطلاح او جملې سره هم لویه نا انصافي وي چې څوک ووایي د ( کابل اداري) مشر اشرف غني، څکه دی خوارکی اوس ټول کابل څه چې د خپل ارګ په دوه سوه متري کې هم هیڅ ډول واک او اختیار نه لري، په یوه ارګ کې اوس عملا دوه ولسمشران وجود لري.

اشرف غني چې کوم مکتوب او یا اعلامیه صادره کړي، فورا یې ډاکټر عبدالله عبدالله په مقابل مخالف مکتوب او اعلامیه صادروي، اشرف چې د اجرائیه ریاست د لغوې مکتوب خپور کړ، سمدلاسه یې عبدالله په مقابل کې ګام اخلي او وایي چې د همه شموله حکومت په راتګ سره نور نو اشرف غني ولسمشر نه دی، بلکې منتخب او مشروع ولسمشر عبدالله عبدالله دی!

او پرون خو لا داسې خبرونه هم راغلل چې کومې لاري د ارګ په دننه کې دوارو ولسمشرانو !!!! ته خلاصې وې، هغه یې یو په بل پسې ګانګریټ او وتپلې. نوچې د ارګ په ودانیو کې دغه غوبل او شرمندګي جوړه وې، د نورو ادارو به څه حال وي؟!

په داسې یوې خندنې فضا کې چې بیاهم اشرف غني وایي چې ۵۰۰۰ زره تنه اسیر طالبان یې بښلي او د خلاصون لپاره یې یو میکانیزم جوړوي، دابه کټ مټ د هغه متل مصداق وي:" پک ته یې ویل څنوره!"

اشرف غني څه فکر کوي، چې که د لوړې مراسمو ته یې امریکایي قومندان جنرال میلر او امریکایي استازی خلیلزاد نه وای ورغلی هغه دغه لوړه کړې وای؟ هیڅکله نه! په چکچکو خو به خلکو او خپلو مخالفینو له رولاګې سره لبنان ته رسولای و؛ خو هغه متل دی چې "که زور کاکاست که انګور درتاکاست"

اشرف غني ته دې وویل شي، چې د کومو پنځو زرو طالب بندیانو د خلاصون زمزمې چې ته غږوې، هغه ناپورې هیڅ تعلق نه ټلري، بلکې د هغوی د خلاصون حکم د کب په لسمه نیټه د قطر په پلازمیته دوحه کې د اسلامي امارت او امریکایانو په تاریخي توافقنامه کې صادر او لاسلیک کړل شو.

امریکانانو هم د الله د رضا لپاره په هغه موافقتنامه لاسلیک ونه کړ، بلکې د افغان ولس د هغه تاریخي مقاومت او پاکې معرکې زور و، چې ۱۸ کاله یې امریکا او غلامانو ته یې د سر په کاسه کې اوبه ورکړې، ۲ ټریلیونه ډالر زیان یې وروړاوه، پنځوس زره امریکایي او نور اشغالګر عسکر یې له منځه ولاړل او ټول جنګي وسائل او هرډول ستراتیژۍ یې ناکاره شوې.

د رولاګې شالونګین دې پوه شي چې ستاپه لاس او ګورت کې د دغو مجاهدو اسیرانو د خلاصون واک او صلاحیت نشته، ته تش د دغو بندیانو د سانتې او پیرۍ دنده لرې، که ستا خپل اختیار وای، رښتیابه دې هم دغه اتلان د مرګ تر کومې پورې نه وای ازاد کړي ؛ څکه تا په کراتو مراتو ویلي و چې د بندیانو ازادیدل دې سړې کړبنې دي.

اوس دې که خوښه وي که نه، په یوه سترګه که ژاړې په بله خاندې؛ خو د بندیانو وتلو ته یه پنجرې خلاصوي او بیا به د لوی او توانا خدای جل جلاله په نصرت وایې، چې ما وبښې، ان شاءالله!

# د فتحې پرمهال
## د مجاهدينو مسؤليتونه!

ليکنه: م: ابن الشهيد (بدري)

کله چې امريکا يې يرغلګرو دځپلو ټولو اتحاديانو په ملتيا په ۲۰۰۱ عيسوي کال ، د افغانستان په پاکه خاوره داسلامي امارت د رنګولو په موخه د اشغال ناترسه او ناولي ګامونه کېښودل او په دغه خاوره يې مسلمانانو قتل عام پيل کړ، دغه مهال د امريکا او متحدينو دکبر اوغرور بنکرونه د اسمان تر هسکه رسېدل او په داسې عصري پرمختللو وسلو سمبال و، چې انساني فکر يې پر وړاندې مقاومت او مقابله له امکانه لرې بلله، هيڅا دا فکر نه کاو چې بيا دې ځوک د اسلامي حکومت او نظام په اړه سوچ او فکر وکړي، د خلکو په اند دا داسلامي ځواک لپاره د پای ټکی او د مسلمانانو د حريت دروازې ته د غلامۍ روستی قلف واچول شو. غربيانو د نظامي ځواک تر څنګ دومره تونده او پياوړې فکري او تبليغاتي جګړه پيل کړه، چې کمزورو مسلمانانو مخکې له برغل نه فکري شکست خوړلی و؛ ځکه پر وړاندې يې د خلکو په اند د مسلمانانو داسې ځواک نه تر سترګو کېده چې د مقاومت توان دې ولري، يوازې ځو ډېکسه او کمزوري طالبان و چې مشري يې هم يو داسې چا پر غاړه لرله چې پرته له الله جل جلاله ځخه يې چا هم ريښتنې ملګرتيا نه غاړه نه وه اينې .

دغه پېړۍ د مسلمانانو لپاره د اسلام په تاريخ تر ټولو کرغېړنه پېړۍ وه، په تاريخ کې دا لومړۍ پېښه وه چې د تمامې کفرې نړۍ ځواکمنو او پرمختللیو هيوادونو د تش په نوم اسلامي هيوادنو په ملتيا په يو اسلامي دولت يرغل وکړ.

دغو ځوکسانو يې په وړاندې دهمت بايللو پر ځای کلکه مبارزه پيل او په هغه ذات يې توکل وکړ چې تل يې د خپلو ابراهيمي بندګانو مرسته او کومک کړی، همغه و چې الله جل جلاله د دوی په لاسونو باندې د خپل عظيم قدرت اظهار وکړ،(چې بريا او شکست زما په لاس کې دی) او له مسلمانانو سره يې کړې ژمنه پوره کړه چې

(كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَت فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ)

سورة البقرة اية (۲۴۹)

ژباړه: ډېر ځله يو کوچنی تولی د الله جل جلاله په مرسته په لويو لويو تولیو بریالی شوی او الله جل جلاله د صابرینو ملګری دی.

لله الحمد دغه ستره تاریخي بریا الله جل جلاله افغانانو په برخه کړه چې د نړۍ سرکښه فرعون نن په افغانستان کې د یو بل موسی پر وړاندې د مانې او سرکوبۍ ګوندې ووهلې .

خو داچې دنیا دار الامتحان دی او د مسلمانانو هره ګړۍ له امتحان او ازمایښت څخه تېریږي، نو د فتحې او بریا په دغه لویه خوشالۍ کې مسلمانانو او مجاهدینو ته څه کول پکار دي او کوم مسؤلیتونه ورته متوجې دي.

**په دې اړه دوه مسؤلیتونو ته ستاسو پام راړوم .**

**لومړی: له کبر او لویې څخه ځان ساتل.**

تکبر او لویي د عامو ګناهونو په څېر یوه ګناه نه ده؛ بلکې تکبر یوه داسې ګناه ده چې، امام بیهقی رحمه الله وایی: الله جل جلاله انسان ته دهرې ګناه سزا په اخرت کې ورکوي مګر یوه ګناه داسې ده چې د هغې سزا الله جل جلاله انسان ته په دنیا کې ورکوي هغه تکبر دی.

امام ذهبي رحمه الله په خپل کتاب "الکبائر"کې لیکي چې په ځمکه او اسمانو کې لومړی ګناه تکبر او لویي وه چې شیطان وکړه نومورې ته الله جل جلاله امر وکړ چې ادم علیه السلام ته سجده وکړه، شیطان په خواب کې وویل؛ څنګه داسې چاته سجده وکړم چې له ختې څخه جوړ دی او زه له اور څخه پیدا یم همدا لامل و چې د ملائکو له صف څخه را ووت او د ازلي بد بختۍ له ګړنګ څخه ولوبد

په انسانانو کې هغه انسان چې د الله جل جلاله بد ایسي هغه متکبر او لویي کونکی دی

الله جل جلاله فرمایي: انه لا یحب المستکبرین (النحل: ۲۳) په رښتیا چې الله جل جلاله کبرجن نه خوښوي

دغسې الله جل جلاله خپل بندګان په ځمکه له متکبرانه ګرځېدلو څخه هم ایسار کړي دي، لکه فرمایي:

وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا ۖ إِنَّكَ لَن تَخْرِقَ الْأَرْضَ وَلَن تَبْلُغَ الْجِبَالَ طُولًا

ژباړه؛په ځمکه کې (په تکبرُ سره) مه ځه، ته نه ځمکه څیرولای شې، او نه هم د غرونو هسکوالي ته رسېدلای شې.

نو کبر او لویي د الله جل جلاله د خفګان او نارضایي تر ټول ستر لامل ده.

مجاهدینو ته پکار ده چې دفتحې پر مهال ډېر زیرک او بیدار او وسې تر څو له داسې کړنو، خبرو او حرکاتو څخه ځان وژغوري چې د کبر او غرور په معنا وي، څه چې الله جل جلاله د دوی په لاس وکړل هغه خپل ځان ته منسوب نه کړي بلکې د هغو نسبت یوازې الله جل جلاله ته وکړي.

فتحه او بریا د الله جل جلاله یو ستر نعمت دی چې تل یې پرې مسلمانان نازولي دي او دنعمت شکریه په اطاعت او بندګۍ سره ادا کیږی نه په ګناه او سرغړونې سره؛ نو

دبريا پر مهال مجاهدينو ته پکار ده چې مفتوحه سيموته په داسې حال داخل شي چې په کاملې عاجزۍ او خاکساري سنبال وي، تر څو دخلکو په زړونو کې لا ځای او محبوبيت پيدا کړي .

په دې اړه داسلام د دويم خليفه عمر فاروق رضی الله عنه کيسه مشهوره ده کومه چې حافظ ابن کثير په البداية والنهاية کې راوړې ده:

هغه وايي کله چې د حضرت عمر رضی الله عنه په خلافت کې بيت المقدس فتحه شو

نو له عمرو ابن العاص رضي الله عنه څخه يهودانو غوښتنه وکړه چې ستاسو امير المؤمنين دې دلته په خپله راشي چې له هغه سره څو خبرې وکړو، عمرو ابن العاص رضی الله عنه مدينې منورې ته خبر ولېږه چې امير المؤمنين دې بيت المقدس (فلسطين) ته په خپله راشي، امير المؤمنين ته چې خبر ورسېد؛ نو دستې د بيت المقدس په لور راروان شو او له ځان سره يو غلام هم را واخست، کله به غلام په اوښ سپرېده او کله به امير المؤمنين؛ خو چې کله بيت المقدس ( فلسطين) ته نزدې شو ښښمېره خلک يې استقبال ته راوتلی و، هغوی فکر کاو چې له امير المؤمنين سره به زيات خلک اوساتونکي بدرګه کوي؛ خو کله چې بيت المقدس ته داخليدل دغه وخت دغلام دسپريدلو نوبت راغی امير المؤمنين عمر فاروق رضی الله عنه له اوښ څخه راښکته شو او غلام ته يې وويل چې اوس ته په اوښ سپور شه غلام ورته وويل اې اميرالمؤمنينه! اوس داسې سيمې ته داخليږو چې تر تا دمخه ورته مسلمان حاکم نـدی راغلـی او تمـام يهـودان ستا ليدو او ننداړې ته راوتلي دي نو مهرباني وکړه ته په اوښ سپور شه، امير المؤمنين عمر رضی الله عنه ورته وويـل: دا نـا شـوني ده چې ستاپه نوبت کې دې زه په اوښ سپور شم همغسې وشول د وخت خليفه او امير المؤمنين بيت المقدس ته په داسې حال کې داخـل شـو چـې غـلام يې په اوښ سپور و او ده د اوښ پرې نيولی و او پياده ورسره روان و.

کله چې د خلکـو اسـتقبال سره مخ شول هغوی فکر کـاوه چـې دا په اوښ سـپور بـه خليفـه وي نـور خـو د دواړو په لباس کې کوم توپير نـه ليـدل کېده؛ نوخلکو د غلام هرکلی وکړ

غلام ورته وويل: زه يې غلام يم اميرالمؤمنين عمرابن الخطابؓ دغه دی کوم چې پياده روان دی

خلـک ددې خـبرې پـه اوريـدو سره هک پک حيران شول

دامېـر المـؤمنين عـدالت او عـاجزۍ تـه پـه کتـو سره د خلکـو پـه زړونـو کـې لـه اسـلام سره بـې کچـې مينې ځای ونيو

**دويم: خلکوته عفوه او ښښه کول.**

ښښه او درګزر يو له هغـه سـترو صفاتو څخه ده چې الله جل جلاله پـه قـرآن کـې ښښـمېره ځايـه خپـل ځانتـه غفور او ښښونکی ويلي دی او هـم يـې بندګانو ته په ښښـې سره امـر کـړی او ښښـونکي يـې تـر بـل هـر چـا زيـات ستايلي دي

اللـه جـل جلالـه پـه قـرآن کـې فرمايي:

فمن عفا واصلح فأجره على الله

(الشورى: ۴۰) څوک چې ښښه او

جوړه وکړي د هغه اجر او بدله په الله ده .

عفوه او بښنه د هر انسان سرمایه ده هر څوک باید بښونکی وي؛ خو په ځانګړي ډول مجاهدین چې له دومره لوی ازمینستونو څخه دالله جل جلاله په مرسته فاتح او بریالی راووتل باید تر هر چا زیات بښونکي وي.

که نبوي سیرت ته ځیر شو او د نبي علیه السلام مبارک ژوند ته کتنه وکړو وبه ګورو چې نبي علیه السلام څومره بښونکی او مهربانه و.

د هجرت په اتم کال چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکې مکرمې حمله وکړه، مکې والوته یې لومړی اعلان وکړ څوک چې د ابوسفیان کور ته ننوتل هغه په امن او معاف دی، داچې دابوسفیان کور کوچنی و او ټول اهل مکه پکې نه ځایېدل بیا یې ورته اعلان وکړ چې څوک بیت الله ته داخل شو هغه په امن دی له دې ورسته یې ورته بیا اعلان وکړ څوک چې خپلو کورنو کې پاتې شول هغه ټول زموږ لخوا معاف دي،

کله چې مکه مکرمه فتحه شوه او جګړه پایته ورسېده؛ نو مشرکین سخت اندېښمن و چې، رسول الله صلی الله علیه وسلم به زموږ په اړه څه او کومه پریکړه کوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول اهل مکه راجمعه کړل او عمومي عفوه یې ورته اعلان کړه او ورته یې وویل: چې نن ما تاسو ټولو ته بښنه وکړه .

یاده دي وي چې اهل مکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څه عادي دښمنان نه ول؛ بلکې اهل مکه هغه څوک و چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې په تکلیف رسولو کې له هر امکان څخه کار واخست آن تر مرګه یې پرې د هیڅ سرپه ونه کړه بالاخره یې له خپل وطن مکې مکرمې څخه د مدیني منورې په لور هجرت کولو ته مجبور کړ.

په مدینه منوره کې یې هم ارام ژوند ته پرې نه ښود د دول دول زورنو برسېره یې ورسره لویې لویې جګړې وکړې لکه احد، بدر او داسې نورې چې د سول الله صلی الله علیه وسلم د کورنۍ غړي او په لسګونو صحابه کرام په کې شهیدان شول؛

خو چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم د فاتح په صفت مکې مکرمې ته داخل شو همدغو خلکوته یې عمومی عفوه او بښنه اعلان کړه.

له هغو کسانو سره چې له دې مخکې د اسلام پر وړاندې لوی خندا او د رسوالله صلی الله علیه وسلم دښمنی ته یې تر بل هرچا کلکه ملاتړلې وه کرکه او نفرت په ورور ولې او مینه بدل شول دغو خلکوته رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا هیڅکله د دښمن او مجرم په سترګه نه دي کتلي

د حدیثو ستر امام (امام ترمذي رحمه الله) په خپل کتاب سنن ترمذي کې د عکرمه بن ابی جهل څخه روایت کړی هغه فرمایي، کله چې ما اسلام راوړو او مدیني منورې ته راغلم چې نبي صلی الله علیه وسلم ولیدم راته یې وویل،

(مرحبا بالراکب المهاجر) یعني هرکلي دي وي هغه مهاجر ته چې په اس سپور راغلو .

عکرمه رضی الله عنه د اسلام د ستر دښمن ابوجهل زوی او هم خپله له اسلام راوړلو دمخه د سول الله صلی

الله علیه وسلم له سترو دوښمنانو او د اسلام په مقابله کې له سختو جنګیالیو شمیرل کیده

خو کله یې چې اسلام راوړو او نبي علیه السلام ته ورغی نبي صلی الله علیه وسلم ورته زړه نازړه نشو او نه یې دا فکر وکړو چې دا خو د مسلمانانو غټ دښمن وو او یا د اسلام د بدترین دښمن ابوجهل زوی ده

بلکه په خوشحالی سره یې غږ پرې وکړو چې مرحبا بالراکب المهاجر ،

له دې سره نبي علیه السلام صحابه ؤ ته هم امر وکړ چې پام کوئ! د عکرمة تر مخ د ابوجهل یادونه ونه کړئ هسې نه چې د عکرمة رضی الله عنه زړه ته ځه ونه رسیږي

له اسلام راوړلو وروسته عکرمه رضی الله تعالی عنه د اسلام لوی اتل او شاهسوار شو او په ډیرو جنګونو کې یې د اسلام د مبارک دین په دفاع کې خپله میرانه ښکاره کړه.

نو په مجاهدینو هم دا غږ کوو چې د فتحې پرمهال به ستاسو لاسونو ته داسې سیمې ولوېږي چې تر دې دمخه به یې ستاسو کلکه مقابله کوله تر دې چې ستاسو پر وړاندې به یې پلرونه، زامن او دکورنۍ نور غړي وژل شوي وي او یا به ستاسو سیمونه د تسلیمۍ لپاره راشي، هغوی ته باید د دوښمن په سترګه نه کتل شي، د انتقام اخستلو پرځای ورته عفوه او بښنه وکړئ، او ددغې لویې تېروتنې او ګناه پېغور ځخه ډډه ورکړئ؛ ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: (من عیر أخاه بذنب لم یمت حتی یعمله. رواه سنن الترمذي)

ژباړه: څوک چې خپل (مسلمان) ورور ته د کومې ګناه پېغور ورکړي، له مرګ مخکې به دی پخپله په هغه ګناه اخته شي.

**دریم: د شهیدانو د کورنیو او یتیمانو پاملرنه کول.**

مجاهدینو ته پکار دي چې دفتحې پرمهال د شهیدانو کورنۍ او یتیمان هیر او له پامه ونه غورځوي؛ ځکه شهیدان هغه څوک دي چې تر تاسو یې له خپلو کورنیو، والدین، مېرمنو او بچیانو سره زیاته مینه او تر تاسو هوسا ژوند درلوده، خو دا هرڅه یې ستاسو په ملګرتیا کې د همدې ورځې لپاره قربان کړل، دا لویه بریا دهمدوی د وینو برکت دی، دفتحې پرمهال د شهیدانو کورنۍ هیرول له هغوی سره له جفا پرته بله معنا نه لري.

د یتیمانو د خپلو بچیو او دکونډو د خپلو خوندو په ځېر خیال وساتئ!

رسول الله صلی الله علیه وسلم به دیتیم تر نورو کوچنیانو زیاته پاملرنه کوله او د خپل شهیدان ملګري به یې زیاته یادول، د هغوی قبرونو ته به ورته او دعا ګانې به یې ورته کولې.

# پر اشرف غني ساختګي برید!!

م مبصر

د حوت په ۱۹مه (۹ مارچ) اشرف غني د څه باندې نهو لکو رایو، چې په هغو کې لا هم څو لکه جنجالي وې، په ګټلو سره ځان د افغانستان د شاوخوا ۳۵ میلیونه اوسېدونکو نماینده وګاڼه او د ولسمشر. په حیث یې لوړه وکړه - په داسې حال کې چې یو دوه دېواله هاخوا بیا عبدالله عبدالله د ۷ لکه شل زرو رایو په درلودو سره ځان د واک اصل مستحق باله او د لوړې جلا مراسم یې نیولي وو.

خو اشرف غني تر عبدالله په څو لحاظه بختور و، یو دا چې امریکایان یې د لوړې په مراسمو کې حاضر وو، او بله دا چې یوه ګونګ برید او تر هغه وروسته د نوموړي غورو یې غونډې ته پراخ انعکاس ورکړ.

کله چې اشرف غني د خپل اقتصادي سکتور د ګوتو په شمېر لاسته راوړنو په اړه خبرې کولې، له یو څو میله لیري د راتوغول شویو توغندیو غږ یې خبرې پرې کړې. ده خپلو خبرو ته دوام ورکړ، لږ وروسته یې خپله کرتۍ په دواړو لاسونو ونیوله او ټټر یې ښکاره کړ، او ویې ویل چې وګورئ، زغره مې نه ده اغوستې، جامې دي. (په ویډیوګانو کې لیدل کیږي چې د غني جامې ډکې ښکاري، له همدې امله ځینې کسان باوري دي چې زغره یې اغوستې وه او دروغ یې ویلي.)

بهر حال، دا حیرانوونکې وه چې بریدګرو ته څنګه د لوړې د مراسمو وخت معلوم و او تیاری یې له وړاندې لا ورته نیولی و ځکه د سولې د مذاکراتو لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د سهار تر څه باندې څلورو بجو د واک د دواړو مدعیانو ترمنځ په منځګړیتوب بوخت و، او له دواړو لورو یې د مراسمو د ځنډولو غوښتنه کړې وه - چې بیا همداسې وشول: څو ساعته د دواړو مراسم له نامعلوم برخلیک سره مخ وو.

د دې ترڅنګ، په دې ورځ (د ارګ شاوخوا سیمې څو لا پر خپل ځای) تقریبا ټول کابل ښار له امنیتي ځواکونو ډک وو. نو بریدګر څنګه وتوانېدل چې د څو کیلومتره لنډ واټن ویشتونکو توغندیو په موټر کې بار سیستم د ارګ څو کیلومترۍ ته ورسوي، بیا یې نښه دقیقه کړې او وروسته دې د لوړې د مراسمو تمځایونه پرې وولي.

دې او ځینو نورو ابهاماتو خلک دې نتیجې ته رسولي چې ښایي غني هم د مصر- د جمال ناصر غونډې اقداماتو ته لاس اچولی وي. د ۱۹۵۴ په اکتوبرکې ناصر غوښتل مصریانو ته ځان زړور وښیي او ملاتړ یې راخپل کړي، نو ځکه یې د یوې سترې غونډې پلان ونیو او په څنګ کې یې خپلو ملګرو ته د غونډې پر مهال د ډزو امر وکړ. همداسې وشول، او تر ډزو وروسته جمال ناصر، کټ مټ د غني په څېر، پر خلکو غږ وکړ چې چیرې ځئ، ارام شئ، له دوو انفجارونو مه ډاریږئ.

م احسان الله رشاد افغاني

# د الله نصرت او د ولس ملاتړ، څرنګه بايد وويل شي؟

د نړۍ زبرځواک او په عصـــري ټکنـالوژۍ سمبال فوځ چې کله د الله په فضل او کرم سره په افغانستان کې له شکست سره مخ شـو، نـو د دې په هلکه ډيرې داسې وايي: چې د الله په نصرت او د اولس په ملاتړ مو دښمن ته ماتې ورکـړه، اوس ځينې خلک دا پوښتنه کوي، چې دلتـه يـو د اللـه نصرت دی او بل د اولس همکاري او ملاتړ، او پـه حقيقت کې امور دوه ډوله دي، يو ته تکـويني او بل ته تشريعي او يا تکليفي امور ويل کيږي.

په تکويني امورو کې مناسب دا دی، چـې د مخلوق د فعل عطف د خالق پر فعل بانـدې د واو په کليمه سره چې په پښتو کې يې موږ متبـادل د او کليمه استعماله و، ونـه شي، ولې چـې دلتـه د شرک شبهه منځ تـه راځـي البتـه پـه تکليفـي او تشريعي امورو کې که داسې وشي، نو مشکل يـې نشته. د دې خـبرې د حـل لپـاره لانـدې تحقيـق ولولئ!

حقيقي مالک، خالق او کونکی يوازې يو الله دی، دا زموږ له ايمانياتو څخه دی، که په دې کـې يو څوک بل څه ور شريک بولي له ايمانه خـلاص دی، البته انسان هـم مجبـور محـض نـدی پيـدا شوی، الله رب العزت ورته اختيار سپارلی دی، که له دې اختياره ښه فائده واخـلي د خيـر مسـتحق دی او که غلط يې استعمال کـړي، نـو ورباندې مؤاخذه يې شته، نو ځکه يې نسبت هم وانسان ته کيږي.

**امور دوه قسمه دي:**

تکوينيات: لکه امر تکويني، خلق تکويني او اراده تکويني، د دې شيانو نسبت حقيقتـا انسـان ته ناروا ده، ځکه دا ټول تر کن فيکـون پـورې اړه لري، چې د الله صفت دی، {إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ} [يس: 82].

او تشريعي او يا تکليفي امور: لکه اللـه رب العزت چې د وحي يې په ذريعـه د انبيـاؤ علـيهم

الصلاة والسلام په ژبه بيان کړي. منهج الشيخ محمد رشيد رضا في العقيدة (ص: 630).

د تشريعي امورو نسبت مخلوق ته کړي، لکه يو سړی العياذ بالله کافر شي، نو داسي نه ويل کيږی، چې الله کافر کړ، بلکې داسي ويل پکار دي، چې فلان کافر شو، يعني: خپل ورکړی اختيار يې غلط استعمال کړ، نو ځکه يې مؤاخذه هم شته.

د دې لپاره حسي مثال دا دی: لکه پر يو ممنوع المرور لاري باندي چې د تللو امکان وي، خو د منع لپاره د خبرداری لوحه ځوړنده وي، او که د دغي ممنوع المرور لاري په منځ کې د سميټو ديوال جوړ وي، نو بيا خو تلل وربانديې ممکن ندي، نو که اوس ځوک پر دې بنده لاره ولاړ نشي نو دا د ده کمال نه دی، ولي چې تلل وربانديې ممکن نه دي. اول د تکليفي امر مثال دی او دوهم د تکويني، په اول کې يې نسبت سړي ته کيږي، او په دوهم کې د سړي اختيار نه چليږي، نو ځکه يې نسبت هم نه ورته کيږي.

نو دا شان مسلمانان د حق په ملاتړ سره مکلف دي، خو دوی ته الله رب العزت اختيار هم ورکړی دی، نو که يې ځوک مدد وکړي، نو نسبت يې هم ورته صحيح دی، ولي چې خپل اختيار يې استعمال کړ، خو بيا هم د هر څه خالق چونکه الله دی، نو دې نسبت ته علماء مجازي نسبت وايي.

علامه رحيلي رحمه الله تعالى وايي: تايد او نصرت دوه ډوله لري: اول هغه دی، چې بغير د اسبابو څخه وي، لکه د الله نصرت او دوهم بيا هغه دی چې پر اسبابو باندي بنا وي.

فكان التأيد على قسمين: تأيد مباشر من الله من غير توسط أسباب معلومة، وتأييد معتمد على أسباب معتادة معلومة. التفسير المنير للزحيلي (10/ 56)

نو د نصرت چې نسبت و خالق ته وشي، نصرت بلا واسطة الاسباب المعتادة ترينه مراد دی او که يې نسبت مخلوق ته وشي، بيا بالواسطه نصرت ځيني مراد دی.

علامه رازي رحمه الله يې داسي تشريح کړي: التأييد ليس إلا من الله لكنه على قسمين: أحدهما: ما يحصل من غير واسطة أسباب معلومة معتادة. والثاني: ما يحصل بواسطة أسباب معلومة معتادة. فالأول: هو المراد من قوله أيدك بنصره، والثاني: هو المراد من قوله: وبالمؤمنين. تفسير الرازي: 15/ 501.

نو په دې جمله کې چې ( د الله په نصرت او د اولس په ملاتړ ) دلته هم له اول څخه نصرت بلاواسطة مراد دی او له دوهم څخه بالواسطة مراد دی.

دلته د بالواسطة نصرت عطف پر بلا واسطه نصرت باندي شوی دی، يا د مجازي نصرت عطف پر حقيقي نصرت شوی دی، او دا عطف يوازي د دې لپاره دی چې په خبره کې اساني راشي، او د عطف لپار د نحوي مشهوره قاعده ده، چې په واو سره عطف صرف د جمع والي لپاره راځي، معيت او ترتيب نه فائده کوي، نو

زمونږ په یاده جمله کې هم داسي شوي، چې یوازي په ژبه کې د اساني لپاره عطف شوی، نور د عطف بالواو د قانون مطابق د معطوف او معطوف علیه په منځ کې یووالی او په هر څه کې اشتراک اړین ندی.

العطف بالواو تدل على مطلق الجمع من غير إشعار بخصوصية المعية أو الترتيب ومعنى ذلك أنها تدل على التشريك بين المعطوف والمعطوف عليه في الحكم الذي أسند إليهما من غير أن يدل على أنهما معا بالزمان أو أن أحدهما قبل الآخر ولا ينافي هذا احتمال أن يكون ذلك وقع منهما معا أو مرتبا على حسب ما ذكرا به أو على عكسه ولا يفهم شيء من ذلك من مجرد الواو العاطفة.

وهذا قول الجمهور من أئمة العربية والأصول والفقه ونص عليه. الفصول المفيدة في الواو المزيدة (ص: 67).

مثلا: د پښتو په ادب کې چې مونږ خبري کوو، نو کله چې زید عمرو تر لاس نوی راولي، نو مونږ ویلای شو، چې زید او عمرو راغلو، که څه هم د دواړو د راتګ په منځ کې فرق شته، نو زمونږ په یاده خبره کې هم یوازي د خبري د اساني لپاره د دوو جملو یو ځای راوړل مراد دی، که څه هم د الله له نصرت څخه بلا واسطه مراد دی او د ولس له ملاتړ نه د واسطې هغه مراد دی.

نو که څوک ووایي: چې دا به څه معلومیږي، چې له معطوف څخه مجازي نصرت مراد دی، او حال دا چې پر حقیقي نصرت یې عطف شوی نو باید له دې نه هم حقیقي نصرت واخیستل شي؟

جواب یې دا دی. چې د اهل لسان پوه وربانديي دلالت کوي، چې د معطوف او معطوف علیه په منځ کې په هر څه کې یووالی شرط نه دی، او دا د مسلمان له ایمانیاتو څخه دی، چې د خالق د افعالو او د مخلوق د افعالو په منځ کې د حقیقت او مجاز نسبت بولي.

او بل تر دې لا د شرک شائبه د نبي کریم صلى الله عليه وسلم په دې قول کې لا پیره ده، چې فرمایي:

هل تنصرون وترزقون إلا بضعفائكم. صحيح البخاري (4/ 37).

مګر اهل لسان پوهیږي، چې دلته نصرت بالواسطه مراد دی، نو ځکه مشکل نشته.

همداسي زمونږ په جمله کې که له خلکو پوښتنه وکړو، چې تاسو خو له الله سره شرک وکړ، داسي مه وایاست، نو هغوی که څه هم د معطوف او معطوف علیه په قانون نا خبره وي، خو بیا هم درته وایي: چې په حقیقت کې نصرت کوونکی یوازي یو الله دی، خو که په ظاهره د خلکو ملاتړ نه وای، نو کامیابي هم ګرانه وه.

البته هغه څوک چې ضعیف العقیده وي، او یا یې د شرک ماده ژر ژر ذهن ته راځي، نو هغوی دي د ژبې د قانون خلاف جمله نوره هم طویله کړي، چې اشتباه یې رفعه شي.

08-03-2020

# له امريکايي اشغال وروسته د هيواد د سياسي نظام استحکام

شاهد غزنيوال

داچې په افغانستان کې تيرې څلويښت کلنې جګړې ټولې اقتصادي زيربناوې او شته ظرفيتونه له منځه وړې، ځکه نو له جګړې وروسته افغانستان د خپل ثبات اواقتصادي استحکام لپاره د نړيوالې ټولنې رغنده عمراني او اقتصادي مشارکت ته اړتيا لري، د افغانستان د زيربناوو بياځلی احياء او اقتصادي پياوړتيا د بيکاري، فقر او مهاجرت په مخنيوي او همداراز نشه يي توکو د توليد او پراختيا په مخنيوي کې رغنده رول لري.

د افغانستان راتلونکی نظام به د نړيوالې ټولنې په مشارکت سره د دې ټولنې د يوه فعال عنصر په حيث را څرګندېږي او په تدريجي دول به د خپلو طبيعي زيرمو په مټ د توليد، صنعت او پر خپلو پښو ولاړ اقتصاد مرحلې ته رسيږي.

**د نظام بهرنۍ اړيکې**

د جګړې په تيره څلويښت کلنه دوره کې په افغانستان کې د حاکمو نظامونه روابط د هغوی د پوځي او سياسي مجبوريتونو مرهون و.

له جګړې وروسته راتلونکي افغانستان چې ان شاء الله نور د سولې په درشل قدم پردي راتلونکي سياسي، اقتصادي او تجارتي روابط به له خپل ګاونډ، سيمې او د متحده ايالاتو په شمول له ټولې نړۍ سره د متقابل احترام پر اساس وي، د نورو په چارو کې عدم مداخله او د لا ضَرر و لاضِرار شرعي تګلاره به يې د بهرنۍ پاليسۍ معيار وي.

که مونږ وکړای شو په پورتنيو مشخصاتو برابر نظام ولرو، همدا نظام په داخل کې له کلک ولسي ملاتړ نه او له بهرنه د مغرضانه مداخلاتو په ځای د نړيوالې ټولنې له سياسي، اقتصادي او عمراني حمايت نه برخمن وي خامخا به دلته د بې ثباتي ځای امن، د جګړې ځای سوله او د فقر او بيکاري ځای، اقتصادي خود کفايي نيسي.

دا چې افغانستان د طبيعي زيرمو (کانونو) له پلوه د نړۍ په کچه تر ټولو شتمن هيواد دی ، دسولې له تحقق او دلته د يوه ځواکمن مرکزي نظام تر ايجاديدو وروسته به د همدې طبيعي زيرمو په استخراج سره افغانستان له توليدي لحاظه پر يوه ودان او خود کفا هيواد بدليږي .. ان شاء الله

خو دا هرڅه لومړی دلته د سولې تحقق او ځواکمن مرکزي افغانستان په شتون پورې اړه لري.

د همداسې يوه سوله ييز، سمسور او مترقي افغانستان په هيله.

# د کب لسمه زمونږ یوه بله تاریخي ورځ

احمد مختار

د روان ۱۳۹۸ه ش کال د کب د میاشتې په لسمه د قطر هیواد په پلازمینې دوحه کې د اسلامي امارت او امریکا ترمنځ د جګړې د ختمې او اشغال د پایته رسیدو تاریخي سند لاسلیک شو.

په دې غونډه کې د اسلامي امارت د لوړ پوړو نظامي او سیاسي چارواکو ترڅنګ د نړۍ د لسګونو هیوادنو د بهرنیو چارو سیسي استازیو، د اسلامي کانفرانس او ملګرو ملتونو چارواکو او په قطر هیواد کې میشتو سفیرانو ګډون کړی و.

په یاده غونډه کې د اسلامي امارت د سیاسي مرستیال او د امریکایي مرکچي پلاوي مشر زلمي خلیلزاد ترمنځ د اشغال د خاتمې او سولې ترون لاسلیک شو چې د لاسلیک کیدو په مهال کې تالار د تکبیر ملکوتي انګازو په سر واخیست.

الله اکبر والنصر للاسلام، الله اکبر ولله الحمد.

یوه شاندار تاریخي ورځ

زمونږ ویاړلی هیواد د حماسه جوړوونکو احداثو په تسلسل کې ډیرې تاریخي ورځې لري.

په هغو کې اته ویشتم د زمري، شپږ ویشتم د سلواغې او لسم د کب په دریو مغرورو امپراتوریو د برید برخلیک ټاکونکی ورځې دي.

په تیره یوه پیړۍ کې د افغان مسلمان ولس په لاس د انګرېزي او کمونیستي دوو امپراتوریو شکست په تاریخي لحاظ د تاریخ معجزه وبلل شوه.

خو د یوویشتمې پیړۍ په سر کې د همدې ځوریدلي ولس لخوا د امریکایي اشغال مقابله او د جهد په زور د هغو پرشاتمبول هغه کارنامه ده چې د شهامت او سربندنې په قاموس کې ورته باید نوی نوم ولټول شي.

د کب لسمه د افغانستان په تاریخ کې یو نوی باب پرانیست.

په همدې ورځ د دین او هیواد د مدافعینو اسلامي (اسلامي امارت) او مغرورو امریکایانو ترمنځ د اشغال د ختمې هوکړه لاسلیک شوه.

په سوله ییزه لحاظ به د دې ورځې اغیزه د افغانستان او نړۍ پر ټولو سیاسي تعادلاتو هم هغومره وي لکه پر افغانستان او نړۍ د امریکایي یرغل اغیز.

دا هوکړه د اشغال د ختمې او سولې د ټینګښت په لاره کې لومړنی ګام دی، که یې بعدي مراحل د طرفینو د کړیو ژمنو مطابق پایته ورسیږي باوري یو چې د هیواد خلویښت کلنې ستونزې ته د پای ټکی کیښودل شي.

د اسلامي امارت او امریکا یانو ترمنځ د مذاکراتي بهیر د موثریت او پر هغه باندې د خلګو د باور جوړولو لپاره د دواړو لوریو اساسي مسؤلیت په هوکړې کې د ترسره کړیو ژمنو عملي کول دی.

په یادې هوکړې کې په ۱۴ میاشتو کې د امریکایي ځواکونو تر پرشا تګ وروسته د اسلامي امارت د (۵۰۰۰) بندیانو خلاصون مهم ګام دی چې په افغانستان کې د جګړې د ختمې ډیرې هیلې پورې تړل شوې.

که په معین وخت کې همدا معلوم شمیر بندیان آزاد شي د هوکړه لیک د بعدي مراحلو د اتمام او پوره والي ښه تمه تري کیدای شي....پای

# د کابل اداري سره به تعامل دعفوې او درګذر وي که د شدت او انتقام؟!

م عبدالله انډر

وروسته له هغه چې مسلمانانو ته الله تعالی عظیمه فتحه نصیب کړه او د اشغال پای ته رسېدلو ترڅو وشو، اسلامي امارت ټولې نړۍ ته خپل حقانیت، عزم، اراده او قوت ثابت کړ، اسلامی نړۍ او حتی غربي دښمن هم په خپله اعتراف وکړ، چې طالبان کلک خلک دي او د وطن د اشغال ختمولو لپاره جنګېدل.

له ترڅو وروسته د اسلامي امارت زعیم امیر المؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبة الله ټول ولس ته مبارکي وویله او بیا یې د کابل اداري ټولو افرادو او منسوبینو ته عفوه او درګذر اعلان کړ، لیکلي یې و:

"د اسلامي امارت مخالفت کې چې چا هم برخه اخیستې وي، او په عموم کې هرهغه څوک چې د اسلامي امارت څخه تشویش لري، زموږ له طرفه ورته په ټبرو اعمالو عفوه او بخښش دی".

اسلامي نړۍ دغه تاریخي موقف وستایه او هغه یې د ترحم، شفقت او مهربانۍ له مخې د نبوي اخلاقو او سنت رښتینې تګلاره وګڼله.

څنګه چې اسلامي امارت عادلانه منهج او تګلاره لري، تعامل او برخورد یې هم له برداشت، ترحم، شفقت څخه خالي نه وي، حتی له خپل دښمن سره چې په یو ډګر کې ورسره جنګیدلی وي، دښمن چې کله ژوندی نیول شوی، ښه تعامل یې ورسره کړي، بیا یې له جیب خرڅ او تازه کالیو سره ېرته رخصت کړی، دا په رښتینې معنا سره دحقې لارې د حق لښکر اخلاقي تعامل او سالم منهج څرګندوي.

هو ! رښتیا هم انسانیت او بشریت سره دغه ستر انساني اخلاق، له پیله موږ ته په نبوي سنتو کې موجود دي او موږ ته دا احلاق اسلام رابښودلي او له همغه ځایه سرچینه نیسي.

خو دا معنا نه ده چې له دښمن دا ډول تعامل د جهاد سره په ټکر کې دی، بلکې کله چې دښمن یرغل راوړی، موږ یې په کلکه غبرګون ښودلی او کله چې دښمن جوړې ته غاړه اېښې موږ هغوی ته دخپل د امن او سلامتیا دین اصل ورپېژندلی چې اسلام د سولې دین دی او د اصلاح ، خیرخواهۍ او ټول انسانیت ته دسلامتیا، سوکالۍ او عزت ورکولو دین دی.

**له دښمن سره جهاد د حقد او حقارت له مخې؛ که د اصلاح لپاره**

د مکې فتحې نه وروسته کله چې غزوه حنین کېده او کفارو په حنین کې شکست وخوړ، پېغمبر صلی الله علیه وسلم صحابه و ته طائف ته د تللو او

دطائف کلابندي امر وکړ، کفارو مقاومت کاوه او مسلمانان يې بهر له کلا نه په نيزو ويشتل ، صحابه رضي الله عنهم هلته څه باندې ۲۰ ورځې کلابندي کې پاتې و، بيا نبي ته دا ښه وبرښيده چې کوچ وکړي، عبدالله بن عمرو رضي الله وايي چې رسول الله صلى الله عليه اعلان وکړ : إنا قافلون إن شاء الله. موږ ببرته ګرځيدونکي يو، نو ځينو صحابه وويل: چې موږ واپس کيږو او طائف مو لا فتحه کړی نه ده؟ نو هغه صلى الله عليه وسلم ورته وويل: که مو خوښه وي چې جنګ وکړئ نو کولای شئ، په سهار بيا جنګ شو، ځينې صحابه زخميان شول، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته د تللو امر وکړ... د ګرځيدلو په وخت کې ځينو صحابه وويل : اې د الله رسوله! ته ثقيف خلکو ته ښېرا وکړه: نو هغه صلى الله عليه وسلم : وفرمايل : اللهم اهدِ ثقيفا وأت بهم. اې الله ته ثقيف (قام) ته هدايت وکړه او دوی راوله، همغه و چې څنګه پيغمبر صلى الله عليه وسلم او صحابه مدينې ته ورسېدل دثقيف قبيلې خلکو د اسلام راوړلو او سولې ته د غاړې کيښودلو لپاره مدينې ته د سردارانو يو پلاوی ولېږه.

ثقيف هغه قام و چې مخکې يې هم رسول الله صلى الله عليه وسلم زوررولی و، او په خپل جاهليت کې ډير سخت و، سره له هغې پيغمبر صلى الله عليه وسلم ولې ورته ښېرا ونه کړه او نه يې په جګړې ټينګار وکړ؟ ځکه که د هغوی ختمول مقصود وای نو به هغه صلى الله عليه وسلم ورته ښېرا کړې وه، او په هغوی به عذاب نازل شوی و، مګر برعکس هغوی ته يې د هدايت دعا وکړه ، که څه هم دوی د طائف په حصار کې ډېر مقاومت وکړ خو پيغمبر صلى الله عليه وسلم پوهيده چې قوت يې په حنين کې اوبه شوی دی، او نور دوی طغيان نه کوي، ځکه يې هغوی پرېښودل.

دا زموږ ستر نبوي اخلاق دي، د اسلام مبارک دين د هرڅه لپاره خپل حدود ټاکلي، اسلام کې قتال يواځې د فتنې او فساد محوه کولو لپاره ده، د جهاد معنا هم يواځې قتال او جګړه نه ده، د جهاد پېژندنه فقهاء په دې ډول کوي: بذل الجهد في سبيل إعلاء كلمة الله وإقامة المجتمع الاسلامي، وبذل الجهد بالقتال نوع من أنواعه [فقه السيرة للبوطي رحمه الله: ۱۲۶] د الله تعالى دکلمې لوړولو او اسلامي ټولنې قائمولو لپاره خپل ټول توان او کوشش د الله تعالى په لاره کې مصرفول او دغه کوشش په جګړې (قتال) سره د جهاد يوه برخه او نوعه ده.

خو کله چې مسلمانان مجبور شي، په اسلامي امت او اسلامي مقدساتو تجاوز وشي يا هلته د يوساعت چوکيداري له ټولې دنيا او مافيها څخه غوره دی، هلته يا ځوی د خپل پلار او غلام د خپل بادار پې اجازې تللی شي. هلته يا مجاهدين او او په کور ناست خلک برابر نه دي.

خو کله چې ظلم، عدوان، تجاوز او په اسلامي مقدساتو تېری ختمېږي يا جهاد خپل اصل ته ګرځي، چې د اسلام رسول او خپرول دي، اسلامي مجتمع او ټولنه قائمول او د الله تعالى کلمه لوړول دي، يا جهاد څخه د ټول انسانيت فلاح، اصلاح او خير خواهي غوښتل او پدې لاره کې کوشش کول دي، او په هغې کې د کافر خيرخواهي هم شامله ده، ترڅو د قيامت د ورځې سخت او ابدي جهنم څخه وژغورل شي.

الله تعالی په قرآن کریم څه فرمایي : وجاهدهم به جهادا کبیرا ، او له دوی سره په قرآن کریم ستر جهاد وکړه، دجهاد معنی دا نه چې یواځې توره او توپک سره جهاد ، بلکې په قرآني تعامل ، اخلاقو، معتقداتو او په فکر سره جهاد وکړه.

**د اسلامي شریعت له مخې د کابل اداري له منسوبینو سره تعامل به څه وي؟**

د کابل حکومت ټول افراد او منسوبین مسلمانان دي، اسلامي امارت تراوسه دوی ته مرتد نه دي ویلي، خو یواځې دا چې داسلام دښمنانو او اشغالګرو سره د یوځو ټنګو لپاره دخپل مسلمان ولس په خلاف جګړه کوله. آیا له دوی سره به راتلونکی تعامل (برخورد) دشدت وي ، که د اسانۍ او خیرخواهۍ وي؟ په همدې بناء باید ووایو چې موږ هغوی سره جهـــــاد د شدت او انتقام لپاره نه کوو .

د کابل اداري سره قتال او جګړه مخکې د اشغال دملګرتیا له امله وه مګر اوس له دې امله ده چې یو غیر اسلامي نظام دی او نظام د یرغلګرو په وجود سره وجود ته راغلی او په موږ راتپلی غیرشرعي او غیر قانوني نظام دی. اسلامي امارت یواځې من حیث نظام ختمول غواړي، چې ځنګه یومسلمان افغانستان کې دې په غربي هیکل ، چوکاټ او قانون جوړ نظام چلیږي.

اوس چې یرغلګر تښتي او اشغال پای ته رسیږي، او امیر المومنین هم ورته د عفوې اعلان کوي، ځینې لیکوالان کوشش کوي، چې دا دین یواځې دځان کړي، دا جنګ جاري وساتي، د جګړې په دوارو خواوو کې داسې مفرطین خلک موجود دي وایي چې: طالبان د پاکستان خلک دي او دوی په هیڅ صورت د بښنې وړ نه دي او ځینې علماء بیا د کابل اداري ټول منسوبین له مسلمانۍ باسي او بیا یې د امیرالمؤمنین د عفوې وړ هم نه بولي.

زه وایم راځئ دا دین او افغانستان به د ټولو افغانانو سره شریک وګرځوو، پدې کې به مخالفین هم یوځای کړو، موږ ته د هغوی یواځې ظاهري اسلام کافي دی، ځنګه چې اسلام موږ ته دا اجازه نه راکوي چې په یو مشرک او کافر په زوره ایمان راوړو، دغسې دا هم نه دي روا چې د یو مسلمان مسلماني ربښتني ونه ګنو او د هغه فسق او فجور له مخې موږ د هغه وژل روا کړو او بیا یې ووژنو بلکې دا یواځې اسلام ته د استسلام او غاړې کیښودلو پورې محدود دي. موږ الله تعالی پدې مکلف کړي نه یو چې د دوی په زړونو کې به خامخا کاملا ایمان راولو، خو که دوی د اسلام عدل، ترحم نه ډک سولییز نظام وګوري او په دوامداره ډګې پاتې شي، بیا به په خپله د دوی په زړونو کې اسلام راځي او کامل مؤمن به ګرځي، الله تعالی فرمایي: {قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُلْ لَمْ تُؤْمِنُوا وَلَكِنْ قُولُوا أَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ} [الحجرات: 14] دغه باندچیان (صحرایي عرب) وایي چې موږ ایمان راوړ، دوی ته ووایه : تاسې ایمان نه دی راوړی، بلکې داسې ووایاست چې موږ اطاعت کوونکي شوو، ایمان لا تراوسه ستاسې په زړونو کې نه دی داخل شوی.

مورچل باید اسلام په کامله معنا وپیژنو، د مکي د فتحي پرمهال چې کله ابوسفیان اسلام راوړ، مسلمانان لا مکې ته نه و داخل شوي، دغه وخت مکه کې ټول مشرکین په اندیښنه کې وه چې څه به کیږي، نو عباس رضي الله عنه پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته وفرمایل : إن أبا سفیان رجل یحب الفخر فاجعل له شیئا. ابوسفیان یو داسې سړی دی، چې فخر او ویار خوښوي نو ده لپاره څه وکړه، هغه صلی الله علیه وسلم فرمایل: نعم ! من دخل دار أبي سفیان فهو آمن ومن أغلق علیه بابه فهوآمن، ومن دخل المسجد فهو آمن. که د ابوسفیان کورته څوک ننوتل په امن به وي، که چا خپل دروازه په ځان پسې بنده کړه، په امن به وي، که څوک جومات ته ننوتل ، په امن به وي. پیغمبر صلی الله علیه وسلم ټولو مشرکینو ته د امن زیری ورکړ، او عفوه یې اعلان کړه.

په همدې مهال پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته چا دغه خبره ورسوله چې سعد بن عبادة رضي الله عنه ابو سفیان ته وویل: الیوم یوم الملحمة الیوم تستحل الکعبة ... نن د سختي مقابلې ورځ ده او نن به کعبه هم د (وژلو لپاره) حلاله ګرځي. معنی دا چې تاسو لپاره په کعبه کې هم امن نشته، وژل کیږي به، پیغمبر صلی الله علیه وسلم د هغه په دې خبره ناخوښي وښوده، وې فرمایل: الیوم یوم الرحمة الیوم یعظم الکعبة... نن ورځ د رحمت ورځ ده، نن ورځ به د کعبې ډیر درناوی کیږي.

که د اسلامي امارت له دښمن سره نرم تعامل وګورو او بیا د امیر المؤمنین دغه پیغام ته ځیر شو چې د اشغال پای ته رسیدلو ترڅنګ وروسته سمدستي اعلان شو، او د کابل اداري ټولو منسوبینو ته پکې عفوه وشوه، دا موږ ته د مجاهدینو سالم منهج او د نبوي ټګلاره راښیي.

یوځوان چې دکابل اداري په بندیخانه کې زورېدلی و، ویل یې : امارت به څنګه هغو کسانو ته چې زموږ په وینو یې لاسونه سره دي، عفوه کوي، هغوی باید ووژل شي، ما ورته وویل: آیا تاته د هندې بنت عتبه کیسه نه ده معلومه چې د احد په غزوه کې یې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د تره حمزة رضي الله عنه سینه وشکوله او دهغه زړه یې په خپله خوله په غاښ او وژدویه ، خو پیغمبر صلی الله علیه وسلم د مکې فتحې پرمهال چې هنده ورته د بیعت لپاره راځي او اسلام راوړي یواځې دومره وایي چې ماته مخامخ مه راځه.

تاسې وګورئ اسلام موږ ته همدا راښیي، جهاد په خپل ځای، تعامل په خپل ځای، دواړه باید سره خلط نه کړو او د دواړو لپاره مقامونه وپیژنو. په هرصورت موږ باید د هدایت، اصلاح او جنت ته د لیږلو کوشش وکړو نه دا چې د ځینو مفرطینو په نرد ټول خلک کافران کړو او بیا یې جهنم ته په تللو خوشاله شو. دغه وخت چې دښمن تسلیم دی، شکست خوړلی، د توپک جهاد څخه جهاد په مال، په قلم، په اخلاقو ، په تعامل ، په ژبه او په وعظ غوره دی.

* * *

# د حديبې صلح، او د دوحې معاهده...!!

دوکتور قاضي مفضل الله ـ شمالي امريکا
ژباړه: م،ف

له څلورلسيزو جګړو وروسته بالآخره د سولې توافقنامه لاسليک شوه، تردې وړاندې د روسانو په وړاندې د جهاد د بريا پرمهال هم يوه معاهده شوې وه، مګر هغه ټرون د بشکيلو غاړو ترمنځ نه و، بلکې يو طرف که مجاهدين وو خو بل ارخ ته روسان نه وو، بل دا چې هغه معاهده فقط د روسانو د اخراج لپاره وه، په هغه ټرون کې پردې خبره نه وه شوې چې په افغانستان کې به تلپاتي سوله راوړله کيږي، د بهرنيو مداخلو مخه به ډب کيږي، او د بيا رغاوني چارې به ترسره کيږي. يعني هغه ټرون په ډېره ښه ترسره شو، ځکه يې په پايله کې هغه څه پېښ شول چې د تاريخ پاڼو ثبت کړل.

ښايي هغه مهال دنيا همدا غوښتل چې مجاهدين پخپلو کې سره اختې شي، او دنياوال د مسلمانانو ځپره په داسې ممسوخ شکل وګوري چې ګويا د دوی جهاد همدغه شی و، چې د قدرت او پيسو لپاره يې پيل کړی و.

او ظاهره خبره ده چې انسان خو څه فرښته نه ده، په هغه کې خو د حيوانيت عنصر هم موجود دی، عموماً په انسان کې همدغه حيوانی عنصر ـ زياتره غالب وي، مګر که چيرې د الله تعالی په فضل وکرم سره په هغه کې ملکوتي عنصر پر حيواني هغه غالب راسي او انسان د اعتدال حالت ته راولي.

او الله تعالی ته مطلوب هم انسان دی، په همدې خاطر يې وخت په وخت انبياء کرام ورته را لېږلي، ترڅو له انسان نه همغه انسان جوړ کړي چې په هغه کې همدا ملکوتي عنصر غالب وګرځي.

خو دا څل معاهده داسې ده چې د معضلې د دواړو اصلي ارخونو ترمنځ ده، که څه هم د امريکا له ارخه اوس هم يو افغان نژاده وګړی دا ټوله پروسه پرمخ يووړه، تر دې چې لاسليک هم د ده و. مګر نږ هغه د يو امريکايي په نوم پيژني.

د ټرون پرمهال د اړوند ټولو ارخونو بنسټيزې څرګندوني هيله ښونکي وې او له ورايه داسې څرګنديده چې ټولو دا څل د امن هيله درلوده.

په نيتونو خو بيا هم الله تعالی عالم دی، خو چې نول د دې هوډ څرګندوی چې په افغانستان کې به د بيا د پاره د مداخلې هڅې نه کوي؛ نو پوره اميد شته چې دا ټرون به د تلپاتي سولې باعث ګرځي.

په دې کې هیڅ شک او شبهه نشته چې په دې ټوله پروسه کې د افغان طالبانو ( د امریکا په خبره) او د اسلامي امارت ( د طالبانو په قول) بشکاره فتح او بریا په برخه ده او ترهرڅه ستره بریا خو یې دا ده چې هغوی رسماً ومنل شول. تر پرونه خو هغوی د شر محور ګڼل کیدل، په داسې حال کې چې هغوی خپله خپل جهاد حق، بلکې فرض ګانه او (د امریکا له دې لاسلیک نه) دلالةً ثابته شوه چې هغوی (طالبان) ریښتیا هم پرحق و.

د حدیبې صلح، چې الله تعالی ورته فتح مبین ویلې

۱ - یو خو له دې امله چې د رهبر پیروانو په لومړي سر کې د هر تحفظات درلودل، خو کله چې رهبر پریکړه وکړه، نو ټولو منونکو یې پرته له لیت و لعل نه پرسر سترګو قبوله کړه.

د طالبانو مشرانو هم چې د جګړې د کمښت ژمنه وکړه، نو رتیا هم چې په همغه اوو ورځو کې په ټول هیواد کې په پټو سترګو عملي شوه.

۲ - دویم له دې وجې د حدیبې صلحې ته فتح مبین ویل شوي، چې تر پرونه پورې خو د مکې مشرکین دې ته تیار نه وو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم (پیغمبرې) حیثیت رسماً ومني. مګر نن یې د یو سیال په توګه ومانه، او هغه ته یې رسمي حیثیت ورکړ، او د مدیني ریاست یې د یو قانوني نظام په شکل قبول کړ.

۳ - درېیم دا چې د مکې مشرکین هم پخپله نبی علیه السلام ته د معاهدې د لاسلیک لپاره حدیبې ته راغلل، او د طالبانو دفتر ته هم د هغوی مقابل خلک پخپله راغلل ترڅو ترون ورسره امضاء کړي.

بهرحال د دوحې په معاهده کې د امیدواری خبره دا وه چې طالب مشرانو خپل ولس ته د مبارکۍ ترڅنګ هغوی ته توصیه کوله چې د غرور او تکبر پرځای باید د الله تعالی شکر ادا کړئ، تر دې چې د مخالفینو په وراندې یې له طنز کولو نه هم خپل پلویان منع کړل. په عین حال کې د طالبانو عمومي امیر د خپلو مخالفینو لپاره هم د نیکو خواهشاتو څرګندوني وکړي. (هغوی ته یې د عمومي عفوې اعلان وکړ.)

په پاکستان کې د طالبانو د اسلامي امارت پخواني سفیر عبدالسلام ضعیف پخپل یو بیان کې وویل، چې طالبانو اوس دهر څه زده کړي، چې په مټ یې کولای شي، له نړۍ سره وچلیږي. دا ډول دهرې څرګندوني هغه څه دي چې باید وستایلي شي او هیله بحښونکي دي.

ترکومه ځایه چې د ترون د لغوه کیدو خبره ده، چې اوریدل کیږي د امریکایانو لخوا ویل شوي؛ چې که طالبان خلاف ورزي وکړي، معاهده به ورسره لغوه شي، دا ډول خبره د ټرمپ له څرګندونو هم مالومه شوې، مګر په عین حال کې ټرمپ له معاهدې نه دهر خوښ هم مالومیږي. او دا چې اشرف غني ویلي چې د پنځه زره طالبانو د خلاصون مسئله د معاهدې برخه نه ده، بلکې دا د بین الأفغاني ډایلاګ برخه کیدای شي. په داسې حساسو حالاتو کې دا ډول بیانات ورکول، زما په خیال چې د هغوی مجبوري ګڼله کیږي.

د مح پریوللو او اوړو پوزې جوړولو لپاره حو څه ناڅه ویل اړین وي، ترڅو خلک دا ګمان ونکړي چې شا پرځمکه په زور لګیدلي، بلکې دا ګمان وکړي چې شا پخپله خوښه د آرام لپاره لکول شوې.

نو دا ډول څرګندونو ته نه ډېره هـوا ورکـول پکار دی او نه ورته ډېره توجه پکار ده. چې د سـولې فضا خړه پړه کړي. او د سبوتاژ آثار تري څرګند شي. او یا د سبوتاژ کوونکو هیلې پوره شي.

د پاکستان ځینو ورځپانو په همغـه ورځ دا ډول بیانات خبري سرټکي وګرځول چې ګویا اشرف غني د معاهدې له مهم شرط نه انکار وکړ، پکار نه و چـې دا ډول منفي څرګندوني خبري سرټکي وګرځول شي.

ځکه دا د سولې له سبوتاژ کوونکو سره یو ډول مرسته ګڼله کیږي، په دې سره د سبوتاژ کوونکو هغه ارمان پوره کیږي، چې سـوله ناکامـه او پرځـای یـې ویني بهیدل دوام وکړي، او کـورنۍ جګـړې تـه لاره خلاصه شي.

زه فکـر کـوم د اشرف غنـي او نـورو دا ډول بیانات اصلاً د دې لپاره دي چې پر طالبانو فشار وارد کړل شي، تر ټرون وړاندې هم پرطالبانو ډېـر فشـار واچول شو ترڅو د ده حکومت د څلورو نورو کلونـو لپاره ومني. مګر هغـوی انکـار وکـړ، او دا دی اوس یوځل بیا همغه حربه کارولـه کیږي، چې پـه طالبـانو خپل فشار جاري وساتل شي، تر دې وړانـدې هـم د پاکستان په وسـیله پرطالبـانو فشـار راوړل کیـده او وروسته به هم تر یو مهاله دا کار کیږي، که بې پایلې شوه، بیا به د اشرف غني لخوا اعلان کیـږي چـې پـه هیواد کې د سولې پخاطر د بندیانو خلاصون ته تیـار یم.

ترڅو یې په افغانستان کې حیثیت پرخپل خـای پاتې شي. د مقاصدو د ترلاسـه کولـو لپـاره د لـوبې اصلي لوبغاړي خپلې مهرې په همدې شـکل کـاروي. کله چې یې استعمال ورته مفید تمام نشي، یا یې ارتیا پیدا نشي، بیا یې پخپله هم له منځه وړي.

مګر اوس هم د بدنیتي یـوه کرکـې پرانیسـتي پاتې ده؛ هغه دا چې امریکا اوس هم څار کـوي چـې وګوري طالبان څومره ټرون ته ژمن پاتې کیږي، ځکه چې له دغې خطې نه هیڅوک هم په مکمل ډول ځـان لاتعلقه نه ګرځوي.

دوی فکر کوي چې بیا د روس د وخـت حـالات رامنځ ته نشي، همدا وجه ده چې د خارجه وزیـر پـه شتون کې یې هم لاسلیک په زلمي خلیلزاد وکړ.

هندوستان هم خپل کړي لګښتونه ضایع کیدلو ته نه پریږدي، هغوی به هڅې وکړي چې خپلې مُهرې د بین الأفغاني مذاکراتو پرمهال وکاروي. چې په یو نه یو شکل دا پروسه سبوتاژ کړي، کـه خـدای مکـړه دا سي څه رامنځ ته کیږي بیا به یې هم هڅه دا وي چې پړه یې پر طالبـانو وړواچـوي. او پـه دې شـکل بـه معاهده تخریب کړي.

مګر نړیوالو ته دا فکـر کـول پکـار دی، چـې افغانانو هم د نورې نړۍ د انسانانو په څیر انسـانان دي، حق لري چې د نورو انسانانو په څیر په امـن او ثبات کې ژونـد وکـړي، ترڅـو بـه دوی د نړیوالـو د دسیسو ښکار وي. جګړې خو هسې هم د مسئلې حل نه وي، بالآخر به بیا هم د ستونزو په حل کې تفاهم ته ارتیا وي.

الله تعالی دې وکړي چې نور په نړۍ خصوصـاً په دغه خاصه خطـه کـې د امـن او سـوکالۍ څـادر وغوړیږي، نن چې د نړۍ په هره برخه کـې ګـډوډي وي؛ ټوله نړۍ بې ثباته کولای شي. د تلپاتي سولې په هیله.

پای .....!

# اخلاقي جوړښت د بري راز دی

ليکنه ابو إحسان عامر

اخلاق په اسلام کې ځانګړی مقام او اهمیت لري، اسلام کې نه یوازې دا چې د اخلاقو پر جوړښت او تحسین ټینګار شوی بلکې ښو اخلاقو ته د اسلام نوم ورکول شوی. اخلاق هغه الهي رحمت او هغه جنتي جامه ده چې اشخاص او ټولنې خو څه ، هر عبادت ورباندې ښکلی کیږي.

اخلاق د الله {تعالی} او د هغه درسول {ﷺ} د امر امتثال او د الله {تعالی} او د مخلوق د رضا خورا لنډه لاره ده.

الله {تعالی} انسان ته د کامیابی لارښوونه کوي او د اخلاقي جوړښت په اړه ورته داسې ارشاد کوي:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُونُوا۟ خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَآءٌ مِّن نِّسَآءٍ عَسَىٰٓ أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ ۖ وَلَا تَلْمِزُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا۟ بِٱلْأَلْقَٰبِ ۖ بِئْسَ ٱلِٱسْمُ ٱلْفُسُوقُ بَعْدَ ٱلْإِيمَٰنِ ۚ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱجْتَنِبُوا۟ كَثِيرًا مِّنَ ٱلظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ ٱلظَّنِّ إِثْمٌ ۖ وَلَا تَجَسَّسُوا۟ وَلَا يَغْتَب بَّعْضُكُم بَعْضًا ۚ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَن يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ تَوَّابٌ رَّحِيمٌ. [سُورَةُ الحُجرَات: ١٢]

ژباړه: اې مؤمنانو! نه دي له تاسو نارینه پر نورو نارینه ژ ملنډې وهي، کېدی شي چې هغوی له دوی څخه غوره وي. او نه دي ښځې په نورو ښځو ملنډې وهي، کېدای شي چې هغوی له دوی څخه غوره وي. پخپلو منځو کې یو د بل عیب مه لټوئ، او مه یو بل په بدو نومونو سره یادوئ. له ایمان راوړلو وروسته په فسق کې نوم پیدا کول ډېره بده خبره ده. کوم کسان چې دغه کار پرېږدي (توبه ونه باسي)، هم هغوی ظالمان دي.

اې مؤمنانو، له ډېر ګومان کولو څخه ډډه وکړئ، چې ځینې

گومانونه ګناه وي. د چا پټ عيبونه مه لټوئ او ستاسي څخه دي څوك د چا غيبت نه كوي. ايا په تاسې كې داسې څوك شته چې د خپل مړه ورور غوښې خوړل خوښ كړي؟ - ګورئ تاسې پخپله د دې څخه كركه كوئ. د الله څخه ووېرېږئ. الله ډېر ښه توبه قبلوونكى او خورا مهربان دى.

اخلاقو ته كه د نبوي صورت او سيرت په هنداره كې وكتل شي، د اخلاقو د جوړښت او تحسين په هكله زيات احاديث رانقل شوي او امت ته امر شوى تر څو د ښو اخلاقو په مټ دنيوي او اخروي نيكمرغي خپله كړي.

رسول الله {ﷺ} د حسنه اخلاقو داسې نمونه وه چې الله {تعالى} ورته ستاينه كې داسې فرمائي:وانك لعلى خلق عظيم.

يو أعرابي و حضرت علي كرم الله وجهه ته وويل چې د رسول{ﷺ} أخلاق أو كردار راته بيان كړه أو راته ويې شميره.

حضرت علي كرم الله وجهه ورته وويل چې ته شميرل پيژني؟ هغه ورته وويل هو، حضرت علي الله رضي الله عنه ورته وويل نو ته ماته د دنيا متاع أو منفعتونه را وشميره، هغه ورته وويل چې دا نه شميرل كيږي، حضرت علي كرم الله وجهه ورته وويل چې ته د هغه څه د شميرلو څخه عاجزه سوي چې الله رب العزت ورته لږ ويلې ( قل متاع الدنيا قليل ) د دنيا متاع لږ ده، أو زما څخه د هغه شي د شميرلو غوښتنه كوي چې الله جل جلاله ورته عظيم ويلى ( وانك لعلى خلق عظيم) په تحقيق سره ته د لويو اخلاقو څښتن يې.

هو: أخلاق د رسول الله {ﷺ} په اند او شريعت كې تر دې حده اهميت لري چې رسول الله {ﷺ} د خپل بعثت عمده لامل اخلاقي جوړښت ښيي او وايي: انمابعثت لاتمم مكارم الاخلاق. زه د دې لپاره د پيغمبر په توګه رالېږل شوى يم تر څو ښه اخلاق پوره كړم.

همدارنګه امت ته لارښوونه كوي چې ستاسو د دنيا او اخرت كاميابي د ښو اخلاقو په انتخاب او تعميل كې ده.

له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وشوه په مؤمنانو كې كوم مؤمن بهتر دى ، نبي ﷺ ورته وويل: (احسنهم اخلاقا) هغه كس چې ښه اخلاق ولري. رسول الله ﷺ په دې اړه زياتوي: (ان أحبكم الي واقربكم مني مجلسا يوم القيامة أحاسنكم أخلاقا).دقيامت په ورځ په تاسوكې ماته زيات محبوب اوډيرنژدې په مجلس كې هغه څوك دى چې ښه اخلاق ولري. همدارنګه فرمايي : مَامن شَيءٍ أَثقَلُ فِي مِيزانِ العَبدِ المُؤمِنِ يَومَ القِيامَةِ مِن حُسنِ الخُلُقِ وَانَّ اللهَ يُبغِضُ الفَاحِشَ البَذِي (ترمذى).د قيامت په ورځ به د مؤمن بنده لپاره بل هيڅ يوعمل بغير له ښواخلاقو نه زيات وزندار نه وي الله تعالى

بیهوده خبرې کونکی اوبی حیاء خبرې کونکی بد ګڼي .

اخلاق لکه ډېوه د دنیا څلور کونجه کې د هر دود او قوم واړه او زاړه ورته ضرورت لري او ټول یې پر کمال او جمال یوه خوله دي ، اخلاق د ټولنې وجود کې د روح ځای لري، بې اخلاقو ټولنه بې ژونده ټولنه وي.

مجاهد او داعي که غواړي مبارزه یې رنګینه او مثمره شي باید لومړی اخلاق له ځان او کورنۍ نه پیل کړي تر څو نور یې د مخنیوي پر ځای لاس نیوی وکړي. ثابته خبره ده څوک چې د أخلاقو له ټمرې او سرمایې نه برخه ونه لري هغه د خلقو له مینځ او تمدن نه خالي څولی وزي.

**اخلاق غوره دعوت کوونکي دي:**

لکه څنګه چې فیزیکي جوړښت او ظاهري ښکلا کولای شي د مقابل لوري لیمې او نظر راجلب او پر ځان را تم کړي، همدارنګه نېک اخلاق کولای شي چې پر نظرونو سربېره د خلقو زړونه هم د ځان خواته جلب او له ځان نه چاړېر کړي.

اخلاق لکه خوږه خوشبو کولای شي چې په پته خوله دعوت وکړي او ځان سره د یو شخص یا یو نظام فیغام تر نورو نه یوازې دا چې ولېږدوي بلکې د هغوی د زړهٔ دنیا ته خپل رنګ ورکوي او هغوی د خپل مسیر او ادعا منلو ته جوړوي.

**اخلاقي ځواک زړونه او ښارونه غبرګ فتح کوي:**

د یوې ډلې یا یوه هیواد نظامي ځواک که هرڅومره پرېمان وسائل او پرسونل ولري خو چې اخلاقي ځواک ونه لري هغوی به په سترو مصارفو، تلفاتو او ډېرو سترو وکولای شي چې ځینې سیمې تر خپله ولکه لاندې راولي، دا هم یقیني ده چې هلته هغوی خپل ځان او فکر نشي- مطرح کولای ، چې څومره ژر وي بیرته په هغه لاسته راوړنې چې په درانه قیمت یې تر لاسه کړي، له لاسه ورکوي.

البته: هغه ټولنه یا فکر چې په اخلاقي برخه کې پر ځان متکي او بډایه وي هغوی بې له کومو مصارفو او تلفاتو کولای شي چې پر پراخو زړونو او دولتونو خپل فکر نقش کړي او د تل لپاره هلته میشت او واکمن شي.

**د اخلاقو ارزښت او زمونږ مسؤلیت:**

اخلاق د یوه خوشحاله مستقبل ضمانت کوي، اخلاق هغه ستره معنوي او روحي سرمایه ده چې نه د غلا او نه د ورکې له خطر سره مخ کیږي، نه په زیات مصرف او نه د زیات وخت په تېرولو سره ختمیږي بلکې لا پوره کیږي او زیاتیږي. اخلاق داسې هم نه دي چې انسان یې په لاس ته راوړلو کې زیاتې ستړیا او درد ته اړکیږي بلکې تر هر څه وړیا او اسانه تر لاسه کیږي ، له عبدالله

بن عباس رَضِيَ الله عنهُ نه چا وپوښتل ښه اخلاق څه دي؟ هغه مبارک يې ځواب کې زياته کړه: (حُسنُ الخُلُقِ أمْرٌ هَيِّنٌ وَجهٌ بَشوشٌ وكلامٌ لَيِّنٌ) اخلاق يوه اسانه لاره اخلاق د خندان مخ او نرمې وينا نوم دی.

حسن بصري (رحمه الله) بيا اخلاق داسې راپېژني : د تندی ورين ساتلو، سخا او د ضرر نه رسولو ته ښه اخلاق ويل کيږي.

بناءً مورږ لکه څنګه چې د ځان او اولاد لپاره د دنيوي ګټې او ښې جامې په لټه کې يو همدارنګه زمورږ دنده جوړيږي چې د ځان او نوي نسل لپاره دنيوي او اخروي ګټې ولټوو، هغوی ته د جنت نېغه لاره په ګوته کړو او د شيطان او کفري دنيا له پټو دسيسو او جالونو نه يې وژغورو.

په روان دور کې د نړۍ په هره نقطه کې چيرته چې مؤمن اولسونه ژوند کوي د هغوی ملي او معنوي شتمنی د غرب او کافرې نړۍ د کاري غشو هدف ګرځېدلې،غرب لګيا دی چې په هر څومره درانه قيمت او زيات وخت کېدلای شي د مسلمانانو مادي او معنوي هستی له مينځه وړي.

غرب له يې سرحده، تيټې او درنې عسکري جګړې سره جوړه ستره فکري او اخلاقي جګړه هم پر مخ وړي او دې برخه کې يې سلګونه شيطاني رسنی او زيات بې ضميره د انسان کالبوت کې پټ انسي شيطانان پر کار ګومارلي.

تېر ۲۰۱۸ کال د نومبر مياشته کې مې د بي بي سي برطانوی راډيو سهارنی پښتو خپرونه کې دا خبره تر غوږ شوه: (چې افغانستان کې دا مهال تر دوه سوه زياتې تلويزيوني شبکې فعاليت کوي). دا خو هغه رسنی دي چې دوی يې مني ، هغه دعوتي شبکې او حربي چې دوی يې له غير مستقيم لارې مخ ته وړي د هغوی د کره شمېر او دندې په اړه خو څوک معلومات نه لري.

غرب دې نتيجې ته رسېدلی: تر څو چې دلته ځوان نسل له نبوي سيرت نه رنګ اخلي تر هغه به د دوی د شيطاني مکر منتر کار نه کوي او د دوی ځپې به زمورږ تورې څټې، نو.ځکه يې اوس د ځوان نسل اخلاقي فساد او فکري ارتداد ته کار ويلی ، شپه ورځ يې يوه کړې ، له مورږ څخه زمورږ اخلاقي او ايماني جزبې توږي او پر ځای يې خپل خود ساخته طاغوتي فکر دودوي.

د فتنو په دې دور او د فکري يرغل په دې زهرجنه فضا کې که خدای مکړه مورږ په فکري او اخلاقي برخه کې غفلت وکړو نو دابه زمورږ د ځان وژنې په معنی وي ، بايد هر داعي او مبارز تر هر څه وړاندې اخلاقي او فکري تنوير ته اولويت ورکړي.

اللهم أحفظنا من النفاق والشقاق وسوء الأخلاق

# د اشغال د خاتمې ستراتېژيک تړون

سعد کتوازی

تاریخ لیکي چې د روم او فارس (اوسنۍ امریکا او ایران) ترمنځ د۷۰۰کاله په اوږدو کې له۱۰۰۰څخه زیاتې حګرې وشوې خو یوه هم بری ونه موند، ورپسې خالد بن ولید رضي الله عنه لوڅې پښې او لوڅ تن د اسلام هغه لښکر را ویوست چې پر الله تعالی یې ږښتونی ایمان درلود، فارس ته یې په۱۵او روم ته یې په۹جګړو کې ماتې ورکړه او په۴کلونو کې یې پر دوارو بری وموند، پر۱۲هجري کال دې دواړه امپراطوریو د دوه لکه (۲۰۰۰۰۰) جنګیالو ګډ ائتلافي لښکر جوړ کړ چې هغه ته هم پښځلس زره (۱۵۰۰۰) مسلمانانو ماتې ورکړه.

د۲۰کاله مخکې او بیا تر اوسه پورې د یو وروستو پاتې هېواد (افغانستان) کمزورې نظام (اسلامي امارت) له ابرقدرت (امریکا) څخه ازادي او خپلواکي ګټل هم څه دېته ورته برېښي، امریکا چې۲۰کاله وړاندې ابر قدرت وه، د چین، روسیې او برطانیې په ګډون ټوله نړۍ یې د طالبانو پر وړاندې تر شا ولاړه وه، کورنۍ لاسپوڅي او د طالبانو مخالفین خو یې په کور دننه پواځیني هغه څوک ول چې له دغه یرغل څخه یې هرکلی وکړ او د ائتلاف برخه یې شول، له دومره زور او شور او هغه تبلیغاتي ځوړ سره چې سرونه یې انفجارول د طالبانو تر واک لاندې ساحه باندې امریکا یرغل وکړ او نظام یې ور ونړاوه.

شل کاله یې له هرې وسلې او وسیلې څخه کار اخیستې، خو له دومره اوږدې مودې پرلپسې جګړې پرته یې هیڅ ترلاسه نکړل او په جګړه کې نه پواځي دا چې درنه مالي او ځاني ضربه ورته ورسېده، بلکې نړیوال برم یې هم پر خمکه را پرېوت، د امریکا حکومت او هم د ملت باور ته یې په نړیواله کچه توند ټکان ورکړ او اخبر یې هم خپله ماتې، د طالبانو د داعیې برحق والی او د هغې پر سر یې د جګړې او ډیپلوماسۍ ګټل رسماً ومنل، والحمدلله.

برعکس طالبانو پواځي د خپل هېواد پر۹۵سلنه واک درلود، مالي او پوځي تجهیز او د نظام جوړښت یې خورا کمزورې وه، د امریکا له یرغل سره یې دا هم له لاسه ورکړل، هرڅه یې صفر ته ټېټ شول او پواځي د خدای ج ځسره او وعده، د هېواد ځینې غرونه او سمڅې او د هغه ملت زړونه یې له ځان سره لرل چې د دوی تر واک لاندې یې خو ورځې هوسا او سوکاله تېرې کړې وې، له همدغه صفر څخه یې د امریکایي یرغل پر وړاندې متې را ونغښتې او کرار د خدای ج نصرت او د ملت ملاتړ پراخېده ورسره د طالبانو ځاني او مالي قربانۍ هم لوړې شوې.

پایله دا شوه چې د اسلام په تاریخ کې د احزاب له جګړې وروسته دوهم تر ټولو ستر ائتلاف او صلیبي امپراطوري یې ماته او بیا درې وړې هم کړه، پر امریکا او ائتلافیانو یې خپله ماتې رسماً ومنله، له خپلو شرائطو او غوښتنو سره سمه ازادي یې تړې واخیسته، د هغوی له لوړې نړول شوی خپل اسلامي نظام یې له بشپړ برحاله کولو وړاندې پر هغوی هر یوه جلا پر رسمیت وپېژاند، ورسره یې د خپل ملت پر استازولۍ راتلونکي نوي هېواد، ولس او نظام سره د حسنه اړیکو او هر اړخیزو مرستو ژمنه هم تړې واخیسته او دا څکه چې طالبان اوس هم د مادي امکاناتو له پلوه کمزوي دي، امریکایي امپراطورۍ ته یې بشپړه او هر اړخیزه ماتې په ډېرو لږو امکاناتو ور کړې، کوم چې یو هېواد او د هغه ولس او نظام پرې نشي- بسیا کېدلی.

د طالبانو او امریکا ترمنځ د افغانستان د اشغال د خاتمې هغه پرېکړه لیک چې د قطر په پلازمېنه دوحه کې

له څه باندې يو کال راسې پرې کار کېده د روانې کب میاشتې پر۱۰مه چې د۲۰۲۰زېږدیز کال فروی میاشتې له۲۹مې سره برابره وه د شیراتون په نوم د دوحې پنځه ستوریز هیلمستون کې د شاوخوا۳۰هېوادونو لوړپوړو چارواکو او ګڼو نړیوالو سازمانونو په شتون کې لاسلیک شو، د نړۍ او سیمې هېوادونو ترڅنګ ګڼ شمیر لوړو شخصیتونو له لوري یې پراخ هرکلی وشو، هېوادوالو پر کوردننه او هم بهر دا خپله یوه تر ټولو ستره تاریخي سوبه وبلله او پر خوښیو یې ولمانځله.

سوله په لومړي ځل۴۰کاله مخکې د شاهي نظام له منګولو کمونیزم او شوروي یرغل یووړه، د هغه له ماتې سره سم یوځل بیا یې هیلې راتوکېدلې وې، خو د واک وړو له همدې هیلو سره ببرته پرې خاوري واړولې، ور پسې د مرحوم ملامحمدعمر مجاهد رحمه الله پر هڅو د طالبانو اسلامي تحریک راپاڅېد، د سولې ایساري هیلې یې یو ځل بیا را پورته او تر واک لاندې یې د هېواد پر ۹۵%سلنه د سولې او سوکالۍ فضا خوره شوه.

خو دا ځل بیا زمونږ سوله ایز ژوند د امریکا له زغمه ووت، سره له دې چې په تېر کې یې له شوروي یرغل څخه د ازادۍ او سولې ببرته ترلاسه کولو په نوم زمونږ ملاتړ کړی وه، خو بیا هم امریکا بهانه جوړې وکړه، کوم چې د تېر جهاد پر مهال یې مجاهدینو وراندوینه کړې وه، همغه و چې پر۱۳۸۰لمریز کال یې پر هېواد یرغل راوړ، د طالبانو د سوله ایز حل وړاندېز یې ونه مانه، د افغانانو پر خپل مټ نوې را زرغونه شوې سوله او سوله ایز ژوند یې برباد وکړ، مرګونه، ویرونه، ټپاري، شپنې چاپې، بریدونه، چاودنې، شکنجې، وراني وېجاړي او هر ډول ناامنۍ یې را منځته کړې چې تر اوسه یې دوام درلود.

د کب ۱۰ مې د اشغال د خاتمې ترون د هېواد ځلوېښت کلنې کشالې د هواړۍ، له منځه تللې سولې د راستنېدو او د نوې افغانستان تلپاتې سوکالۍ او هوساینې یوه تر ټولو ستره او غوره پېلامه ده، زمونږ د هېواد په تاریخ کې دلته درې نړیوالې امپراطورۍ غرقې شوې او د هغو پېنځه یرغلونه مات شوې، خو ځینې وخت چې په استعماري شکل اشغال پای ته رسولو کوم ترونونه رامنځته شوې، لکه له نن څخه کابو۱۰۰کاله وړاندې د اسد میاشتې د۱۷مې ترون چې بیا د هغې پر۲۸مه د وخت واکمن امان الله خان له لوري تائید شو که له یوې خوا د پر دیو یا لږ تر لږه پردیپالو له لوري شوې و او داسې نه و چې چا ازادې ګټلې هغو یې ترون هم ترسره کړی وي، له بلې خوا په داسې فضاء کې، له دومره دقت او جر وبحث وروسته هر اړخیز او د وخت پر غوښتنو پوره نه ول.

دا چې د طالبانو پر وړاندې د نړۍ۴۹هېوادونو پر مباشر مالي او پوځي او نورو پر غیر مباشر ملاتړ د وروستي ابر قدرت په توګه امریکایي/صلیبي امپراطورۍ د خپل تاریخ په تر ټولو اوږده جګړه کې سخته، لویه او له زیانونو ډکه ماتې وخوړه، د کب ۱۰ مې د اشغال د خاتمې ترون چې پکې امریکا پر خپله دغه ماتې، ورسره د طالبانو د داعیې برحق والی او پکې بشپړ بریالیتوب کوم چې بش، اوباما او ټرمپ دریو امپراطورانو یې فکر هم تش خیال، محال او جنون ګڼلی وه اعتراف لاسلیک شوی، همدا لامل دی چې دغه ترون له خانګړي اهمیته برخمن او د افغانانو پر استازولۍ د طالبانو یوه ستره سوبه او بریا ده.

د زمان او مکان د یو خانګړي مقطع له اړخه هم د اشغال د خاتمې ترون یو تاریخي حیثیت لري، په یو داسې مهال چې د افغانستان، کشمیر، هند، فلسطین، برما، یمن، سوریې، عراق، مصر، لیبیا، چین او ځینې لوېدیځو هېوادونو کې مسلمانو لړکیو په ګډون اسلامي نړۍ او مسلمان ملتونه په یو او بل نوم له سختو کړاونو،ریږونو، فکري او کلتوري یرغلونو سره مخ دي او د کفري لړکیو له لوري په درسته نړۍ کې مسلمانان محکوم بربېنې.

همدارنګه له جغرافیوي، فزیکي جوړښت(پرېمانه طبیعي زېرمو او کتوري آب وهوا)، فکري او عقېدوي لحاظونو افغانستان هغه ستراتېژیک هېواد دی چې خانګرنو ته یې پر کتو د هر وخت امپراطوران د خپل یرغل په نقشه کې نېول شویو هېوادونو اشغال له هغه پرته بې ګټې او نېمګړی ګڼي او بیا یې اشغال ته لکه چې وېنو د شل کاله خونړیو جګړو، درنو مالي او خاني زیانونو او حتي د خپلو امپراطوریو او ائتلافونو د نړېدو ارزښت ور کوي چې همدلته د ناټو اتحاد، شوروي اتحاد او دا دی صلیبي اتحاد درې وړې کېدل یې ژوندۍ بېلګې دي، لنډه دا چې نړیوالو امپراطورانو ته د یرغلونو په پلان او د هغه په تطبیق دواړو کې د افغانستان اشغال سر فهرست لومړیتوب دی.

خو موږ هم میلیونونه نفوس خوانان لرو او د خپل ستراتېژیک هېواد، فکر، فرهنګ او ارزښتونو دفاع مو پرې ارزي، پر الله تعالی او د هغه د نصرت پر وعده ایمان او د دفاع او هم برنا لپاره د جهاد۱۴۰۰کلنه محرمه نسخه لرو، نور نه کوم لنډمهالي او اوږد مهالي پلان، نه کومې امپراطورۍ او نه هم د لوېو او اوږدو جګړو بودیجې ته اړتیا شته، پلان مو جهاد، خواک او بودیجه مو د الله تعالی نصرت، خوانان او د ولس ملاتړ دی چې له۱۴۰۰کاله راسې یې لرو، تر اوسه مو هم ترې ګټه پورته کړې او د پایلو یې شاهد یو، بیا به یې هم ترې پورته کوو او ان شاءالله په فکري او فرهنګي جګړو کې به هم ګټونکي موږ یو.

غرض د اسلامي نړۍ او مسلمانو ملتونو له منځه یواځې د افغانانو پر وړاندې له شل کلنې خونړۍ جګړې وروسته د وخت ابرقدرت یرغلګر او بشپړې امپراطورۍ د ماتې او تسلیمۍ سر خم کول، د هغوی هر اړخیز برې منل، د جهاد۱۴۰۰کلنې نسخې (چې امپراطورانو ورته ترهګرۍ ویله) له لارې ۴۰کاله محکوم، جګړه ځپلې او مظلوم مسلمان ولس ازادي او په نړیوال عام محضر- کې د دې هرڅه د رسمي سند په حیث له یاد ایر قدرت! او امپراطورانو څخه د افغانستان په څېر هېواد د اشغال د خاتمې او خپلواکۍ تراسه کولو ستراتېژیک ټرون اخیستل تاریخ جوړونکي فتحه او سوبه ده او ان شاء الله دا به د یرغلونو د پای ټکی او د تلپاتې سولې پیلامه وي.

د افغانانو دغه فتحه د نړۍ مسلمانو او محکومو ملتونو ته د جهاد روحیه، د ازادۍ الهام او دا پیغام ور کوي چې که را ویښ شي، هڅه وکړي او خپل دین په ښه توګه عملي کړي هغسې نه لکه چې جمهوریتونه او نړیوال یې غواړي، نو په لنډ وخت کې د افغانانو په څېر بشپړه ازادي تراسه کولای شي، طالبانو دوی ته د لوېدیځوالو د ترهګرۍ اصطلاح هم تشریح کړه، هغه مسلمان ملتونه او ډلې چې لوېدیځوال یې د خپلو ګټو پر وړاندې ګواښ ګڼي تر هغه چې دوی کمزوري موقف ولري هغوی ور ته ترهګري وایي او د بشپړ له منځه وړلو لپاره یې له خورا سخت موقف څخه ورته را وړاندې کېږي.

د موقف لورولی د مسئولیت پر قوي احساس، ربښتوني ژمنتیا، یووالي او د رهبرۍ پر خواکمنتیا ولاړ دی، نه پر اشخاصو، موږ ولیدل د افغانستان د ازادۍ او خپلواکۍ ګټني کلیدي اشخاص یو مهال د همدغه ماتې خوړلي ابرقدرت په لاس کې له هر ډول انساني حقونو بې برخې کړل شوي اسیران ول چې تري زیات کمزوری بل نه وه، نو که همدغه محکوم ملتونه او ډلې د مسئولیت احساس او ورته ژمنتیا ولري، تر خواکمنه رهبري لاندې وسلوال جهاد ته متې را ونغاړي او د خپل دین د یوې مهمې فریضې په توګه حق جهاد وکړي، له لوېدیځوالو خپل موقف لورولای شي او بیا به ډېر زر د ترهګرۍ له تور لیست څخه د خپلواکۍ غوښتونکو سر فهرست وګرځي، د خپلې ازادۍ او خپلواکۍ ورځ به ولمانځي او کله به هم په کراونو او ریږونو کې ونه اوسي.

امریکا ته د پخواني جهاد له وخته لا د افغانانو زړونه ډک ول، همدلته یې لا د یرغل وراندویني شوې وې او بیا عملاً هم دوی پر افغانانو جګړه وتپله او د ځان دفاع ته یې اړ کړل ترڅو له هره اړخه پکې وټکول شي، خو طالبانو بیا د دې لپاره چې امریکا د تل لپاره له پښو وغورځي او بیا کله هم پر کوم مسلمان ملت د برید هڅه ونکړي دغه پرې ټپل شوې جګړه کې هم له خپلې خوښې سره امریکا را ښکېل او ونښلوله، امریکا دلته په جګړه کې بنده پاتې او تر هغه چې بشپړ زېښې یې وباسي طالبانو وتلو ته هم پرې نښوده او بیا نړۍ ولیدل چې جګړه او حل یې دواړه د امریکا له واکه ووتل، طالبانو چې څه غوښتل هغه یې وکړل، اخېر د اشغال د ماتې ټرون هم د طالبانو له خوښې او غوښتنو سره سم وشو.

دې چارې پر نړۍ د امریکا د رعب پروت څادر ایسته کړ، د رعب او دبدبې پر زور حېل کړو ائتلافیانو یې د طالبانو پر وړاندې ښه وپېژندله او هغه نړواله دبدبه یې له منځه لاړه چې پرې لومړی ابر قدرت یادېدله، شل کاله مخکې که کوم هېواد د امریکا د ائتلاف برخه نه وای جوړ شوی، نو د هغې د رعب او دبدبې له امله به د طالبانو په اړخ کې ترهګر او یا هم د ترهګرو ملاتړی ګڼل کېده، خو چې تولې نړۍ ور سره ګډ ائتلاف وکړ دا له دې پلوه ګټوره ثابته شوه چې له طالبانو سره نه خوک ودرېدل او نه ودرول شول چې بیا اوس د طالبانو بری ورته منسوب شي، یا پر هغو د امریکا د فشار وسېله شي، یا طالبان پرې تکیه وکړي، یا یې له هغو پر بېلولو د دوی لېکې کمزوري شي او یا هم له اشغال ختمېدو او د خپلواکۍ ګټلو وروسته دلته له افغانانو پرته د نورو د لاسوهنې چانس پاتې شي.

په هېواد کې مو د تلپاتې ازادۍ او خپلواکۍ په هیله

# د اشغال دخاتمې تاريخي ټرون

## دافغان ملت ستره فتحه

دلوېې خوښې خبره ده چې د اوږد انتظار او دکابو یونیم کال اوږدو مذاکراتونه پس داپروسه کامیابه او په دوحه کې دملابرادر اوزلمي خلیلزاد ترمنځ دامریکایې اشغال دپای ته رسېدو سند لاسلیک شو.

دامریکا په نوم دنړۍ هغه لوی زبرځواک چې پرټولې سیمې ددایمې قبضې او دستوني نه دټولې سیمې د وسایلودتبرولو په موخه یې ۱۹ کاله وړاندې پرافغانستان یرغل کاوه ددې هېواد قانوني حاکمان طالبان یې یواځې ددې وړ بلل چې یا ووژل شي یا زندانیان شي .

که څه هم طالبانوامریکا ته دخبرو له لارې دمسئلې دحل دعوت ورکولو خو امریکا چې په خپل زور ډېره مغروره وه طالبان یې ددې وړنه بلل چې د دوه دقیقولپاره ورسره کېنې او دستونزې دحل لپاره ورسره دوه خبرې وکړي .

خو په تېر ۱۹ کلن عظیم جهاد کې دافغانانو دخورا سترو قربانیو په برکت چې اشغالګر بهرني ځواکونه او دهغوئ غلامان دشرم نه ډک شکست سره مخامخ شول نوهماغې مغرورې امریکا دطالب دروازه وټکوله اودوتلو لپاره دمصئونې لارې دمندلو په موخه یې ورنه دمذاکراتو خواست وکړ چې له نېکه مرغه اسلامي امارت یې غوښتنې ته مثبت ځواب وویلو. بې له شکه چې داد قابضوقوتونو پر ضد په رون جنګ کې داسلامي امارت دبریالیتوب ډېرلوی دلیل اودډېرې سترې خوښې خبره وه.

امریکا فکرکاوه چې دمذاکراتو په ډګر کې به پرطالبانو برلاسي وي ؛ ډېر ژر به طالبان له خپلو

غوښتنو ټپر او د امریکا غوښتنو ته به سرټیټ کړي خو ددوئ دزعم برعکس طالبان دجنګ د ډګر په څپر دلته هم په خپلو غوښتنو کلک او له خپلو عالي اهدافونه ،نه ټپرېدونکي ثابت شول چې له امله یې دا مذاکرات ډېر اوږده شول ؛ کابویونیم کال یې ونیولو چې لله الحمد داسلامي امارت ټولې عمده غوښتنې پکې ومنل شوې او د روان ۲۰۲۰م کال دفروري په ۲۹ مې نېټې دبهرني اشغال دپای ته رسېدو ترون لاسلیک شو چې دا زموږ لپاره بیا هغه فتحه ده چې په تاریخ کې به چا دامریکا په مقابل کې دومره ستره فتحه نه وي ترلاسه کړې .

موږ پوه یوچې رانصیب شوی دا ستره فتحه په نظامي ډګر کې دستړي فتحې نتیجه ده

زموږ اصل فتحه د نظامي ډګر فتحه ده چې په ۱۹ کلن جهاد کې دسترو قربانیو په برکت الله تعالی رانصیب کړې .

زموږ مادي طاقت اوحربي وسایل هیڅ ددې وړ ندي چې د امریکا په مشرۍ کې ۴۸غربي هېوادونو نه جوړ د انساني تاریخ د ترټولو سترجنګي اتحاد سره دپرتلې وړ ندی ؛زموږ داعقیده او ایمان دی چې دښمن ته موږ نه بلکې زموږ رب شکست ورکړ چې موږ دخپل رب ددې ستر نعمت دشکر اداکولو نه قاصریو اوپدې خوښ یوچې دهرممبر ، دتشکرلپاره دجوړوشوېو غونډو دهر ستېج اوداسلامي امارت دهر مشر له لورې په ډېر تاکید خانونو ته دغټو نسبتونواوغرورنه دځان ساتلو توصې کېږي.

رښتیا داده چې دمادیاتو پدې دور کې چې مسلمانانو ته داسې مشران په نصیب شي چې سره له ټولو فشارونو دنړۍ ستر زبرځواک ته سرټیټ نکړي او په عالي اهدافو ورسره سودا ونکړي او پر امریکا خپلې غوښتنې مسلطې کړي دا دټولې اسلامي نړۍ لپاره د ډېرې سترې خوښۍ خبره ده.

داسلامي نړۍ اوسني دضعف نه ډک حالت اوپراسلامي هېوادونو مسلطو اکثرونظامونو اوحاکمانو ته چې نظر وشي نوبې له شکه چې اسلامي امارت اوداسلامي امارت مشران په اوس وخت کې ډېر عظیم نعمت او ډېر زیات د ستایلو وړدي.

داسلامي نړۍ زیاتره حاکمان دخپل واک اوخپلو مادي ګټوبقا دامریکا په غلامۍ کې وینې نوځکه یې په ډېرې خوښۍ قبلوي اودهیڅ داسې عمل یا ویناتصور تړې نه کېږي چې د امریکا دنا رضایت سبب شي خو صدآفرین داسلامي امارت پرمجاهدینو او مشرانوچې

چې په ټپرو ۱۹ کلونو کې دجنګ ډګر کې دعام مجاهد نه نیولی تر امیر المؤمنین پورې یې دسرونو قربانئ ورکړې او ټولې اسلامي نړۍ ته یې ددې لوی بنامار نه نجات ورکړ. نوهمداسې داسلامي امارت مشرانو دمذاکراتو په ډګر کې هم دې ستر زبرځواک ته سر ټیټ نکړ .

مذاکراتو پوره یونیم کال ونیولو امریکادلته هم خپل ټول زور وکاراوه اوپدې ډګر کې یې هم دخپل هېواد دټولو نه دلوی استعداد لرونکي دیپلوماتان دطالب سره وجنګول خوطالب سرټیټ نکړ ؛ نه دخپلو عالي اهدافو اوعمده غوښتنونه تېر شو او نه یې دامریکا عمده غوښتنې ومنلې .

بالآخره امریکا مجبوره شوه چې دوتلوپاره دخوندې لارې دورکولوپه بدل کې داسلامي امارت سره داشغال دپای ته رسولو ټرون لاسلیک کړي چې داسلامي نړۍ دکمزورۍ ، مظلومیت او مغلوبیت نه ډک روان حالت کې دامریکا په مقابل کې دا دومره ستره فتحه دټولې نړۍ دمسلمانانو لپاره دخورا لوی ویاړ او خوښۍ خبره ده .

دا سمه ده چې د اسلامي امارت مشران دنړۍ دسیاسي عیارۍ ، مکارۍ اوفرېبکارۍ سره بلدتیا نه لري خو الله تعالی ورته لوی فراصت ورکړی چې دهمدې فراصت په برکت یې هرغښی رسالګي .

نورمورې ددې مشرانو په هکله دا نه وایو چې ګینې دوئ علم غیب لري او دټرون د راټلونکو ټولو نتایجونه خبر اوپدې پوه دي چې راټلونکي کې به څه پېښېږي .

بلکه دا وایو چې دنظامي ډګر ترڅنګ دې مشرانو د دیپلوماسۍ ډګر کې هم خپل ټول بشري توان صرف کړیدی او دخپلې غلبې لپاره چې ټرې څه کېدای شول هغه یې کړیدي نور نو نتایج ددې مشرانو نه بلکې دالله تعالی په لاس کې دي زمورې امېد دی چې د ټولو مسلمانانو ددعاګانو په برکت به پرې الله تعالی ښه نتایج مرتب کړي ؛ اشغال به پای ته ورسېږي او دلته به یوه سپېڅلی اسلامي نظام قائم شي .

# په جهاد کې زمور اخلاق

ليکوال: محمود

## د اللّه تعالی په نصرت باور لرل

په هره زمانه کې الله تعالی خلکو ته په زړونو کې يقين راګرځوي ترڅو په امت کې داسې خلک را پيداکړي چې د خير په کار کې وراندې کيدونکي وي او د زحمتونو هيڅ پروا نه ونلري، خلک له هغوی څخه پند اخلي لکه: پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايي: «في كل قرن من أمتي سابقون» په هره پيړۍ کې زما له امت څخه (قرباني) ته وراندې کيدونکي خلک وي. دغه راز الله تعالی ځيني خلک ګماري چې خلکو ته د دين مفاهيم په سالمه توګه ورسوي او د هدايت لور ته يې سوق کړي او ددين کار بيا تجديد او تازه کړي ، رسول الله صلی الله عليه وسلم دداسې خلکو زيری ورکوي، فرمايي: «إِنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ لِهَذِهِ الْأُمَّةِ عَلَى رَأْسِ كُلِّ مِائَةِ سَنَةٍ مَنْ يُجَدِّدُ لَهَا دِينَهَا» سنن أبي داود (4/ 109) الله تعالی دې امت ته په هرو سلو کالو کې داسې څوک ليږي چې امت ته دين بيا تازه کړي. يا به پراخي او اميدونه د سباقينو په خواريو سره راځي، يا به دا مجددينو (دين تازه کوونکو) په لاس وي خو مصيب دائم نه وي.

د اسلام ټول دښمنان د الله تعالی لخوا د ذلت په کړۍ کې راګير دي، کوم چې له هغه سره په جنګ کې واقع دي او هغه څوک چې الله تعالی لخوا ورسره جنګ دی، هغه نه هيڅ دار نشته او نه ناهيلي پکار ده چې د هغه پاچايي به دوامداره وي، څنګه چې حديث قدسي کې راځي : «مَن عادى لي وليًّا فقد آذنتُه بالحرب» (صحيح البخاري) چا چې زما دوست سره دښمني وکړه ما له هغه سره د جنګ اعلان وکړ.

نو موږ به په مصيبتونو د صبر وصيت کوو او که څه پېښيږي په هغې به ثابت قدمت اوسو، د خير په کار کې به خلکو ته زيری ورکوونکي او د شرارتونو نه يادوونکي جوړ شو او بد پال کوونکو ته به له دې انتظار وروسته هغسې ووايو کوم چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم صحابه وته چې کله هغوی له مصيبتونو او زحمتونو ډېر فرياد کاوه وفرمايل: «واللهِ ليُتِمَّنَّ الله هذا الأمر .. ولكنكم تستعجلون». په الله تعالی قسم چې خامخا به الله تعالی دا کار پوره کوي، خو تاسې ورخطايي کوئ!

يقيناً کوم باور چې الله تعالی يې په بندګانو کې د خپل ځان په اړه غواړي، د موسی عليه السلام د مور لخوا عملي بنکاره و، کله چې الله جل جلاله د هغې په اړه فرمايي: {فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَأَلْقِيهِ فِي الْيَمِّ وَلَا تَخَافِي وَلَا تَحْزَنِي ...} [القصص: 7] او کله چې ستا سره د هغه د سر خطر وي، نو هغه په سيند کې وغورځوه او هيڅ وېره او اندېښنه مه کوه.

همغه و چې موسی عليه السلام يې په سيند کې وغورځاوه او هغه پرې ونه وويرېده او نه پرې خفه شوه، سره له دې چې عادةً دغسې سيند د تيخور ماشوم لپاره خومره خطرناک وي ، خو الله تعالی هغه

ته نجات لیکلی و، فرعون ته ترلاسه کړ، موسی علیه السلام د فرعون په قصر کې په خپل کفالت ونه وړاړ شو ځکه رضیع ماشوم طبعاً خپل تربیه کوونکي ځخه نه ویریږي، مګر د فرعون هلاکت دده په لاسو و. همدغسې الله تعالی خپل عجائب په دنیا کې خلکو ته ښیي!

پیغمبر صلی الله علیه وسلم درې ډوله خلک یاد کړي چې دوی کې خیر نشته : «ثلاثة لا تسأل عنهم ... ورجل في شك من أمر الله، والقنوط من رحمة الله» دریو کسانو په اړه پوښتنه مه کوئ ... او هغه سړی چې د الله تعالی په قدرتونو کې شک کوي او د هغه له رحمت ځخه ناهیلي وي. له همدې وجې کوم ملت چې شک پکې ریښې لري او نا امیدي یې په وجود کې نغښتې وي، د خیر هیله یې نشته ترڅو د الله تعالی په نصرت ورته پوره باور او یقین نه وي پیدا شوی.

په قدر ایمان لرل چې عاقبت (وروستی نتیجه) به د مؤمنانو وي، دا د باور درلودلو ځخه سرچینه اخلي، نبي علیه السلام فرمایي : «إن لكل شيء حقيقة، وما بلغ عبد حقيقة الإيمان، حتى يعلم أن ما أصابه لم يكن ليخطئه، وما أخطأه لم يكن ليصيبه» یقینا د هرڅه لپاره یو حقیقت وي، او بنده دایمان په حقیقت هله وپوهیږي چې کوم ځه هغه وکړل ، له دې وجې نه و چې خطا کړی شي. او نه چې په کومو کې خطا شوی، هغه ددې له امله و چې دی پکې واقع کړل شي.

د الله تعالی د وعدې تاخیر خبره نه ده- حاشا لله- ، نه! بلکې مسئله یواځې د پښې دتاکلي وخت، محدودې نیټې ده چې نه هغه د وارخطا په ورخطائی مخکې کیږي او نه د لټ په سستی. او غوښتنو به وروسته شي. له همدې امله خو به عمر بن عبدالعزیز رحمه الله دا دعا ډېره کوله: (اللهم رضّني بقضائك، وبارك لي في قدرك، حتى لا أحب تعجيل شيء أخرته، ولا تأخير شيء عجلته). [تهذيب مدارج السالكين: ص٣٨٠]. یا الله ما په خپلې فیصلې خوښ وګرځوه او ماته په خپل لیکلي تقدیر کې برکت واچوه، ترڅو هغه شی چې تا وروسته کړي زه پکې تلوار خوښ نه کړم او چې ځه تا مخکې کړی وي پکې تاخیر خوښ نه کړم. همدغه ډول طبعیت خپلولو سره ظاهري ورخطائي له منځه ځي او زړه پدې مطمئن ګرځي چې عاقبت د پرهیزګارو لپاره ده.

که خامخا امت د ضعف په حالت کې خپلې شیبې تیروي، مګر موږ دا نه هیروو چې دا د الله تعالی لیکلی تقدیر ده، هغه رب چې د لوټ شوي عزت په اعاده کولو او د ملت ځخه اخیستل شوي مشري او سیادت په راګرځولو قادر ده، مګر انسان کله د زورټیا او کله دلوړټیا په حالت کې وي، ځنګه چې حدیث کې راځي: «مَثَل المؤمن مَثَل السنبلة؛ تميل أحيانًا وتقوم أحيانًا» د مؤمن مثال د (غنمو) وړي په ځېر دی چې کله زړوند وي او کله ولاړ. په هرصورت مهمه داده چې یوه ورځ سیده ودریږي، (همدا فطري سنت دي) دغه ورځ به خامخا راځي، شک پکې نشته، کله چې اسباب مهیا شي.

په ملتونو کې د الله تعالی همدغه راز تګلاره ده، ځنګه چې حدیث کې راځي: «عُرضت عليَّ الأمم، فرأيت النبي ومعه الرهيط، والنبيُّ ومعه الرجل

والرجلان، والنبي ليس معه أحد ...» (صحيح مسلم)
ټول امتونه راته وړاندې شول ، نو ما نبي ولیدل ، هغه سره ګروپ وه، او یو نبي مې ولیدل، یو یا دوه سړي ورسره و، او یو نبي داسې و چې هیڅوک نه ورسره نه و، خو سره لدې دعوت جاري دی او ترهغې به پاتې وي، که څومره هم پېرېو کې له ضعف سره مخ شي او پدې به هیڅ نبي ملامت نه کړای شي چې ولې له ده څخه چاته هم هدایت نه دی شوی، مګر پېغمبر په خپل دعوت کې خپل ټول توان مصرف کړی، څنګه چې یو مجاهد پدې څوک نه ملامتوي چې له اوږده مقاومت وروسته یې ولې جګړه نه ده ګټلې، مګر موږ به خلک د اسبابو په نه کارونه او پدغه لار کې د شته خواري په سپما ملامت کړي، که وروسته هرڅه پېښېدل ، هغه الله تعالی ژمنه کړې ، کله چې یې خوښه وي.

په هغه څه چې شهیدان ویرېدل چې په دنیا کې پاتې انسانان به د کمزورې باور په درلودلو سره دوی جهاد پرېښودلو ته اړباسي او یا به دهغې له وجې دجهاد له ثمرې څخه ناهیلي وي، دوی خپل رب ته ویل: «مَن يبلِّغ إخواننا عنَّا أنَّا أحياء في الجنة نُرزق؛ لئلا يزهدوا في الجهاد، ولا ينكُلوا عند الحرب، فقال الله سبحانه: أنا أبلغهم عنكم ...» څوک به زموږ لخوا (خلکو) ته دا ورسوي چې موږ ژوندي یو او په جنت کې رزق خورو، هسې نه چې جهاد پرېږدي او جګړې څخه مخ ونه ګرځوي، نو الله تعالی ورته وویل: زه به ستاسې خبره ترهغوی ورسوم.

نور باید شپه سبا شي او ګند،خاشاک باید له مخې صفا شي، خامخا به خلک نورو ته دګټې رسولو لپاره په دنیا کې پاتې کېږي، او د الله تقدیر به ځمکه کې جاري وي، چې عاقبت یواځې د متقیانو لپاره ده.

**ددې فصل لنډیز او زرینې کرښې:**

- ❖ د یقین خاوند تل په الله تعالی باور لري، که هرڅومره دنیا وربانده تنګه شي.
- ❖ په صبر او یقین سره په دین کې د (امامت) لاربښودنې مقام حاصلېږي.
- ❖ یقین هغه بهترین څیز دی که په چا کې موجود وي ټول امت ورسره رغېږي.
- ❖ همیشه الله تعالی ددې دین لپاره نوي خلک راټوکوي، مستقبل به یې روښانه او په خیر وي.

**د اللّه تعالی لخوا د نصرت زیري:**

- ○ ددې امت واک به شرق او غرب ته ورسي.
- ○ اسلام لوړېږي او څوک وربانده لوړېدای نشي، زیاتېږي به او شرک به کمېږي.
- ○ د مسلمانانو د واک، حاکمیت ژمنه شوې او دین به همیشه لپآره قائم وي.
- ○ الله تعالی به ددې امت نصرت په کمزورو سره کوي، ځینې به لوړوي او ځینې به غورځوي.
- ○ په هره پېړۍ کې سباقین (قربانی ته وړاندې کیدونکي) مجددین (دین تازه کوونکي) وي، او الله تعالی خپل دښمن سره د جنګ اعلان کړی.
- ○ نصرت راتلونکی دی، خو خلک ورخطائي یا شکایت کوي ځکه په تقدیر یې ایمان کمزوری وي.
- ○ وعده به پوره کېږي خو الله تعالی د هغې لپاره خپل وخت ټاکلی.
- ○ که دله دې کمه وي، څه باک نشته، مګر د اسبابو نه کارونه او نیمګړتیا ملامتیا ده.

# د اسلام غزوات او سرایا

## تبوک غزوه

په تیر پسې

ابوظهیر

کله چې صحابه وو ځانونه مجهزکړل او دتلو لپاره تیار شول، رسول الله صلی الله علیه وسلم «محمد بن مسلمه رضی الله عنه»له ځان وروسته په مدینه منوره کې خپل قایم مقام او والي مقرر کړ،او « علي رضی الله عنه» یې دخپل اهل وعیال او کورنۍ دسرپرست اوخبراخیستونکي په توګه وګومارە،چې په اړه یې علي رضی الله عنه عرض وکړ:

یارسول الله !ایا ما په ماشومانو اومیرمنوکې پریږدي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

ایا ته! پردې راضي نه یې، چې ماسره هغسې نسبت ولري لکه هارون (علیه السلام) چې دموسي (علیه السلام) سره لاړه، لیکن له ما وروسته بل نبي نه راځي( بخاري)

شیعه ګان د همدې حدیث نه په استدلال « علي رضی الله عنه بلافصل خلیفه» مني، او دعوه لري چې درسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته هغه دخلافت حقدار و،اهل سنت والجماعت وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم تبوک ته دتلوپر مهال رسول الله صلی الله علیه وسلم دخپلې کورنۍ او اهل وعیال دخبراخیستو اوسرپرستۍ لپاره پرې اېښی و، چې له دې نه بیشکه د علي رضی الله عنه دیانت، امانت، قرب او خصوصیت معلومیږي، ولې عموماً هغه ځوک دخپل کورسرپرست اود اهل وعیال نګران ګومارلی شي چې دهغه په امانت داری، دیانت داری ، محبت او اخلاص باور ولري، په دې لړکې دځوی یا زوم مقررولوته ترجیح ورکول کېږي، او هرچې داخبره چې ته به له ماورروسته خلیفه هم یې! له حدیث نه یې ثبوت نه راځي

بل داچې دعلي رضی الله مقرورل یواځي تر اهل وعیال محدودو، زکه رسول الله صلی الله علیه وسلم تبوک ته دروانیدوپه مهال محمد بن مسلمه رضی الله عنه دمدیني منوري د والي په حیث مقررکړ،او «سباع بن عرفطه» یې دمدیني دامنیتي مسؤل په توګه وګومارە او حضرت عبد الله بن ام مکتوم یې دخپل مسجد امام تعین کړ،معلومه شوه چې دعلي رضی الله عنه خلافت یا نیابت مطلق نه و، بلکې یواځي تراهل وعیال پورې محدود و

ثقه اوبا اعتماده سيرت ليکونکی اومشهور محدث مولانا محمد ادريس کانـدهلوي ليکي:کـه بـالفرض مطلـق هـم و، نـو دغـزوي څخـه تر راتلوپوري و، لکه يوپاچا چې کله په سفر درومي هغـه خامخـا يـو بـل تـن دخپل سلطنت لپاره دخپل نايب يا مرستيال په حيث مقرروي، چې دهغـه تن مرستيالي يا نيابت دپاچا په بيرته راتلوسره پخپله پای تـه رسي ،ديتـه وختي او مؤقته نيابت ويل کېږي، خو دامؤقـت نيابـت ددې خـبرې دليـل نشي کيدای چې دپاچا دوفات وروسته بـه هـم هغـه شـخص دپاچـا خليفـه ګرځي، البته ددغه مؤقتې دورې دنيابت لپاره دهغه نايب شخص اهليـت اولياقت ښکاره کېږي، چې له دې نه انکار نشي کيدای چې پـه عـلي رضـی الله عنه کې دخلافت دچارو اهليت او لياقـت موجـود و او اهـل سـنت پـه دې اړه دزړه نه قايل اوپـرې اعـتراف لـرې خـو پـه دې سره دنـورو خلفـاوو دلياقت او اهليت نه هم انکار نه شي کيدای څکه هغـوی کـمال اولياقـت له نورو احاديثو نه لکه دلمرپشان روښانه ثابت دی.

نو هرکله چې پاچا دخپلې پلازمينې څخـه دوتلوپـه مهـال دبيرتـه را ستنيدوپورې يوتن دخپل معاون په توګه غوره کوي، داددې دليل ندی چې دپاچا دوفات وروسته به هـم هغـه تـن پاچـاغوره کـېږي، اوکـوم نيابـت يـا خلافت چې يواځې دکورنيو امورو او داهـل وعيـال دسرپرسـتی پـه اړه وي نوهغه دکبری خلافت لپاره دليل ګرځول دعوه بلا دليل ده

درسول الله صلی الله عليـه وسلم مبـارک عـادت داو چـې کلـه بـه کومې غزا ته، روانيده، نو يوتن به يې په مدينه منوره کې خپـل قـايم مقـام او نايب پريښود کله به چې دسفرنه راستون شو نو دنايب شخص د نيابـت دوره به پخپله پای ته رسيده، دهيڅ يوفرد په خيال او ګومان کې هم دا نـه تيريده چې مؤقت خلافت يـا عارضـی نيابـت بـه يـې دکـبری خلافـت يـا دکبری امامت دليل ګڼه پاتـه شـوه داخـبره چـې پـه پـورتني حـديث کـې رسول الله صلی الله عليه وسلم دعلي رضی الله عنه تشـبيه دهـارون عليـه السلام سره ورکړي، بيشکه دايو دول فضيلت دی ،خـو ددې تشـبيه نـه پـه تولوامورو کې مساوات فهمول لازم ندی، په دې حديث کې که دعلي رضی اللـه عنـه تشـبيه دهـارون عليـه السـلام سره راغلـې، اوکلـه چـې دبدرپـه قيديانوپه باره کې رسول الله صلی الله عليه وسلم له صحابه وو سره مشوره وکړه نو هغه مهال رسول الله صلی لله عليه وسلم دابـوبکر صـديق ر ضـی الله عنه تشبيه دحضرت ابـراهيم او حضرت عيسـی عليهما السلام سره ورکړه، او دعمررضی الله تشبيه يې دحضرت نوح عليه السلام سره ورکړې وه اوښکاره ده چې دنـوح عليـه السـلام سره او دموسـی عليـه السـلام سره تشبيه ورکول په منزلـه کـې د « انـت منی بمنزلة هارون مـن موسـی» ويلـو څخه ډيره لويه او غوره ده

غـرض داچې رسـول اللـه صـلی اللـه عليـه وسـلم سره د ديـرش زره مجاهدينو سره يوځای دمدينې منورې څخه ووت،په ديرش زره کـې لـس زره سپاره ورسره وو( زرقاني شرح مواهب، عيون الاثر۲ټوک ۲۱٦مخ)

لاره کـې پـر هغـه عـبرت نـاک ځای ټيرشول چيرته چې په ثمـود قـوم دالله تعـالی لخـوا عـذاب راغلـی و، رسول الله صلی الله عليـه وسلم چـې څه مهال له هغه ځايه تيريـده دومـره متاثر شو چې پر مخ مبارک يې درخت ټوټه واچوله او خپله اوسې ته يې منډه ورکړه او هم يـې صـحابه وو تـه تاکيـد وکړچې: پـام! هـيڅ يـو ددې ظالمـانو کورونوته ننه نـوزي، او نـه ددې ځـای اوبه څکي، او نه په اوبـو اودس وکـړي او سرونـه ښـکته کـړئ لـه دې ځايـه تيرشئ

اوکومو خلکوچې په نـاخبری او ناپوهی کې اوبه اخيستې وې، يا يې په هغو اوبو اوړه اغړلې وو، هغوی تـه يـې حکـم وکړچـې هغـه اوبـه واړوئ اواوړه اوښـانوته ورکـړئ ( بخـاري شريـف کتاب الانبياء)

نوربيا...



# جنګي جنايتونه (فبروري)

د ۲۰۲۰ز، کال دفبروري دمياشتې په لومړۍ نيټه د فراه ښار د تجګ کلي کې ديرغلګرو په ډرون برید کې يو ۱۳ کلن ماشوم شهيد شوی دی.

د فبروري په لومړۍ نيټه دهلمند ولايت دګرشک ولسوالۍ د ښورکي په سيمه کې ديرغلګرو په ډرون حمله کې دوه ملکي وګړي شهيدان شوي دي.

د فبروري په لومړۍ نيټه د فراه ولايت دپشتکوه ولسوالۍ د لنګر په سيمه کې يرغلګرو او داخلي عسکرو دعملياتو په مهال دخلکو کورونه تلاشي کړي، قيمتي توکي يې ترې وړي، خلک يې وهلي، نقليه وسايط يې تخريب کړي او په سيمه کې يوه ديني مدرسه ( اصحاب صفه ) يې له درسي موادو او ديني کتابونو سره سوځولې ده.

د فبروري په ۲مه د کندز ولايت د ګل تيپې ولسوالۍ د باغ شرکت په سيمه کې ګډو ځواکونو د (BHC)موسيسې يو کلينيک او ورځپرمه ښوونځی او کورونه بمبار کړي، په دې بمبار کې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله او ښتې ده، خو کره شمېر يې جوت شوی نه دی.

د فبروري په ۲مه د ارزګان ولايت مرکز ترينکوټ اړوند ده جوز سيمه کې ګډو ځواکونو بمبار کړی، په دغه بمبار کې د ښځو او ماشومانو په ګډون دوولس تنه ملکي هيوادوال شهيدان او ټپيان شوي او دخلکو کورونو ته زيان او ښتی دی.

د فبروري په ۵مه د کندز ولايت د خان اباد ولسوالۍ په محفلي تره خيل سيمه کې يرغلګرو پر يوه مدرسه( تحسين القران) ډرون حمله کړې چې له املې يې د مدرسې درسګاه ويجاړه شوې او درې تنه طالب العلمان شهيدان شوي دي.

د فبروري په ۵مه دفاريا‌ب ولايت د شيرين تګاب ولسوالۍ د کوه صياد سيمې اوسيدونکی

(زيـن الـله دغـلام سـخي زوی ) د اربکـي قومنـدان غلام سخي له لوري شهيد شوی دی.

د فـبروي بـه ۵مـه دبـادغيس ولايـت دمقـر ولسوالی د نورخيلو په سيمه کې حکـومتي عسـکرو يو ماشوم شهيد کړی او شپارس تنه ملکي وګړي يې بنديان کړي دي.

د فبروري په ۵مه دهلمند ولايت دسنګين ولسوالی د سره بند په سيمه کې د يرغلګرو پـه ډرون حملـه کې دوه تنه ولسي وګړي شهيدان شوي دي.

د فبروري په ۵مه دهلمنـد ولايـت دګرشـک ولسـوالی د قلعـه ګـز د دښـت پـه سـيمه کـې داشغالګرو په ډرون بريدکې يو ملکي وګړی شهيد شوی دی.

د فـبروري پـه ۵مـه د بلـخ ولايـت د چـاهي ولسوالی مرکزتـه څېرمـه داخـلي عسـکرو يـو ملکـي وګړی( محمدګل) شهيد کړی دی.

د فبروري په ٦مه دفاريـاب ولايـت دقيصـار ولسوالی دبښ کپه په سيمه کې يرغلګرو دملکي خلکوپر کورونـو بمبـار کـړی چې لـه املـه يې يـوه ميـرمن او درې ماشـومان شـهيدان شـوي او دوه کوچينان ټپيان شوي دي.

دفـبروري پـه ٦مـه دهلمنـد ولايـت ددېشـو ولسوالی د رباط په سيمه کې ګډو ځواکونو دچاپې په مهال دوه کليوال شهيدان کړي او ځلور نـور يـې بنديان کړي دي.

دفـبروري پـه ٦مـه دهلمنـد ولايـت د ديشـو ولسـوالی دربـاط پـه سـيمه کـې يرغلګـرو دملکـي خلکـو پـر دوو مـوټرو ډرون حملـې کـړې، پـه دې بريدونو کې دواړه موټر له منځه تللي او پکې سپاره ۱۰ تنه ملکي وګړي شهيدان شوي دي.

د فبرور ي په ۷مه دبادغيس ولايـت د سـنګ آتـش ولسـوالی پـه محمـدزو کـلي کـې کمانـډويې عسـکرو دچـاپې پـه مهـال درې تنـه ملکـي وګـړي شهيدان کړي او دوه تنه يې ژوبل کړي دي.

د فبروري پـه ۷مـه د پکتيـا ولايـت د زرمـت ولسوالی په سهاکو سيمه کې يرغلګرو او حکومتي ځواکونو چاپه وهلې، د کورونو دروازې يې په بمونـو الوزولې،خلک يې وهلې، شتمنی يې لـوټ کـړي او دکلي د ملا امام په ګډون يې درې تنه ولسي وګړي شهيدان کړي دي.

د فـبروري پـه ۸م د ميـدان وردګ ولايـت د جلګې ولسوالی په حکيم خيلو کلي کې د يرغلکرو په ډرون بريد کې درې تنه محصلين( محمد خالد، مسيح الله او وحيدالله) شهيدان شوي او يو بل تـن ژوبل شوی دی.

د فـبروري پـه ۸مـه د پکتيـا ولايـت د مرکـز اړوند چونې سيمه کې د يرغلګـرو پـه ډرون حملـه کې د يو ماشومان په شمول درې تنه ولسي وګـړي شهيدان شوي دي.

د فـبروري پـه ۸مـه د بـادغيس ولايـت د بالامرغاب ولسوالی په غورتو سيمه کې يرغلګرو د حاجي عبدالسلام اکـا پـر مسـجد ډرون بريـد کـړی چې له املـه يې مسجد ويجـار شـوی، اووه تنـه زده کونکي او لمونځ کونکي پکې شهيدان او ځلـور تنـه ټپيان شوي دي.

دفبروري پـه ۸مـه د زابـل ولايـت دارغنـداب ولسوالی په سردره کلي کې ديرغلګرو په بمبار کې دوه تنـه ملکـي وګړي(ډاکټـر عتيـق الـله اوموسـی خان) شهيدان شوي دي.

د فبروري په ۸مه دهلمند ولایت دواشیر ولسوالۍ په لر سیمه کې دیرغلګرو په ډرون برید کې دوه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

د فبروري په ۸مه د بلخ ولایت د چمتال ولسوالۍ قلعه رضاق سیمې ته ځېرمه اشغالګرو پر یو کور ډرون برید کړی، چې له امله یې دوه تنه ولسي وګړي شهیدان شوي او یو بل تن زخمي شوی دی.

د فبروري په ۹مه د تخار ولایت د دشت قلعه ولسوالۍ په مربوطاتو کې حکومتي عسکرو پر عامو خلکو ډزې کړې چې له امله یې دوې میرمنې او درې نارینه شهیدان شوي دي.

د فبروري په ۱۰مه د فراه ولایت دمرکز اړوند د غلامان دښت کې یرغلګرو د ملکي خلکو پر یو موټر ډرون برید کړی، په دې برید کې په موټر کې سپاره شپږ تنه ملکي وګړي چې په ښکار پسې وتلي وو، شهیدان شوي دي. همداراز دفراه ښار د کاریز شیخان په سیمه کې هم دیرغلګرو په ډرون حمله کې د ملکي خلکو موټر په نښه شوی او پکې سپاره پنځه تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

دفبروري په ۱۴مه د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالۍ په ککړک سیمه کې یرغلګرو د ملکي وګړو په یو ډادسن او سراچه موټر و هوایي برید کړی،په دې برید کې په دواړو موټرو کې سپاره یوولس تنه ملکي هیوادوال شهیدان شو ي دي.

د فبروری په ۱۵مه د پکتیکا ولایت د برمل ولسوالۍ په نوې اډه سیمه کې حکومتي عسکرو یو موټر چلونکی شهید کړی دی.

د فبروري په ۱۶دفاریاب ولایت د قیصار ولسوالۍ په مرکز ي سیمه کې داخلي عسکرو درې تنه ملکي وګړي شهیدان او ټپیان کړي دي.

د فبروري په ۱۶مه د واشیر ولسوالۍ په سنګیلان سیمه کې حکومتي عسکرو پر یو کور دچاپې په مهال یو ملکي وګړی شهید، بل ټپي او دوه کسان بندیان کړي دي.

دفبروري په ۱۶مه دهلمند ولایت د سنګین ولسوالۍ د امان الله کاریز په سیمه کې داخلي عسکرو یو شپونکی شهید کړی دی.

د فبروري په ۱۷مه د هرات ولایت د رباط سنګي ولسوالۍ د اربې مانده سیمه کې یرغلګرو د ملکي خلکو دسپرلۍ موټر په نښه کړی، چې له امله یې درې ښځې، اووه ماشومان او دوه نارینه شهیدان شوي دي.

د فبروري په ۱۷مه د سرپل ولایت دصیاد ولسوالۍ په مرکزي سیمه کې دحکومتي عسکرو دهاوان په ډزو کې څلور تنه ملکي وګړي شهیدان او ټپیان شو ي دي.

د فبروري په ۱۸مه د لوګر ولایت د محمد اغې ولسوالۍ په سرخاب سیمه کې حکومتي عسکرو دوه ماشومان شهیدان کړي دي.

د فبروري په ۲۰مه اربکیانو د جوزجان ولایت په اقچې ولسوالۍ کې د حاجي خال مراد په نوم یو قومي مشر او یو بل ملکي وګړی شهیدان کړي دي.

د فبروري په ۲۰مه د کاپیساولایت د نجراب ولسوالۍ په غوڅلان سیمه کې د ګډو ځواکونو په بمبار کې شپږ تنه ملکي وګړي شهیدان او ټپیان شوي او خلکو ته مالي تاوانونه رسیدلي دي.

مأخذونه :[بي بي سي راډيو، ازادي ،افغان اسلامي اژانس، پژواک = ،ټول افغان ويبپانه، لراوبر= ،نن ټکی اسيا=او بينوا=]

# غزل

مهاجر

## فاتحې وړمې

ثناءالله معصوم

تکـــه ســـپينه ازادي ده ســـوله نـــه ده
نتيجـــه د قربـــاني ده ســـوله نـــه ده

دا د تللیـــــو ککريـــــو ثمـــــره ده
نښـــانه د خپلـــواکي ده ســـوله نـــه ده

هيـــواد والـــو داخـــبر پـــه غـــور واوريئ
داد کفـــر ناکـــامي ده ســـوله نـــه ده

زمـــوږ مـــراد خـــو ازادي وه ازادي شـــوه
د صـــليب نـــامرا دي ده ســـوله نـــه ده

ددنيـــا ټـــول عـــاقلان ښـــه پـــرې پـــوهيږي
د زور واکـــو تبـــاهي ده ســـوله نـــه ده

داد رب العـــالمين نصرـــت وو وشـــو
دازمـــوږ فتحـــه کاميـــابي ده ســـوله نـــه ده

مهـــاجره د غازيـــانو زور يـــې وليـــد
دايـــې هسي ســـوال زاري ده ســـوله نـــه ده

مـنزل تـه خـو نـژدې يـې چې کاروانـه درسـره وای
رهبـر لـه سـتورو مختـه تـر سـهاره درسـره وای

فـاتحې تـوتکی دې نـن نخيـرې پـه لمـن کـې
دزړه د کعبـې پيـر مـې چـې دَيـاره درسـره وای

فاتحې وړمې بيا د سباوون په څرک کې ښکاري
د رونـ سـهار پـه غيـږ کـې چـې ګلپامـه درسـره وای

کاروان نيمګړی نه دی خو نيمګړی راته ښکاري
کاروان به پرې کاروان و چې کاروانه درسره وای

دا سپين سالو مې ستا د توغ اثر دی پرسر کړی
ډاډه د سپوږمی غيـږه کـې چنـاره درسـره وای

درځم بـه د لـوګر تـر غيـږې ښـکليه غـنم رنګـه
معصومه چې په څنګ کې دې بيخاره درسره وای

# غزل

اکرام الدین مفتون

لښتر مې په سېلاب کې له سپین غره رابهېده
که نا ؟ زما په اوښکو کې بانه رابهېده

یو ځوان طالب ستایلې او غوښتلې شهادته
د خولې نه یې ګبین غوندې خواږه رابهېده

دې کوندې ناوې خپل شهید ارمان انځوراوه
په ګل ګل اننګیو یې رانجه رابهېده

اخر دغه ماشوم شهید په څه شي دهشتګر و؟
په شوندو یې هماغه شان شوده رابهېده

بمبار کې د شهیدې ادې سر ته یو بچی
په زوره زوره ، زوره ژړېده رابهېده

غرور ستاسې د پلار هم لکه ستاسې پښتاګان
یو وخت افغانستان کې سوزېده رابهېده

هېواده ستا نیول چې یې مغزو کې ګرځېدل
پرون یې همدې ترو کې ماغزه رابهېده

جانانه ستا د هجر په غرمو کې ستا یادونه
زما په تېرې زړه لکه اوبه رابهېده

د وخت تورو تیارو کې د یو رون سهار په هیله
مفتون لکه د شمعې بلېده رابهېده

# ازادي

حنظله میوندي

راستون مو سوله شکر تر درشله ازادي
تبریک شه هیوادوالو درته بله ازادي

شپونکي دغره لمن کې اوبلبل دبوراغېږ کې
په مستو اداګانو ولمانخله ازادي

په سوال او په زاریو راته چا نده راکړې
بدل کې د سرو مو وګټله ازادي

شهیده د احسان دې پوروړي یو ترمرګه
بس تا راوړه ولس ته ای اتله ازادي

لوی مُلاصاحبه! هافردوس جنت دې ځای شه
ستا فکر ستا همت مونږ ته راوړله ازادي

جانان مې حنظله میوندي!هم قلم راواخیست
د دوو زړونو په مبنځ کې ولیکله ازادي

# ۲۰۲۰ زکال

## د فروري د میاشتې جهادي خبرونه

# دعوت ارشاد

## قندوز بغلان تخار بدخشان بلخ سمنگان جوزجان بامیان پنجشیر

## سرپل فاریاب هرات بادغیس غور نیمروز

### بغلان

مرکز:۷ کارمند رژیم مزدور با مجاهدین پیوستند

هفت ۷ عسکر، پولیس و اربکی در مربوطات ولسوالی بغلان مرکزی ولایت بغلان با مجاهدین پیوستند وافراد متذکره پری رور دراثر تلاش های کمیسیون جلب وجذب امارت اسلامی ومجاهدین منطقه، صفوف دشمن را ترک گفته وبه مجاهدین پیوستند وشهرت مختصر آنان قرار ذیل میباشد:

۱: محمدطاهرولدعبدالدیان قریهسرک هشتم

۲: رامین ولدعین الدین قریه سرک شرکت وطیفه اردو

۳: زین الله ولدمحمدگل قریه شهرجدید گودای وظیفه اردو

۴: الله گل ولدقربان قریه عرب تیپه وظیفه اربکی

۵: رحمت الله ولدنورور قریه لقمان وظیفه پولیس

٦: سیدنجیب الله ولدسیدرسول قریه شهرجدید وظیفه پولیس

۷: عیسی خان ولد اسدالله قریه عربان وظیفه عسکر

همه آنان تعهد سپردند که هرگز به اداره دست نشانده کابل بر نمی گردند ومجاهدین ار آنان به گرمی استقبال کردند وبه زندگی عادی سوق داده شدند.۵/۲/۲۰۲۰

بهرین: ٤٨ عسکر وپولیس با مجاهدین پیوستند

چهل هشت ٤٨ عسکر، پولیس واربکی در ولسوالی نهرین ولایت بغلان با مجاهدین یکجا شدند و افراد متذکره دراثر تلاش های کمیسیون جلب وجذب امارت اسلامی ومجاهدین منطقه، صفوف دشمن را ترک گفته با مجاهدین پیوستند وشهرت آنان قرار ذیل میبا شد:

۱ جان آغا ولد نجابت خان ولسوالي نهرین باشنده قریه تلی مدرسه وطیفه عسکر

۲محیب الله ولد حبیب الله ولسوالي نهرین باشنده قریه تلی مدرسه وطیفه پولیس

۳عبدالشکور ولدمحمد گل ولسوالي نهرین باشنده قریه چپه وظیفه اربکی

۴ شیرآغا ولد عبدالجبار ولسوالي نهرین ولسوالي باشنده قریه خواجک وظیفه پولیس

۵محمد امین ولد غلام سخی ولسوالي نهرین باشنده قریه جویکنه وطیفه پولیس

٦قیوم خان ولد.رحیم بای ولسوالي نهرین باشنده قریه جویکنه وطیفه عسکر

۷ فیض الله عزیزالله ولسوالي نهرین باشنده قریه جویکنه وظیفه پولیس

۸ شیرین آغا ولد امیر گل ولسوالي نهرین باشنده قریه ترخیل وظیفه عسکر

۹ عبدالرحمان ولد محمد شاه ولسوالي نهرین باشنده قریه دهله وطیفه اربکی

۱۰ محمد یوسف ولد محمد اصف ولسوالي نهرین باشنده قریه تره خیل وظیفه عسکر

۱۱عبدالودود ولد عبدالغفار ولسوالي نهرین باشنده قریه قوزی پائین وظیفه اربکی

۱۲ نجیب الله ولد وریر احمد ولسوالي نهرین باشنده قریه نیازافغان وطیفه اربکی

۱۳ محمدعمر ولد محمد ظاهر ولسوالي نهرین باشنده قریه ده مرده دانده عسکر

۱۴ بریالي ولدمحمدآمین ولسوالي نهرین باشنده قریه تره خیل وظیفه عسکر

۱۵ میراخان ولد سرگل ولسوالي نهرین باشنده قریه تره خیل وظیفه عسکر

۱٦مطیع الله ولد ضابط ولسوالي نهرین باشنده قریه تره خیل وظیفه عسکر

۱۷امین ولد محمد آمین ولسوالي نهرین باشنده قریه تره خیل وظیفه عسکر

۱۸ عبدالبشیر ولد ضابط ولسوالي نهرین باشنده قریه تره خیل وظیفه عسکر

